# د پښتنو قبیلو شجرې

مؤلف م، ج "سیال" مومند

Ketabton.com

یونیورسټی بُک ایجنسی
خیبر بازار پېښور

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ځینو پښتنو قبایلو

## روایاتي نسبي شجرې

اود

# مغومینې او لنډ تاریخ

مؤلف:

م، ج «سیال» مومند

۱۹۸۶ع / ۱۳۶۵ هـ ش

خورونکی:

یونیورسټي بک ایجنسي پېښور

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب پېژندنه

دکتاب نوم : دپښتنو قبیلو شجرې

مؤلف : م،ج «سیال» مومند

دچاپ کال : ۱۹۸۸ع - ۱۳۶۷هـ.ش

دچاپ شمېر : ۱۰۰۰ زرټوکه

بیه : ۸۰/- کلدارې

خطاط : خان بهادر «سُرکچوال»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# «انتساب»

د خپل شهید تره خان جانخان کاکا ۱۹۱۴ع کال او د بل تره شهید عمرخان کاکا ۱۹۳۳ع کال او د خپل شهید پلار حاجي میا جان خان، د ځناورچیني د سرفاتح ۱۹۳۵ع کال، او د خپل ګران شهید زوی محمدطاهرخان ۱۳۵۸هـ.ش جوزا په درنوا وننګیالو نوموړنو.

# «اهداء»

د خپل مجاهد او غازي ورور محمد جعفرخان حضور، ته چې د ځناورچیني په جنګ کښې یې د کائډ پلټنې ته ماتې ورکړې وه، ۱۹۳۵ع کال، چې د دغه انګریز فوځ مشرجنرال عملتن ؤ.

م، ج "بسیال" مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| تقريظ | ۱ |
| سريزه | ۳ |
| د کتاب مأخذونه | ۵ |
| قيس عبدالرشيد | ۶ |
| قيس عبدالرشيد شجره | ۹ |
| د سړبن او شرخبون شجره | ۱۰ |
| شيراني بن شرخبون شجره | ۱۲ |
| بارکزي شجره | ۱۷ |
| محمد زمانخان رئيس هرات شجره | ۱۹ |
| د بارکزو دويمه حکمرانه کورنۍ | ۲۲ |
| مياني بن شرخبون شجره | ۲۳ |
| اورمړ بن شرخبون شجره | ۲۴ |
| ترين | ۲۵ |
| ابداليان | ۲۵ |
| بړېڅ | ۳۳ |
| اورمړ | ۳۴ |
| د خرشبون شجره | ۳۵ |
| د مند شجره | ۳۷ |
| داکو بن يوسف شجره | ۳۹ |
| سړبني قبايل | ۴۲ |
| کشران زي شجره | ۴۳ |
| مشران زي شجره | ۴۴ |
| اتمان شجره | ۴۵ |
| ذري زي | ۵۰ |
| خدر خيل | ۵۱ |
| رخړ | ۵۲ |
| خاتون خيل | ۵۳ |
| اکوخيل | ۵۴ |
| ماموزي | ۵۶ |
| سړبني قبايل؛ غوري شجره | ۵۷ |

| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| کوکوبن مومند شجره | ۵۹ | کاکړ (شجره) | ۱۱۱ |
| کسی بن شرخبون بن سړبن شجره | ۶۵ | پنړی | ۱۱۵ |
| د خاښی خېلو او غوریاخېلو تعلقات | ۸۱ | د کدرون نسب نامه | ۱۱۶ |
| یوسفزي | ۸۵ | بېټني قبایل - بېټ نیکه شجره | ۱۲۰ |
| دیر | ۹۰ | متوزي قبایل | ۱۲۴ |
| مندړ او د هغوی څانګې | ۹۵ | د بي بي متو او شاه حسین اولاده | ۱۲۵ |
| رخړ | ۹۶ | حاجي میرخان (میرویس نیکه) | ۱۲۸ |
| ترکاڼي | ۹۷ | غلجي قبایل : برهان اولاده | ۱۳۱ |
| باجوړ | ۹۷ | علي خېل شجره | ۱۳۳ |
| ګیګیاڼي | ۹۹ | مندوزي // | ۱۳۵ |
| غوریاخېل | ۹۹ | اندړ // | ۱۳۶ |
| داؤدزی - خلیل | ۱۰۱ | ترکی // | ۱۳۹ |
| څوکنی | ۱۰۲ | لودي قبایل : ابراهیم لودی | ۱۴۲ |
| زېړانی | ۱۰۲ | میان خېل - دولت خېل شجره | ۱۴۹ |
| د خمند اولاد | ۱۰۴ | مروت شجره | ۱۵۱ |
| کسی | ۱۰۶ | موسی خېل شجره | ۱۵۴ |
| غوړغشتي قبایل | ۱۰۸ | سور | ۱۵۵ |
| د غوړغشت نسب نامه | ۱۰۹ | شېرشاه سوری (فرید خان) | ۱۵۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| نیازي | ۱۵۸ | معریزخېل - ملک زي | ۱۸۶ |
| سرواڼي | ۱۶۰ | منکوخېل - خان خېل | ۱۸۷ |
| غلجي او لودي پښتانه قبایل | ۱۶۴ | د مروتو په علاقه کې نور قامونه: | ۱۸۷ |
| مترکي | ۱۶۶ | د شیخ شاه روحاني اولاد | ۱۸۷ |
| خدرزي | ۱۶۷ | میچن خېل، عیسی خېل - مشواڼي | ۱۸۸ |
| ناصر | ۱۶۸ | سرواڼي | ۱۹۰ |
| خروټي | ۱۷۰ | کرلاڼي قبایل: کرلاڼي شجره | ۱۹۲ |
| زېرماني - خدوزي | ۱۷۴ | اپریدي «شجره» | ۱۹۶ |
| لودي قبایل | ۱۷۶ | ځدران 〃 | ۱۹۹ |
| د وتاڼي | ۱۷۷ | خټک 〃 | ۲۰۱ |
| پرنګي قبیله | ۱۷۷ | د چنجو 〃 | ۲۰۴ |
| لواڼي - دولت خېل | ۱۷۸ | خټک - بولاق 〃 | ۲۰۵ |
| د میاخېلو ټانګه | ۱۸۰ | اتمانخېل 〃 | ۲۰۸ |
| تنور - نیازیان | ۱۸۱ | خوګیاڼي | ۲۱۲ |
| د وتاڼي | ۱۸۲ | «وزیر» مسعود | ۲۱۳ |
| خېسوري - بېلیچ یا یلیچ | ۱۸۳ | «وزیر» احمدزي | ۲۲۵ |
| مروت | ۱۸۳ | مسعود | ۲۲۸ |
| ملاخېل | ۱۸۶ | شیتک: «دوړ» شجره | ۲۳۵ |

| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| بنګش ، بنګښ ، | ۲۴۷ | وزیر | ۲۷۵ |
| دله زاک | ۲۴۹ | ګربز | ۲۸۱ |
| اورکزی | ۲۵۱ | لالی وزیر - شیتک | ۲۸۱ |
| منګل | ۲۵۱ | تتی | ۲۸۳ |
| صنی | ۲۵۲ | بنوڅي | ۲۸۳ |
| وردک | ۲۵۲ | ګنډاپور | ۲۸۵ |
| اپریدی | ۲۵۴ | بنګښ | ۲۸۶ |
| کوکي خېل - ملک دین خېل | ۲۵۷ | بابړ | ۲۸۷ |
| اکاخېل | ۲۵۷ | د پښتونخوانه دباندې پښتانه | ۲۸۹ |
| خټک | ۲۵۸ | په یوپی کښې پښتانه | ۲۹۴ |
| د خټکو ریاست | ۲۶۰ | په بهار او بنګال کښې ″ | ۲۹۷ |
| د قطبي خټکو خانان | ۲۶۸ | په راجپوتانه کښې ″ | ۲۹۷ |
| ځدران | ۲۷۰ | منځني هند کښې ″ | ۲۹۷ |
| اُتمان خېل | ۲۷۰ | د حیدرآباد ریاست | ۲۹۸ |
| خوګیانی | ۲۷۱ | په بمبئي او برودې کې پښتانه | ۲۹۸ |
| پړبه | ۲۷۲ | په مدراس کښې ″ | ۲۹۹ |
| د رمان - خاخی | ۲۷۳ | دجیپور په ریاست کښې ″ | ۲۹۹ |
| | | دکشمیر په ریاست کښې ″ | ۲۹۹ |
| توړيان | ۲۷۴ | په برما کښې | ۳۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تقریظ:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

ما د ښاغلي سیال صاحب لیکلی کتاب «د پښتنو قبایلو د نسب شجرې»، وکوت، رښتیا چې فاضل لیکوال د دې کتاب په لیکلو او تدوین کښې پوره زیار ویستلی دی او د ډېرې مطالعې په بیې کړې وي، او لکه ده چې په ګوته کړې دي د موثقه مأخذونو نه یې استفاده کړې ده او په دې موضوع د قبایلي علاقې د پښتنو نه څکښې چا څه کار نه دی کړی، نو په دې مهم کار کښې زه دې پواځینی او لومړنی لیکوال پېژنم او د ده د قومي خدمت کولو ستاینه کوم او د زړه د اخلاصه مننه یې کوم او د لوی خدای (ج) نه د ښاغلي پوه لیکوال سیال صاحب د پاره، توفیق غواړم چې د پښتنو د تاریخ په خوا و شا کښې نور هم زیار وکاږي او عالمانه او محققانه لیکنې وکړي چې

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو ته د خپل قومي تاريخ نور تياره کوټونه هم رڼا شي او د پښتون قوم را تلونکي نسل ته نورپوره تاريخي سرمايه او مواد په لاس ورشي ، انشاء الله تعالـــٰی ، ـــــ

و ما توفيق الا بالله علی العظيم .

مسعـو د الرحمٰن مسعـود

پي- ای مومند ايجنسي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم

# سریزه:

ما د څه لیکلو او ځینو معلوماتو او تاریخي یاداشتونو د راټولولو او لیکلو د ډېر پخوانه شوق او مینه وه او دغه مینه لا شته دی او چې کله فرصت په لاس راځي نو څه کتابونه چې د مودو مودو زما د عمر سرمایه ده «او څه د ډېره برخه یې په انقلابونو کښې د منځه تللي هم ده چې زما په ټولو شتو کښې یوازې هم هغه قیمتي کتابونه تل زما په زړه وي» نو کتابونه لولم او ځینې مهم یادداشتونه (په زړه کوینې) د ځان سره بېل لیکم، او په دې لړه (سلسله) کښې مې څه ناڅه کار هم کړی دی او ځینې کتابونه مې لیکلي او چاپ شوي هم دي، او زه به پخپل زړه کښې د خپل قام دا هم یو خدمت گڼم. په همدې سلسله کښې دا د پښتنو د ځینو قبائلو د نسب شجرې او د او سېدانې مېنې مې لیکلي دي، خو زه په دې خبره پوهېږم چې دا د ټولو پښتنو قبائلو د نسب شجرې نه دي

Kitaboona.BlogSpot.Com

او دا روایاتي شجرې یواځې د قیس عبدالرشید بابا (رح) نه را رواني دي او ځینې کرلاني قبائل هم پکښې راغلي دي خــو د پښتنو د هغه لویو پاچاهانو۔ ایرانو۔ سوریانو او بهمنیانو — شنسبیانو، تېمنو او نورو پښتنو د نسب سلسلې نوځه شوې؟ او په هغې کار نه دی شوی چې لوی۔ لوی سلطنتونه یې تشکیل کړي وو او د هند نه تر ایرانه پورې او د عرب د بحیرې نه واخله تر خوارزم، خېوا او بخارا پورې یې حکمراني کړې وې، هغه نوځوك وو، او ځه شول؟ پرته د ځو نامتو اشخاصو لکه علاؤالدین (جهانسوز) او محمد سام غوري مجاهد نه پرته لوی پاچا، او نور خوا ډوځوك پېژني هم نه. په هرحال موږ به کوښښ او سعي او هاند به کوو چې خپلې قومي نیمګړتیاوې ور، ور۔ ورو پوره کړي شو او دا د زده کړو او تعلیمیافته ځوانانو کار دی، چې خپل قومي تاریخ او پانوعنعنو او کلتور۔ قصو او افسانو او د خپل نسب شجروته په پام شي او دا کار عملاً وکړي.

موږ خو بخپله وسه پره یو، دا دی ځه ناځه خو کوو او دا لږ کار هم بې زحمته او بې پلټنې نه دی شوی او خپله ستړیا موګالللې ده، زموږ روح به هله خوښ وي چې زموږ ده دا لږ خدمت ګوتې پښتانه ومني او په کار یې راشي او پوره یې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library
Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اخر کښې د خپل قام حضور ته د لـه ـ د لـه سلامونه او احترامونه وړاندې کوم او د د وی برې او برم له خدایه غواړم.

م ـ ج «سیال» مومند

# د کتاب ماخذونه

۱: پښتانه د تاریخ په رڼا کښې د سید بهادر شاه ظفر کاکا خپل تالیف.

۲: تاریخ مرصع، د افضل خان خټک تالیف، د وست محمد کامل محنتی.

۳: تاریخ خان جهان لودی، یا مخزن افغانی، د خواجه نعمت الله هروی تالیف.

۴: پټهان، د سر اُلف کیرو تالیف د محبوب علی شاه ترجمه.

۵: یوسفزی افغان، د یوسفی تالیف.

۶: تذکره د نوی کلي د روشن خان تالیف.

۷: مومند بابا، د سیال مومند تالیف.

۸: د کابل سلطنت بیان، د مونټ سټورات الفنسټن تالیف او د پوهنوال حسن کاکړ ترجمه.

۹: پښتون قبائل، د لیفټیننټ کرنل احسان الله خان تالیف.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# « قیس عبدالرشید »

ځینې وايي چې قیس عبدالرشید د کسي په غره کښې اوسېده، خو د خالد بن ولید په ترغیب او تشویق د محمد رسول الله د۔ شرف حاصلولو د پاره په سنه / ۸/ هجري کښې مدینې منورې او مکې معظمې ته ورغلی ؤ او د رسول الله (ص) په حضور مشرف شوی ؤ، او خپل نوم یې قیس ؤ خو د خدای (ج) پېغمبر په قیس باندې عبدالرشید هم ور د پرکه، او د دغې نه پس په قیس عبدالرشید مشهور شو او دا هم ویلی شي چې د مکې د فتحې پر وخت کښې دی د غازیانو ملګری او په مجاهدینو کښې شامل او بنه توره یې هم کړې وه، نوځکه ورته حضرت محمد رسول الله (ص) د (پټهان) خطاب هم ورکړی ؤ.(۱)

او دا هم په ځینو کتابونو کښې لیکلي شته دي چې قیس عبدالرشید

---

(۱): پټهان د کشتۍ لاندنۍ تختې ته ویلې شي، اکثراً د کلک لرګي نه جوړېږي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا په ۵۴۱/٤٦٦٣ کښې په کسي غره کښې وفات شوی دی او هم هلته ښخ دی.

دقیس بابا د پلار نیکه سلسله د تاریخ خورشید جهان په قول او د تاریخ مرصع «افضل‌خان ختک» په قول په اسرائیلی او آدم علیه‌السلام پورې رسیږي. خو اوسني پښتانه او وروستني کوُل دا قصې نه مني نو ماېځکه دلته د لیکلو نه ځنګ کړی دی، وایي چې قیس بن عیص بن سلول ... ... ... ... ... ... ... ... ... ... ... ... بن افغنه ارمیا، بن ساول ملقب به ملک طالوت او ...

خو زه ترې تېر شوی یم، او د خورشید جهان مؤلف هم دا سمه خبره نه مني، چې په دې سلسله کښې عبدالرشید تر افغانه پورې په (۳۵) پښته کښې رسیږي او حال دا دی چې دغه موده یو زرو، شپږ سوه کاله کیږي او په سلو کلونو کښې درې پښته منځ ته راځي، نو دا سمه خبره نه ګښي.

پښتنو د کسي غره نه ځکښې خدای (ج) خبر څومره موده په نورو ځایونو او غورا تو تېره کړې ده، او چا به دا یادداشتونه لیکلي وي او که لیکلي هم وي سم به نه وي. په هر حال مونږه له دې نه تېریږو او خپل مطلب ته راځو.

دپښتنو د او سنه او پاتې شجرې او قصې هم اکثراً د هند

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو مشرانو په فرمايښه د پښتونخوا نه لري خوا و شا ليکلي شوي خو معلوميږي چې د دغو معلوماتو په راټولولو پسې پښتنو مشرانو لګښتونه کړي دي او ليکوال يې هرڅوک چې وو[۱] خو دا معلومات يې راټول کړي دي او دا دی نن زموږ په لاس کښې د هغوی د کوښښ او سترګيا په نتيجه کښې څه خوشته دی، کنه موږ ته بايد د هغوی احسان ومنو او منته يې وکړو او د هغوی کړا او سترګيا ته په درنه سترګه وګورو.

م. ج «سيال» مومند

عقرب - ۱۳۶۴ هـ. ش

نومبر - ۱۹۸۵ع کال

---

(۱) د هغه وخت مشهور ليکوال نعمت الله هروی دی.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قیس عبدالرشید

سړبن | غورغښت | بیټ | «کوړله»^(۱)

د قیس بابا د مشر زوی سړبن دوه زامن وو^(۲) «خلک وایي چې مخکښې یې اولاد نه ؤ، نو خپل وړور بیټ وورته خپل زوی اسمٰعیل ورکړو» چې د یو نوم یې شرخبون یا شرکبون یا شرف الدین و، او د دویم نوم یې خرشبون یا کرشبون یا خیرالدین ؤ.

---

(۱): د الفنسټن کتاب، د پوهاند محمد حسن کاکړ ترجمه، په ۱۸۲ مخ کښې «کوړله» د قیس څلورم زوی بولي او دا صحیح خبره ده. «سیال».

(۲): نوړ لیکوال د قیس عبدالرشید درې زامن کښې چې سړبن، غورغښت او بیټ نیکه دی. خو انګریزي مؤرخ الفنسټن (کوړله) هم د قیس بابا زوی بولي. او مخزن افغاني هم په ۸۸۰ پاڼه کښې دغه خبره کوي.

دکیرو کتاب د پټهان په ۳۳ مخ کښې یې ذکر شته.. مخزن افغاني په ۸۸۰ پاڼه کښې دا مني او سر الف کیرو پخپل کتاب کښې کرلاڼي د غورغښتي څلورم زوی بولي او ځیني نوړ وایي چې نه دی د عبدالله ارمړتبني زوی او میندلی هلک دی. خو ماته په ټولو کښې د الفنسټن خبره درنه او سمه ښکاري.

خوشحال خټک وایي:

پښتون په اصل کښې سړبني دی | یا غورغشتي یا بیټني دی
غلجي. لودی له بیټني له لوړه | په سړبن پوړې بیا کرلاڼي دی

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سړبن بابا (رح)

شرخبون (شرف الدین) — خرشبون (خیرالدین)

شرخبون (شرف الدین):

اُرمړ (چې اصلي نوم یې عمرالدین دی - داخلک په لوګر، پېښور او کانیګرام کښې اوسیږي). — ترین — شیراني

خو نور شجره لیکونکي لیکي چې د شرخبون یا شرف الدین زامن دا وو:

## شرخبون

اُرمړ — بابړ — بړېڅ — میانه — ترین — شیراني

نوټ: شیخ خرشبون ښه سړی او شاعر هم ؤ، څه وخت چې دی دکسي غره نه غوړې مرغی ته تللو نو دا شعرونه یې ویلي وو:

بېلتانه ناره مې وشوه په کوړ باندې - نه پوهېږم چې به څه دي پېښ په وړاندې

د خپلوانو نه بېلېږم په سر وسترګو - د واړه سترګې مې په وینو دي ژړاندې

اسمعیله ستا ناروې زړه سوری کړی - په چوړو ویرې پرې سي د زړه مړاندې

څمه-څمه اوبه دیون مې ډک ومخ ته - د یانه څورې به اچوم و ترخ ته

ستا یاد به مې وي بس د زړه سخ ته - که دا څمکه اسمان تول سي لاندې باندې

اسمعیل د ده وراره و.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شیخ خرشبون په باب:

د پټې خزانې په استناد محمد هوتک لیکلي دي. سړبن او بیټ نیکه سکني وړونه هم دي. داخبره اکثراً شجره نویس مني او دا خبره هم منلې شوې ده چې خرشبون او شرخبون د سړبن زامن ووا او ویلې شي چې خرشبون په کال ۳۰۵ هـ کښې زیږیدلی دی او د شرخبون د زیږیدنې نیټه نه ده معلومه، خو ځینې وایي چې ممکنه ده چې دی به هم د څلورمې هجري پیړۍ په اغاز کښې زیږیدلی وي او دا هم ویلې شي چې د خرشبون دړوند په زمانه کښې د هغه پلار او تره (سړبن او بیټ نیکه) لاژوندي وو. په دې خبره د تذکره لیکونکو څه شکونه شته، خو د روایاتو برابر دا خبره هم د غسې پرله‌پسې راغلې ده، او مرکزي حیثیت یې میندلی دی او د پښتنو ټول قبایل له همدې مرکزه چوړلي اګرچې دا وروستنۍ خبره او د پښتنو د سیاسي شهرت اغاز د دې نه پخوا شوی دی او د اتمې عیسوي پیړۍ په نیمایۍ کښې لا پښتانه د سپین غره شا و خوا لغمان او ننګرهار ته راغلي وو او د سبکتګین په پوځونو کښې پښتانه د برکډ شوي وو.


د پښتنو تشکیلات اکثر په دې څلورو اصولو بنا دی: (۱): د وینې نسب، (۲) خپلوي، د خوړ - لوړ، ورکړه راکړه، (۳) ګوندي، (۴) الحاق او یو د بل سره تړون دی.

اوس به د شرخبون د زوی شېراني شجره ولیکو:

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library






**نوټ؛** شېراني د شرخبون مشر زوی او د کاکړ خور يي وو نو د شېرانو او کاکړو تل يو والی له دې امله دی.

(۱)؛ د پښتنو ټولې ذېلې ۴۰۵ دی. د غسې (۱)؛ سړبنی ۱۰۵ - غور غشتي قبائیل ۹۵ بیټني قبائیل ۲۵، مستوزی، غلجي، لودي ۵۲ - کرلاڼي ۱۲۸ دی او ټولې څانګې ۴۰۵ دی.

(۲)؛ ستوریانی خوعمر په زوی ولجه نیولی ؤ.

Kitaboona.BlogSpot.Com

**او د ابراهیم ستوراني نه:**

شیر — دولت خېل — دریاخېل — لمند — سپین خېل — نیازي

**د بابر بن درم نه:**

انجر — سنجر(۱)

سنجر ← سعودخېل — غورخېل — ابراهیم خېل — اسمعیل خېل — یعقوب خېل

**او د هریپال بن شیراني بن شرخبون بن سړبن نه:**

یوسف

یوسف ← توخي — تازك

**ترین بن شرخبون بن سړبن نه:(۲)**

تور — سپین — ابدال (د ۴۳۰ هرخوا وشا)

---

(۱): سنجر د پنځو واړو زامنو اولاده په سعودخېل او غوریاخېل یادیږي.

(۲): ترین نه تور او سپین لیکلی شوي، خو سیال کاکړ پخپل کتاب (د سویلي پښتونخوا کښې ز ړېږ، نقوبي هم یاد کړي دي او بور ترین هم وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تور نه:** ملموني کندزي — سیکي — بابو

**سپین نه:** وزیر — جام — سلیمان — اوپچي

**ابدال نه:** سلیمان — زختر

مندي زي — منګل زي — نیکختاني — بټي زي — ترل زي — هارون زي

(هارون زي:) عردزي — ملک یار — اسمعیل زي — بارو زي — حیدر زي — یعقوب زي — بابکر زي — سیدزي

(زختر:) علي — زدو — عیسی — ماکو — خاکو

حسن زي — پیرزي — خلوزي — زیرک — میر — توري

او د میرنه اسحاق چې اولاد ئې اسحق زي بللي شي او تفصیل به یې وروسته راشي.

**او د ماکو نه:**

جدال زي — فیروز زي — صاحب زي

**او د زیرک(۱) بن عیسی بن زختر نه:**

پوپل — بارک(۲) — اتکو — مستی

(پاتی بل مخ کې)

---

نوټ: (۱) کیرو د خپل کتاب پټان په ۳۴ مخ کښې وایي د ابدال زامن پنجپا او زیرک دی او د زیرک زامن اڅکزی، بارکزی، پوپل زی او علکوزی دي.

(۲) بارک په ۷۶۰ هـ خوا و شا کې و.

Kitaboona.BlogSpot.Com

د پوپل[۱] بن زیرك بن عیسی بن زخترنه:

- ایوب
- بارو
- حبیب
  - حسن
  - اسمعیل
  - بامي

او د اسحاق زی بن میرنه:

- ایزنزی
- مندیزی
- هوازي
- فیروزي

او د تور بن عیسی بن زخترنه:

- چلاك زي
- درزي
- تانوزي
  - گمرازي
  - ستوکنی
  - خیرزي
  - حسن زي
  - شیخ زي
  - نویدادزي
  - علي زي
- جاوزي

بامي:

- نصرت
- گنی
  - معروف خان
    - عمر
      - او د عمر نه سدو او صالح دي
  - بهلول
  - علي خان
- شها

---

(۱): پوپل د ۷۸۰ هـ خوا و شا کې ژوندی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عمرنه ملك سدو د سدوزو مورث اعلیٰ د قندهار مرزبان متولد په ۹۶۵ هـ کښې متوفي ۱۰۲۱ هـ او بل زوی يې ملك صالح د ۹۵۰ هـ د شېرشاه معاصر او د احمدشاه دراني وزيراعظم شاه ولي خان د ده د ده په اولاده کښې ؤ .

او د ملك سدو نه : (۱) خواجه خضرخان مرزبان قندهار متوفي ۱۰۳۶ هـ وو.

(۲): مرودخان وفات ۱۰۵۲ هـ او د مرودخان نه حسين خان وفات ۱۰۶۹ هـ . د ملتان د ناظمانو مورث اعلیٰ ؤ.

(۳): زعفران خان ، کامران خان وفات ۱۰۵۰ هـ کښې .

(۴): بهادرخان او د بهادرخان نه اسمعيل خان او د هغه نه کمال خان ، محبت خان او علي خان .

د کامران خان نه : (۱) عيسیٰ خان (۲): موسیٰ خان او د موسیٰ خان نه هارون ؤ ، د هارون نه فتح الله د هغه نه رحمت الله خان د شاه زمان سدوزي وزير ملقب په وفادارخان وو.

او د محبت خان د اسمعيل خان بن بهادرخان د زوی نه جعفرخان ، غازي خان ، عظمت خان ، حليم خان او د غازي خان نه بارخان او مومن خان .

بارخان ← نواب محمدخان ، خدايارخان ، صالح محمدخان

مومن خان ← حاجي عبدالرحمن (په بلخ کې)

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د حاجي عبدالرحمن بن مومن خان نه:**

- حافظ رحمدخان
  - عبدالصمد خان
  - نواب شیرمحمد خان
    - نواب سرفراز خان
    - محمد نواز خان
    - ربنواز خان
  - عبدالرحیم خان

**او د خواجه خضرخان بن ملک سدو نه**

- شیرخان مرزبان قندهار
  - سرمست خان
    - دولت خان مرزبان قندهار
      - رستم خان مرزبان قندهار وفات په ۱۱۱۹ هـ کې
      - محمد زمانخان د هرات رئیس (۱۱۲۲-۱۱۲۵ هجري)
      - نظرمحمد خان
- خداد سلطان مرزبان قندهار سنه ۱۰۵۰ هـ کې

**د بارکزي بن عیسی بن زختر بن اودل بن قرین شجره نسب:**

- بارکزي
  - بالی زي
  - نورالدین زي
  - رکن الدین زي
  - نصرت زي
  - د وتار (نور په بلخ کې)

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رکن الدین زي بن بارکزي نه؛

زنګي زي   محمد زي   ماکین زي   سیفل زي   تاروزي   جنګ زي

عیسی زي   باکل زي   بیان زي   خونسی زي   ګرجي زي   اچک زي   سرباز زي

د نصرت زي بن بارکزي نه

اتمانزي   سنجر زي   ولي زي   خواجک زي   جمال زي   بودزي   خواجي زي   ابا زي

د محمد زي بن رکن الدین زي نه؛

باروزی او د هغه نه حاجي یوسف او د هغه نه جمال خان او د جمال خان زامن دا دي؛

پاینده خان   هارون خان   رحیم داد خان   بهادر خان

د پاینده خان لومړۍ ښځې نه زامن وو: وزیر فتح خان، عظیم خان او تیمور خان دي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د محمد زمان خان رئیس هرات (۳۲-۱۱۲۵ھ) نه :

زلفقار خان رئیس هرات ۴۲-۱۱۳۶ ھ

لقمان خان (۱۱۶۲ھ وفات)

لوی احمد شاه بابا غازی د سدوزو د سلطنت بانی د ۷۳-۱۷۴۷ع (۲۶) کاله.

تیمور شاه ۱۷۷۳-۱۷۹۳ع (۲۰) کاله — سکندر — سلیمان — ایوب — پرویز

د تیمور شاه (۲۶) زامن وو، مشهور یې دا لاندې دي :

شاه زمان د ۱۷۹۳ع نه تر ۱۸۰۰ع پورې، پادشاه (۸) کاله.

قیصر

شاه محمود د ۱۸۰۰ع نه تر ۱۸۰۳ پورې او بیا ۱۸۰۳ نه تر ۱۸۰۹ - پورې شهزاده کامران[1] د شاه محمود زوی وو.

شاه شجاع الملک د ۱۸۰۳ نه تر ۱۸۰۹ پورې، او بیا ۱۸۳۹ نه تر ۱۸۴۲ع پورې (۹) کاله پاچا.

شهزاده تیمور — فتح جنګ — شاپور — نادر — صفدر جنګ

---

(۱): وزیر فتح خان هم د دې شهزاده کامران په هرات کښې په اعتبار نیولی او ړوند کړې يې ؤ او بیا يې په غزني کښې مړ کړ. او شاه محمود خان هم حاضر وو د هغه په امر فتح خان ووژلی شو.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د عظیم خان نه سلطان احمد خان، حبیب الله او سکندر خان دی.

او د پاینده خان د دویمې ښځې نه: پور دل خان، شیردل خان، کوندل خان، رحمدل خان او میرولي خان (د قندهار سرداران وو).

او د پاینده خان د بلې (۳) ښځې نه: امیر دوست محمد خان، امیر محمد خان او جمال خان وو.

او د څلورمې ښځې نه یې: یار محمد خان، سلطان محمد خان، پیر محمد خان، سید محمد خان د پېښور سرداران وو.

د بارکزو حکمران تبر اوله کورنۍ امیر دوست محمد خان د ۱۸۲۶ع نه ۱۸۶۲ع پورې پادشاه.

## د دوست محمد خان زامن

(۱): محمد اسلم خان.

(۲): محمد اعظم خان (امیر ۱۸۶۷ع نه تر ۱۸۶۹ء پورې) ، (۲) کاله.

(۳): محمد افضل خان (امیر ۱۸۶۵ء نه تر ۱۸۶۷ء پورې (۲) کاله.

(دا د واړه یوې ښځې مور نه وو.)

(۴): محمد امین خان.

(۵): امیر شیر علي خان (امیر ۱۸۶۵ء نه تر ۱۸۶۷ء او بیا د ۱۸۶۹ء نه تر ۱۸۷۸ء پورې) (۱۰) کاله.

(۶): غلام حیدر خان. (۷): محمد اکبر خان (معروف وزیر اکبر خان).

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۸): محمد محسن خان
(۹): محمد حسین خان
(۱۰): محمد قاسم خان
(۱۱): محمد صالح خان
(۱۲): محمد هاشم خان
(۱۳): محمد عظیم خان
(۱۴): محمد رحیم خان
(۱۵): محمد صادق خان
(۱۶): محمد ولي خان

## دامیر شیرعلی خان زامن

- امیر محمد یعقوب خان — د ۱۸۷۸ ء نه تر ۱۸۷۹ ء پورې پاچا
- ابراهیم خان
- محمد ایوب خان — فاتح میوند ۱۸۸۰ ء جولائی میاشت
- عبدالله جان

## محمد افضل خان بن دوست محمد خان نه:

- عبدالرحمن خان — ۱۸۸۱ ء نه تر ۱۹۰۱ ء (۲۰) کاله بادشاه

## او د امیر عبدالرحمن خان نه:

- عبدالله خان
- امیر حبیب الله خان
- نصرالله خان (۱)
- شمس الدین خان
- حفیظ الله خان — محمد عمر خان
- امین الله خان — غلام علی خان

(۱): امیر حبیب الله خان او نصرالله خان د واړه سکني وروڼه دي يوې مور نه وو چې د بدخشان د میر لور وه.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امیر حبیب الله خان نه

**عنایت الله خان**

په ۱۹۲۹ء کښې پنځه ورځې امیر او بیا لاړ په ایران کښې مړ شو.

**امیر امان الله خان**

امیر د ۱۹۱۹ء نه تر ۱۹۲۹ء پورې او بیا د وطن نه لاړ او په ایټالیا کښې ؤ، هلته مړ شو او مړې ئې بیا راوړې شو او په جلال آباد کښې د پلار تر څنګ ښخ شو. (۱۰) کاله پاچا وو.

نوټ: د بارکزو د لومړې کورنۍ (۹۹) کاله دوره وه.

## د بارکزو دویمه حکمرانه کورنۍ

### سردار سلطان احمد خان

**یوسف خان** — **اصف خان**

د یوسف خان زامن: نادرخان، محمد عزیز خان، محمد هاشم خان، شاه محمود خان، شاولي خان

نادرخان: د ۱۹۲۹ء نه تر ۱۹۳۳ء پورې (۴) کاله پادشاه او په ۱۹۳۳ کښې شهید شو.

محمد عزیز خان ← محمد داود خان - ۱۳۵۲ ش - ۱۳۵۷ رئیس جمهور (۵) کاله.

نادرخان ← محمد ظاهر شاه ۱۹۳۳ء ۱۳۱۲ ش - ۱۳۵۲ (۴۰) کاله پادشاه.

لونه


محمد اکبر خان، احمد شاه، نادر، محمد داود، بلقیس، مریم

Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مياني بن شرخبون بن سړبن د نسب شجره:





## د برېځ بن شرخبون بن د نسب شجره:




Kitaboona.BlogSpot.Com

## د اورمړ بن شرخبون بن سړبن د نسب شجره




لکه څکنېچې لیکل شوي د شرخبون مشر زوی شېرانی ؤ، خو پلار د مشرۍ پګړۍ ترین ته تړلې وه نو، شېرانی په دې خفه شواو د پلار نه مرور شو، خپل ماما کاکړ ته لاړاو د هغې نه شېرانی د کاکړو سره ګډ شو او بنه بدیې د غرغشتو قبیلې سره یوه شوه.

د شېرانو علاقه دګومل د رې سوییل ته واقع ده او کوه سلیمان (کسی غر) هم د دوی په علاقه کښې دی، د دې علاقې په قطبی برخه کښې حسن خیل، منځ کښې ابوخیل او جلواني او سوییل ته یې کیپ او هرپیال تپې استوګنې دی او د کسی غره په قبله د کوسی په غرونو کښې کاکړمیشته دي. د وزیرو د علاقې په شان دا علاقه هم پلنه

(c) ketabton.com: The Digital Library
Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او غریزه ده، خو د کروندې ځمکه پکښې لږه ده.

## ترین:

د ترین درې زامن تور او سپین[1] او اودل وو چې په «اودالي» مشهور دی او پر ۱۶۳۹ ء کښې وفات شوی دی، خود ترین په نوم سپین او تور شهرت لري او دالي ځانله پښه یادیږي. تور ترین په پشین ادوکه کښې او سپین ترین په هرنائي دوکه کښې او د- چوتیر په علاقه کښې پراته دي.

د ترینو او ابدالیانو په خویونو خصلتونو کښې او رواجونو کښې څه توپیر نشته. په ترینو کښې د خانۀ کور په گور ترینو کښې د بښتی زی په څانگه کښې دی او دا متل مشهور دی چې وائي «خانی ده په دوه کوره. په ترین کښې به بښتي ده- په نوحانی[2] په کښتی ده»

## ابدالیان:

په ابدالیانو کښې د زیرك د اولادې نه پرته نورې ډیلې په

---

(۱) خوشحال کاکړ په خپل کتاب «د سویلي پښتونخوا پښتانه» کښې زیړ ترین هم یاد کړي دي، او لا بور ترین هم وایي چې څلور څانگې کیږي

(۲) نوحانی یا لوانی.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنجپایي یادیږي. دابدالیانو علاقه اندازاً څلور سوه (۴۰۰) میله اوږده او اووه شلې (۱۴۰) میله به پلنه وي. د دې د علاقې حد قطب پلو د هندوکش، کوه بابا او کوه سیاه هغه برخې سره لګیدلې دي چې چېرته هزاره او ایماق پراته دي او د دوی قبلین حد د ایران سره او قبله په سویل یې د سیستان سره چې ان تر بلوچستان پورې یې حدود رسېدلي دي، د دوی د علاقې په سویل د شوراوک او خواجه عمران غرونه پراته دي چې پکښې د ابدالیانو یوه پښنه اڅکزي استوګن دي او د هملغوغرونو په نمرختیزه برخه کښې کاکړهم آباد دي. د «مرغه» کلي چې په «غوره مرغه» هم یادیږي او په دغه کلي کښې په ۱۷۷۳ع کښې لوی احمد شاه بابا غازي هم وفات شوی دی. دغه کلی د خواجه عمران د غرونو قطب په نمرخاته پروت دی. د ابدالیانو په نمرخاته د غلجو علاقه ده. دابدالیانو د علاقې مشهور سیند ونه: هلمند، ارغنداو، خاشرود او فراه رود دي.

ویلی شي چې د ترین په زامنو کښې ابدال یا اودل کشر ؤ خو د پلار نه پس هغه د تام مشر شو⁽¹⁾ او د خپلې مشرۍ په وخت کښې یې خپل اولس ډېر خوشحاله وساته.

---

(۱): اودل په ۱٦۲٦ع کښې وژل شوی دی.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داودل دوه زامن وو: (۱) سلیمان (۲) زخترد پلار نه پس.
زختر د قام مشر شو. او ویلی شي چې د زختر شپږ شلې کاله عمر ؤ او تر
د رې پښته یې خپل اولاد لیدلی ؤ. په هغه پسې د پلار د وصیت برابر
عیسیٰ د قام مشر شو. د عیسیٰ درې زامن وو: (۱) زیرک (۲) میر
(۳) نور. په پلار پسې زیرک د قام مشر شوا و د زیرک څلور
زامن وو: (۱) بارك (۲) الکو (۳) مستی (۴) پوپل. زیرک په خپل ژوند
خپله مشري بارك ته ورکړه، خو څو موده وروسته پوپل په
چل او ول خاني خپله کړه او مشري د پوپل کورنۍ ته راغله. د
پوپل درې زامن وو: (۱) حبیب (۲) بارو (۳) ایوب. حبیب د
خپل اولس خان شو او (۵۲) کاله ژوندی ؤ. د حبیب شپږ زامن وو،
د یوه نوم یې بامي سردار خان یا بامی ؤ، د مشرۍ د پاره د ورونو
په منځ کښې جنګونه او جګړې ونښتې، خو وروسته د قومي
جرګې په صلاح بامي د قام مشر و ټاکل شو.

بامي اویا (۷۰) کاله د قام مشر ؤ، د مرګه پس ترې درې زامن
(نصرت، ګمنی، شها) پاتې شول خو په دوی کښې یو هم د قامي
مشرۍ لایق نه ؤ.

په بامي پسې بهلول د ګمنی زوی د قام مشر شو، د بهلول نه
دوه زامن پاتې شو: (۱) معروف (۲) علي خان په بهلول پسې معروف
د قام مشر شو او په هغه پسې د قام مشري عمر ته ورسیده.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعمر نه دري زامن (صالح، اسدالله او آدم) پاتې شو، د قام مشرا سدالله شو، دغه سړی په خلکو کښې په «سدو» (تولد ۹۶۵ هـ وفات ۱۰۲۱ هـ) مشهوردی او هم دده په نامه قبیله په «سدوزي» مشهوره شوله. او همدا اسدالله د غازي احمد شاه بابا مشر نیکه کیږي.

اسدالله پوه او قابل سړی ؤ، هغه د ابدالیو ټولي او غلجو ځیني څانګي یځېله پېره راوارولي او ښه قوي مشرجوړ شوا و په ډېر عزت او دبدبه یې خپل ژوند تېرکړو او د ایران - پادشاه عباس اعظم له پلوه دابدالیانو رئیس هم منلی شوی ؤ، د ینځه اویا (۷۵) کالو په عمر وفات شو او پنځه زامن ترې پاتې شول:

(۱) خواجه خضرخان (وفات په ۱۰۳۶ هـ کښې) (۲) مودود خان (وفات ۱۰۵۲ هـ) (۳) زعفران (۴) کامران (۵) بهادرخان ؤ.

د خپل اولس په خوښه خواجه خضرخان د قام مشروټاکلی شو او شل (۲۰) کاله د قام خان ؤ د هغه نه دوه زامن وو: (۱) خداداد سلطان (۲) شېرخان ؤ. په دغه وخت کښې د ایران باد شاه، شاه عباس ثاني ؤ د پلار په ځای خداداد سلطان د قام مشر شو، دا ډېر قابل او مدبر سړی ؤ، د خپل اولس جګړې یې ټولې په جرګو او مرکو اوارولې، دغه وخت ابدالي قبیله د قندهار په نمر خاته دارغستان په علاقه پرته وه او د غلجو مشر سلطان ملخي توخي،

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ؤ، خداداد سلطان په ۱۰۴۱م - ۱۶۴۰ع د غلجوا و ابدالیو په منځ کښې حدود د وړ و رولی او عزیزولی په توګه سره وویشل. خودې سرې په آخره کښې په کاکړ و تیری وکړ او د پرکاکړ یې و وژل او کورونه او مینې یې ورتالاکړې، خود پر زړ پړې پښېمانه شو او د اولس مشري یې خپل ورور شېرخان ته وسپارله د نیا یې ژوند یې پرېښود او د خدای ج په ذکر مشغول شو.

شېرخان د خپلې مشرۍ په وخت کښې د قندهار ایرانی - بیګلر بیګي سره مخالف شو، ایرانی سلطنت په ابدالیانو کښې کورنی نفاق ولچولو، د خداداد سلطان د تره زوی سلطان حسین ته یې د میرزا خطاب ورکړ او د ابدالیانو مشر یې کړ. شېرخان د دې په بدل کښې د ترنک رود په غاړه په یوکلک ځای کښې د پره شو او د مغل بادشاه (شاه جهان) له خوا ورته د شهزاده خطاب ورکړی شو. دغه وخت د مغلو او ایرانیانو رقابت ؤ، آخر سلطان حسین پوه شو او شېرخان ته ورغی او غاړه یې ورته کېښوده او ایران هم د دغه مخالفت نه لاس واخیست او شېرخان د قام مستقل مشر شو او د پرش (۳۰) کاله مشر ؤ او (۶۵) کالو په عمر د آس نه ولوېد و او په بنکارګاه کښې مړ شو.

د شېرخان د مرګ نه پس یې زوی سرمست خان د قام مشر شو او (۲۰) کاله مشر ؤ، د هغه نه پس د ولت خان د قام مشر و

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاکل شو، خو دی ورکوټی ؤ نو تره یې حیات سلطان به د مشري کار کولو. په دغه وخت کښې د قندهار ایرانی حاکم "گرگین خان" - گرجی ؤ، دغه ایرانی حاکم په آخر کښې دولت خان او د هغه زوی نظر محمد خان بندیان او بیا یې مړه کړل.

د دولت خان نه دوه زامن رستم خان او زمانخان پاتې شول. رستم خان د قام مشر شو، خو هغه هم گرگین خان و واژه او ابدالیان بې مشره شول.

ابدالیان د ایرانیانو د ظلمونو له کبله د شوراوك غرونو ته ورو نه کډې وتښتېدلې او څه مخ په قبله د فراه او هرات غرونو ته پسې لاړل او څه موده پس د ملتان نه هم څه ابدالي مشران راغلل او ابدالیو په هرات قبضه وکړه، دغه وخت د غلجي میرویس خان زوی میرمحمود په قندهار کښې باد شاه ؤ، هغه د ابدالیو سره په فراه کښې جنگ وکړ او اسدالله ابدالي مشر یې و واژه، د هغې نه پس زمانخان د رستم خان دابدالیو مشر شو، دی د ۱۱۲۵ھ نه تر ۱۱۳۲ھ پورې د هرات رئیس او د قام مشر شو.

د محمد زمانخان زامن وو (۱) ذالفقارخان (۲) احمد خان، چې وروسته غازي احمد شاه شو چې د ۱۷۴۷ع نه تر ۱۷۷۳ع - پورې (۲۶) کاله د افغانستان بادشاه ؤ او د پښتنو په طبیعي

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدود وې حکومت وکړ. اولوی شاهنشاهیت یې تشکیل کړو، چې اخر په ۱۷۷۳ع کښې وفات شواو زوی یې تیمور شاه په ۱۷۷۳ع کښې باد شاه شو چې آن تر ۱۷۹۳ع پورې پاد شاه ؤ.

دا کورنۍ په پوپلزو کښې د سدوزو په کورنۍ کښې چې د ۱۷۴۷ع نه تر ۱۸۱۸ع پورې په افغانستان کښې آن تر پنځا به حکومت کړی دی.(۱) او په ۱۸۱۸ع کښې د افغانستان حکومت د سدوزو نه بارکزو کورنۍ ته منتقل شو او بارکزی لومړی بادشاه امیر دوست محمد خان ؤ چې په ۱۸۲۶ع کښې یې کابل ونیو او باد شاه شو.

د پوپلزو یعنې سدوزو او بارکزو د پخوانه سره رقابت ؤ، پخوا مشري د بارك وه او هغه د پلار په ژوند (۱۵) کاله دقام مشرؤ، خو پوپل ترې په چل ول مشري ونیوله. د احمد شاه د باد شاه انتخابېدو په وخت هم حاجي جمال خان محمدزی بارکزی د باد شاهۍ په طمعه ؤ خو وروسته په دې فیصله وشوه چې وزارت به د بارکزو په کورنۍ کښې د محمدزو وي. خو په ۱۸۱۸ع کښې څه وخت چې د شاه محمود سدوزي او د هغه د زوی کامران د بې عقلۍ له کبله وزیر فتح خان ړوند او ووژل

---

(۱) د سدوزو د حکومت دوره (۷) کاله وه.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو، خود سدوزو او بارکزو په مینځ کښې جګړې روانې شوې او آخر حکومت په ۱۸۲۶ع کښې د دوست محمد خان بارکزي محمدزي شو.

د محمدزو بارکزو حکومت په دوو دورو وېشل کېږي لومړۍ دوره د دوست محمد خان نه چې د سردار پاینده خان زوی ؤ د ۱۸۲۶ع نه پیل کېږي چې د ۱۹۲۹ع د امان الله خان د خلع کېدو تر وخته پورې د بارکزو د لومړنۍ کورنۍ د حکومت دوره (۱۰۳) کاله وه.

دوهم دوره یې د محمد نادرخان د سردار محمد یوسف خان د زوی نه چې د سقاؤ د زوی نه چې د امان الله خان نه یې حکومت نیولی وه، باد شاهي ونیوه او په ۱۹۲۹ع کښې پا د شاه شو، لدې

---

(۱) محمد نادرخان د یوسف خان زوی او هغه د یحیی خان زوی، هغه د سلطان محمد خان زوی، هغه د سردار پاینده خان زوی، د امیر دوست محمد خان ورور ؤ.

سردار سلطان محمد خان په پېښور کښې او سېده او په پېښور سردار ئې نو یاد ېدل. د سلطان محمد خان مشر ورور یار محمد خان چې د سید احمد بریلوي سره په جګړه کښې و وژل شو او د وه ورونه یې نور هم وو چې سید محمد او پیر محمد نومېدل.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وختــه نيولى تر سردار محمد داؤدخان د وختــه ۱۳۵۷هـ.ش/۱۹۷۷ع پورې د حکومت د وره وه چې په دغه وخت کښې حکومت نورمحمد تره‌کي ونيوه. د دې کورنۍ د حکمرانۍ د وره (۴۹) کاله وه.

د بارکزو اکثره خلک مالدار دي او ځينې پکښې زميندارې هم کوي. اڅکزي هم د بارکزو يوه څانګه ده، چې په سياسي غرض احمد شاه بابا د څانګه د بارکزو نه بېله کړه او څانله بېله تپه شوې ده.

په ابداليو کښې نورزي هم د بارکزو همره دي خو د وى د ملك په قبلېز وغرونو او د سيستان په ريګستان کښې خوارهٔ واره پراته دي، نو ځکه په طاقت کښې د بارکزو نه لږ دي.

علىزي په زميندارکښې آباد دي او د کرکيلي کار کوي، د وى په خواو شا کښې الکوزي هم پراته دي او د زميندارو په سوېل کښې اسحاق زى هم اوسېږي، د وى په مالدارۍ خپله ګذاره کوي.

د ابداليانو په علاقه کښې هرات، کندهار، ګرشك، فراه۔ لوى ښارونه دي.

## بريڅ:

بريڅ اکثره د شوراوك په علاقه کښې پراته دي، قطب ته‌ېې دُراني او په سوېل بلوچ آباد دي، نمرخاته يې دخواجه‌عمران

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرونه دي او په قبله يې مصرا ده.

د شوراوك په علاقه کښې دلوړے سيند بهيږي له دې کبله دا علاقه ودانه ده. دا علاقه چې برېڅ پکښې پراته دي، لبن و د بر شپېته ميله مربع به وي.(۱)

## اُرمړ:

د اُرمړ اصلي خپل نوم عمرالدين دی، خو په اُرمړ مشهور شوی دی. د اُرمړ ځينې خلك په افغانستان کښې په لوګر کښې يې او څه د وزيرستان په کاڼي ګرام او ځينې د پېښور په دريو کلو برا ارمړ، کوز اُرمړ او ميانه اُرمړ کلو کښې استوګن دي.

اُرمړ يا عمرالدين د شرخبون زوی، د سړبن لمسی او د قيس بن عبدالرشيد کړوسی کېږي. اُرمړ خپله يوه خاصه ژبه لري چې په کاڼي ګرام کښې پرې اوس هم خبرې کېږي، خو دا نور اُرمړ هغه ژبه نه وايي او په پښتو خبرې کوي.

---

(۱): د هندوستان مشهور نواب رحمت خان او د ۱۸۵۷ع کال د جنګ آزادي ميړه جرنيل بخت خان هم د واړه د برېڅ د قبيلي نه وو.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خرشبون بن سربن بن قیس عبدالرشید اولاده

## خرشبون یاخیرالدین

ګند — خمند — کسی

او د ګند نه خشي یاخښي زحینی اوغوري دی .

(۱) بسود شیخا بنځه وه
د بسونه ترکاڼي دي چي په باجوړ
کښې مېشته دي .(۱)
اولاده يې ماموند او سالارزي دی.

(۲) میرجانه د شیخابله ښځه وه .
مک — مند
د مک نه یوه لوړ وه ګاګی.
اولاد يې «ګیګیاڼی» دی .

---

(۱) نوټ: وېيلی شي چي د بسونه ترکاڼي دی د ترکاڼی نه ماموند او سالارزي دی . د ماموند نه برهوزی ، برم کازي او کاکازي . او د سالارزي نه برسدين او لرسدين او د چارمنګو قومونه دي او د چارمنګی نه شمه خېل ، تورخېل ، هلال خېل ، خانزده ګان دي .
ترکاڼي د باجوړ په جندول کښې مېشته دي او ځيني يې څلور قامه ګڼي : عیسیٰ زي ، سالارزي ، ماموند او . . . زی ، د جندول عمراخان مست خېل عیسیٰ زی و . (نور په بل مخ کښې)

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلی شي چې د ترکاڼي دوه زامن وو:

۱، موسی ۲، شعیب.

د موسی اولاده ۱، محمود یعنې لوی ماموند ۲، اسمعیل زی،

د اسمعیل زي اولاده دا ده: ۱- وړوکی ماموند ۲- کاکتوړ ۳- حسن ۴- عیسی یا اسیوزي ۵- مدی چې اولاده یې خوږجی، معروف او الیاس دی ٦- هارون ۷- موردی ویلی شي چې د کاکتوړ اولاده ده بدخشان او هرات ته تللې ده او د ککی زی اولاده پنجاب ته تللې ده او ایسوزي په جندول کښې اړولی دی چې مست خېل قبیله هلته ایسوزی دي. عمراخان د جندول د امان خان زوی د فیض طلب خان نمسی هم مست خېل ایسوزی ؤ.

ترکاڼي تر ۱۵۰۸ع پورې په لغمان کښې ووا و تاریخي معلومات یې شته چې په ۱۵۱۹ع چې بابر مغلی بادشاه باجوړ نیولو هم ترکاڼي دلته په باجوړ کښې نه ووا و وړوسته راغلي، خود یوسفزو او دله زاکو په جنګ کښې ترکاڼي د ملک کجو یوسفزي په مرسته راغلي وو او د ملک هېږ دله زاك او د هغه وړوړ شاه جهان د پاینده او برهان کاکی زی د لاسه وژل شوی دی.

داوسنی ترکاڼي داسې دي مست خېل عیسوزي په جندول او ماموندزي او بشپې داسې دي:

کاکازي، وړیا زي، خلوزي دي. او سالارزي دا خېلونه دي:


Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمه خېل، تورخېل، هلال خېل او خانزادګان دي. د ترکا ړودخانې کوږ براهیم خېل هم سالازي دي او په هلال خېل ګڼېږي.

## مند




د سالارزي بن الیاس بن موسی بن یوسف نه :

ایپخېل او علي خېل دي، چې د ایپخېل نه مرجان خېل، علي شېرخېل او کمبوخېل دي او د علي خېل نه جلال خېل او هوتي خېل دي -

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




د جلال خېل نه حسن خېل ، مصري خېل ، ولدخېل دي او د هولي خېل نه ، فريد خېل ، فتح خېل ، طاؤس خېل ، همېل خېل دی . د ماموزي بن الياس بن موسیٰ بن يوسف بن پنجپا او مخوزي دی .
او د تاجي بن الياس بن موسیٰ بن يوسف نه ګدري زي دي . او د ګدري زي نه حسن خېل ، بهرام خېل ، علي شېرخېل او سين خېل دي[1].
د ممی بن الياس بن عيسیٰ بن يوسف نه عايشه زي[2] او د عايشه زي نه باخېل ، خدين خېل ، موسار خېل او خاکي زي - دي .

---

(۱) دعيسیٰ بن يوسف اولاده په اګره دره او د اباسيند په شرقي او غربي غاړه ودان دي ، او د موسیٰ اولاده په بنير پرته ده .
د ملي زي اولاده په دير او پنجکوړه پرته ده .
د اکود اولادې شجره ښودل شوې ده اوس يا زي د موړ دازار له کبله نه دي ډېر شوي او څه لږ و ډېر چې دي د چغرزو سره او سيږي .
(۲) اولاده يې د ښځې په نوم عايشه زي يادېږي .

Kitaboona.BlogSpot.Com

# داکوبن یوسف شجره




(۱) د دیر نوابی د پاینده خېلو په څانګه ملیزو کښې راغلې ده او د دې کورنۍ مشر الیاس اخون صاحب وو، خو کېږ و لیکي چې لوړی خان اسمعیل خان ؤ۔ وایي چې غلام خان د دیر د خانۍ مؤسس ؤ.

الیاس بابا د ابراهیم هغه د با احمد هغه د پاتیره بابا زوی ؤ. د الیاس بابا نه اسمعیل، خضرخان او غلام جان دی. د خضرخان نه قاسم او د هغه نه غزن خان د هغه نه رحمت الله خان د هغه نه اورنګ زیب خان د هغه نه شاه جهان وروستی نواب ؤ چې ۱۹۶۰ء کښې د پاکستان حکومت لرې کړ و.

## د سهیل بن بایزی بن گوهر بن اکو، بن شریف نه؛

- اباخېل
  - خان خېل
  - شېراغا خېل
  - خشالی خېل
  - حاجی خېل
  - سمعیل خېل
- عزین خېل

## او د سلیمان بن بایزی بن گوهر نه؛

- متوزي
  - لال خېل
  - بهلول خېل
- موسی خېل
  - فتون خېل
  - درویز خېل
  - دولت خېل


## او د بابوزي بن بایزي بن گوهر بن اکو نه؛

- اباخېل
  - هندوخېل
  - پیره خېل
  - بازید خېل
  - میرو خېل
- مالي خېل
- برت خېل
  - دادي خېل
  - زرنګ خېل
- اکاخېل
- معروف خېل

او د اکو د بلي ښځې را منځه نه دري زامن وو چې څکښې لیکلي شوي هم دی: (نور په بل مخ کښې)


(c) ketabton.com: The Digital Library






Kitaboona.BlogSpot.Com

# سربني قبایل





Kitaboona.BlogSpot.Com
(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library




داسمعیل خېل نه غازي خاني او دلاورخان کور، اودلاور نه کیوردی.


کشران زي





د الله داد خېل نه




منی خېل




او د بره خان خېل نه





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مشران زي بن عنایت بن کال زي بن عثمان بن عثمان ـ
بن منـدړ نـه




د عیاره خېل بن دولت زي یا بارك نه معروف خېل ، ملي خېل ، قابل خېل دی . او د ملي خېل نه خان خېل ، خواجه خضرخېل، سلطان محمد کوړ دی .

او د قابل خېل نه بهرام خېل ، متاخېل ، زمان خېل ، سنګوخېل او د سنګوخېل نه سعید کوړ دی .

او د اسمعیل زي بن دولت زي نه بوته خېل ، بقال خېل - جوناخېل ، سکندرخېل ، یعقوب خېل ، د یعقوب خېل نه اوریازی او اسحاق زي دی .

د سکندرخېل نه طاؤس خېل ، دوړخېل ، بام خېل دی . او د

Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



حسام بن دولت زي نه بازيدخېل دی او د هغه نه سيدخېل او سليمان خېل دی .

د سيدخېل نه جمال ، جلال او نيکنام دی ،او د سليمان نه - ملاميرداد ، الله داد د ملامير نه پيروخېل ، نقره دين خېل ،عيسیٰ خېل يا نوخېل دي .

## شجره اتمان بن عثمان بن مندړ





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کنازی




# بابوخیل




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «پنج پاو»

- کالوخېل
- پاینده خېل
- عمرخېل
  - طاؤس خېل
  - باباخېل

## «سمبوخېل»

- بسوخېل
  - د ونی خېل
  - حواجي خېل
- علي خېل

## «خضرخېل»


- امیرزي خېل
- اوسی خېل
- شادوم خېل
- بابرخېل
- پانوخېل
- مددخېل
- اوریاخېل

## د شیخ علی خېل بن پیرک زی نه :


- نیکنام خېل
- فرید خېل
- جهانګیرخېل
- خان خېل

Kitaboona.BlogSpot.Com


## د سه صده بن کنازي نه ؛




## د باکو بن کنازي نه ؛




## د سدو بن اتمان د (۲)، ښځې نه ؛




(نور به بل مخ کښې)

Kitaboona.BlogSpot.Com

## نصرت خېل بن اُتمان بن سدو نه

- مېوخېل
  - ایسوخېل
  - غالي خېل
  - درې تپې
  - منصورخېل
  - خضرخېل
  - یاسه خېل
- اوسنی
  - داوسني خېل نه بلړخېل - طاؤس خاني ، ایپ خېل ، یحیائي جوخېل - زکریاخېل دي . اود بلړ نه دزیاخېل دي

او د " درې تپې " نه : حکاخېل ، مکاخېل ، حسن خېل دي .

## د دولت خېل بن اباخېل بن حلوزي بن اُتمان نه :

- دنیاخېل
  - معروف خېل
  - بره خان خېل
- سه صده
  - داودخېل
  - مچي خېل
  - بره خېل
  - شرفه خېل

## او ماني خېل بن عمرخېل بن حلوزي بن اُتمان نه :

- طاؤس خاني
- ششمه خېل
- کرم خېل
- شېرزاد خېل

او د یسوخېل بن عمرخېل نه : زیدخېل ، مستي خېل ، سلطان محمدخېل ، جوخېل او قسي خېل دي .


او د محمدخېل بن عمرخېل نه : میری خېل ، سامل خېل ، ایوب خېل او نیکنام خېل دي .

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دري زي بن سدو بن اتمان د نسب شجره؛





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# "خدوخیل"





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رزړ یا زختر بن مندړ بن شیخا بن کند شجره د نسب داسې ده:





Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خاتون خېل بن ملک زی بن رزړ نه :




## او د زیدو خېل بن ملک زی نه :





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# او د اکوړخیل بن ررڼه :





او د شهرامان نه : شهریارخان ، اسفندیار
او خوږې تبسم ده . او الله یارخان ، شاروم خان
او ابن امان د بلې مور دی .

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




## او د خضرزي بن رزړنه:




Kitaboona.BlogSpot.Com

# او د ماموزی بن رزړ نه :




نوټ : نواز خیل د ماخیل نه پیل شوی او اکوړبن رخې ته رسي او مرکزي کلی اسمعلا دی . د وبیان ، دولت باړ ارګی او نور یې د خانه کلی دی او شیرامان خان یې اوس د وخت خان دی .

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




# سړبن قبائل

## غوریاخیل، مومند، داؤدزی

غوری بن کُند بن خرشبون بن سړبن بن قیس عبدالرشید

غوری یا "شیخ ابراهیم" (د مخزن افغاني ۸۰۲ پاڼې نه)




(۱) ملا گوري د الفنسټن په قول د غوري پنځم ځوی دی.

Kitaboona.BlogSpot.Com

## ”حسن“

ایوب خېل — شابو خېل — ساک خېل(۱) — تور خېل

## ملهي

اباخېل — غازي خېل — متي زي

## مندو

سلیمان خېل — غیازي — مندوزي

## د ”کوکو“ بن مومند نه

رحمد زي — اکازي — حیدرزي — بابک زي

## موسیٰ بن مومند نه

حیدرزي — عیسیٰ زي — علي زي — بایيزي — خوږيزي — عثمان زي

## مهیار

دولت زی — دوړ — بنوزي — یوسف

نوټ: خو عام روایات وائي چي د مسي زي نه بایزی، خوږيزي، حلیم زي، ترکزی، اتمان زي او د میتي زي دي.

(۱) په ځینو نسخو کي زاخېل ښوول شوي هم دي.

# « کوکوبن مومند »

**أحمدزي بن کوکو نه**
- موسیٰ خېل
- ذکریا خېل
- کوزي
- سنجر

**د اکازي بن کوکو نه**
- قاسم
- اوریا خېل

**د حیدرزي بن کوکو نه**
- دولت زي
- یحیٰی زي
- نورزي
- بختیار

**بابکزي بن کوکو نه**
- کوهتی زي
- بازید خېل
- استرا

**د موسیٰ زي بن مومند بن د ولت یار بن غوري نه**
- حیدرزي
- عیسیٰ زي
- علی زي
- بایزي
- خویزي
- عثمان زي

الف: <u>د حیدرزی نه</u>: تاجوزي، عمرزي، بائي زي، حاجی خېل دي.

ب: <u>د عیسی زي بن موسیٰ نه</u>: حلیم زي او ترک زي دي چې د حلیم نه ګند او کمالی دی (عام روایات دي چې حلیم نه بورشا او همزادی).

او <u>د ترک زي نه</u>: برهان خېل، عیسیٰ خېل، شاه منصور خېل او مورچه خېل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library
Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اود علي زي بن موسی نه:** اسمعیل زي او ننتازي دي.

**اود بایزي بن موسی زي نه:** بابا او عثمان دي.

**د بابا نه:** موسی خېل، باره خېل، میروخېل دي، چې په سه پایئ م یادیږي او مامازي او نظرخېل يې هم وروڼه دي، چې مامازي د بابا او نظرخېل په عثمان او مخصوص په اتمورتړلي دي.

**دعثمان بن بایزي بن موسی زي بن مومند نه:**

١: کریم ٢: اتمور

**دکریم نه:** عیسی خېل، خوګاخېل، ادوخېل او میتاخېل دي.

**اود اتمورنه:**

١: ابرخېل ٢: خوازه خېل

**دابرخېل نه:** بنادي، مرادي، شلول، بنکر، تتر، اتمرکلی، او نظرخېل م په دوی تړل شوی دي.

**دخوازه خېل نه:** کُدا، دوړ، میرزا، یعقوب، اکر او جمال دي.

**دکُدا نه:** ازاد، ولیداد، میاخان او علیخان دي.

**دخویزي بن موسی نه:** اتمان زي، اکارزي، حبیب زي، دویزی دي.


**دعثمان زي بن موسی زي نه:** سدوزی، ابوزي، کوردین او بهدین دي.

**نوټ:** د پاس مومند معروف زي په اوس زمانه کښې داسې دي. دغه پاس زي شته دی، چې دا دوه بایزی او خویزی په برمومند


Kitaboona.BlogSpot.Com

او دا نورڅلور زي په کوز مومند یادیږي .


## د داؤدزی مومند د وروردولت یاردزوی نه :




## د خلیل بن غوري نه




## څوکښي بن غوری نه



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ریاخان بن ځوکني بن غوري نه

- نصرخېل
- برهم خېل
- ترجي خېل
- تونني زي

## د خاني خېل بن ځوکني نه

- مموت خېل
  - کودړ خېل
  - مبارک خېل
  - سلطان خېل
  - مدي خېل
- بلاجوخېل
  - مصطفی خېل
  - تور خېل
  - جمال خېل
  - شېرخان خېل

## خواجه خېل بن ځوکني نه ؛

- دری خېل
  - شوبي خېل
  - حکیم خېل
  - ولي خېل
  - فتح خېل
- موزر خېل
  - گل شېر خېل
  - جلال خېل
  - سنگر خېل

Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library




# سړبني قبائل؛

خمند بن خرشبون بن سړبن بن عبدالرشید نه؛
خوېشکی او محمدزي یا مامن زي دی،

## خود خمند نه دا خېلونه دي؛





## دحین زی بن ثوریانی بن خوېشکی نه




Kitaboona.BlogSpot.Com

او د شموزي نه عیسیٰ زي، علي زي، اتمان، وشک، هدا او موسیٰ زي. (داد خورشید جهان لیکنه ده).

## دکتای بن څمند نه




د عزیزی نه زبرزي دي او د زبرزي نه کزلاني دکزلاني نه مچوزي

دمچوزي نه سلمان دي، د سلمان نه اسمعیل او نورالدین دي.

**دعمرزي بن کتای بن څمند نه:** (۱) ملازی (۲) علازي.


عمرزی




## او د غیبي زي بن کتای نه؛





## او د محمدزی یا مامن زي بن څمند نه؛




خو خورشید جهان په ۱۱۹ پانه کښې وتمان زي پسي تورم زي هم لیکي.

## او د توخي بن څمند نه؛




(c) ketabton.com: The Digital Library
Kitaboona.BlogSpot.Com

# کسی بن خرشبون بن سړبن نه؛

## «کسی»⁽¹⁾

الوزی زمریاني محمدزی موسیغ سیرون کتران کومیار شینواری

(۱) شیخ ملي خېل (۲) خوګاخېل (۳) میرداد خېل (۴) سنګرخېل (۵) سرکی خېل (۶) سلیمان خېل (۷) خضرخېل.

خورد تاریخ خان جهاني مخزن افغاني په ۸۰۲ پاڼه کښې لیکي چې:

د شینواري زامن (۱) عثمان (۲) سلیمان دی. د عثمان نه بارك او هدیا دي د بارك نه عبدالله او بدلال دي. د عبدالله نه (۱) حاجی (۲) بوسعید (۳) منديزي (۴) کوبي زي (۵) یحیٰ زي (٦) الوزي دي. د حاجي نه (۱) عبدالرحیم خېل (۲) شبلی دی چې د عبدالرحیم نه سنګوخېل، عدل خېل او علي شېرخېل دي او د منديزي نه همزه خېل، حسن خېل او الیاس خېل (بر شینواري) دي.

---

(۱) خوسرالف پخپل کتاب پټان په ۳۵ پاڼه کښې لیکي چې د کسی زامن: (۱) کتران (۲) شینواري (۳) کاسی دی، چې اولاده يې دکویټې شاوخوا استوګن دي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خرشبون بن سړبن د درې واړه زامنو کند ، ځمند او کسي شجرې ولیکلې شوې ، لکه په شجرو کښې چې یې یاد شوي دي د کند د وه زامن وو، شیخا یا شیخي یا خیشي خېل یا خبني او بل زوی یې غوري یا شیخ ابراهیم ؤ چې اولاده یې په غوریاخېل باندې یادیږي.

د پټې خزانې په قول چې شرخبون دخپل پلار سړبن او تره بیټ نیکه په ژوند او اجازه د هغوی نه راغلی ؤ او د ارغستان په علاقه کښې د غُنډان او سوره غره په شاوخوا کښې اړولي وو. او دا هغه ځمکه ده چې په غوره مرغه یادیږي.

اخون درویزه لیکلي دي چې کله د قندهار ځمکې د هغه ځای د پښتنو په منځ کښې ویش شوې ، نو د ترینو ځمکه د خرشبون د اولادې کند او ځمند یعنې د خابني خېلو او غوریاخېلو په منځ کښې وړ سېدله او دا دواړه وړونه یې یو له بله سره بېل کړل ، څه موده پس د خابني خېلو او ترینو په منځ کښې په ویاله څه بدرنګي او مرګ ژوبله وشوه او خابني خېل کډې کولو ته مجبور شو او راغله د خپلو وړونو غوریاخېلو سره یې واړول او هغوی وړته یو څه ځمکه ورکړه ، خو یو څه موده پس بارا نونه ژوړ شو او غوریاخېل په خپله وړ شو کښې تنګ شول او خابني خېلو نه یې خپله ځمکه بېرته وغوښتله ، خابني خېلو په دغه ځمکه ټینګار وکړو ، په منځ کښې جنګ جګړه وشوه او خابني خېل بیا کډې کولو ته مجبور شول

Kitaboona.BlogSpot.Com

او د کابل په لور وکوچېدل ، په دغه وخت کښې د ګوملي له خوا- اتمان خېل هم راکوچېدلي وو او د خابني خېلو سره يوځاى شول او د هغې ورځې نه خابني خېلو او اتمان خېلو پره جنبه سره- يوه جوړه شوه.(۱) څه موده پس مامن زي چې د څمند يوه څانګه ده د خپلو وروڼو نه مرور شو، هغوی هم راغلل او د خابني خېلو سره يوځاى او ملګري شو- او دا خلک نور هم- زورور شول او د کابل په وړمشوکانو ډېره او ښه اسوده شول او مال اولادې هم ښه ډېر شو او په دې ټولو کښې د يوسف او مندړ مال اولاد ډېر شو او د دوی قوت څرګند شو، په دغه وخت کښې د تيموړ په کورنۍ کښې ميرزا ابو سعيد- حکمران ؤ ، هغه د خپل پلوه د کابل په علاقه کښې خپل زوی الغ بېګ حکمران کړی ؤ، الغ بېګ ميرزا په اول کښې د دې خلکو سره ښه سلوك کولو او دی خلکو ېې هم مرسته کوله. ميرزا الغ بېګ په کال ۱۴٦۹ کښې د کابل حکمران شوی ؤ او په ۱۵۰۱ ع کښې مړ دی. ميرزا چې وروسته قوی نشو، نو د غو پښتنو د ومره قوت او زور ېې نشو زغملی. په دغه خلکو ېې داطاعت

---

(۱) خابني خېل د سړبن اولاده ده او وتمان خېل کرلاني دي ، خو په ډله ټپله کښې سره يو شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاره زور راوړو په نتیجه کښې د میرزا الښکر ته دغه خلکو ماته ورکړه او خانښي خېل بریالي شول.

د پښتنو دا بدبختي دېخوا نه لاملګرې ده چې پخپل منځ کښې سره په لږه خبره وران شي او د تمام د تباهۍ سبب شي، همدغسې خانښي خېل او ګګیاڼي قبیلې په منځ کښې په یوه ښځه باندې بده او جنګ جګړې پېښې شوې میرزا الغ بېګ(۱) هم دې اور ته لمن ووهله او نور لا هم پسې ډېر کړه او د خانښي خېلو سره یې هم دوستي جوړه کړه. او څه موده پس د خانښي خېلو ټولو مشرانو ته یې بلنه ورکړه او میلمانه یې کړه.

د خانښي خېلو ټول مشران چې (۹۰۰) تنه کېده بې وسلې دغه میلمستیا ته ورغلل، یوازې د یوه تن محمود د محمد چغرزي د زوی سره یوه چاړه پټه په پله وه.

د ګګیاڼیو مشرچې چېنګا نومېده میرزا ته لمسه وکړه چې دومره پښتانه مشران بیا تاله په لاس نه راځي، هډا مې د دوی کار خلاص کړه. میرزا هم ورته زړه ښه کړ او دا ټول مشران یې د جرګې په ځای کښې راګیر او قید کړل. محمود په دغه حال

---

(۱) : میرزا الغ بېګ د بابر تره په کابل کښې په ۱۴۶۹ء کښې حکمران شو او په ۱۵۰۲ء کښې مړ دی او وروسته د مرګ یې بابر کابل په ۱۵۱۰ء کې ونیولی دی (زسیال)

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې هم خپلو مشرانو ته وویل چې له ما سره یوه چاره شته دی او په دې به زه د میرزا الغ بیګ کار خلاص کړم، خو هغوی د دې کار نه منع کړو. په دغه وخت کښې ملک سلیمان د ملک احمد تره میرزا ته دوه سوالونه وکړل، یو دا چې مونږ هوښاري نو زه مونږه واړه زابزه او زنانه پریږده چې چرته چې هلته لاړ شي او دوی مه قیده وه او بل زما دا وراره ملک احمد مه وژنه او دی پریږده چې لاړ شي او خپلې کډې خوندي کړي.

میرزا د ملک سلیمان دا دواړه سوالونه ومنل او نور دوی ټول یې مړه کړل او د کابل قطب طرف په سیاه سنګ کښې یې ښخ کړل چې دغه مقبره د شهیدانو په مقبره شهرت لري او ویلې شي چې دا پېښه به ممکن ۹۰-۱۴۸۰ع کلونو ترمنځ شوې وي. د دې خونړې واقعې نه څه وخت پس د خاښي خپلو قبیلې د ملک احمد په مشرۍ کښې د کابل نه مخ په ننګرهار را وکوچېدلې، ترکاڼي په لغمان کښې پاتې شو او یوسفزي او مامن زي راغلل په ننګرهار کښې مېشته شول. څه موده پس د یوسفزو او مامن زو په څه خبره سره نښته وشوه او مامن زي یې مات کړه او د ېرتاوانې شو، بیا یې ترمنځه روغه جوړه وشوه او یوسفزو ننګرهار مامن زو ته پرېښوده او دوی ترې ښکته پېښور ته راغلل. په دې وخت کښې میرزا الغ بیګ خپل ملګری ګګیانی هم د

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل نه وتلو ته مجبور کړل او هغوی هم ننګرهار ته راغلل او د پردو د مرستې نتیجه یې ولیدله.

ویلی شي چې په دغه وخت کښې په پېښور، باجوړ او نوړ شاوخوا ځمکو دله زاك (چې د کرلاڼو یوه څانګه ده) پراته وو، (خوځینې مورخین وایي چې د نور وپښتنو قبایلو هم د پرخلك د پېښور شاوخوا ځمکو ته راغلي وو).

یوسفزي د خیبر په لاره پېښور ته راغلل او د دله زاکو سره یې د سپېره سنګ په مقام جرګه وکړله او د استوګنې د پاره یې ترې څه ځمکه وغوښتله، دله زاکو د « دواوې » ځمکه ورته ورکړه، چې بنه ودانه علاقه وه. ملك احمد شکریه ترې وکړه، خو ورته یې وویل چې زموږ نور عزیزان هم را پسې را روان دي، دا ځمکه به موږ ته بس نشي. دله زاکو ورته وویل چې اشنغر چې هغه وخت د سوات د سلطان رعیت وو او تاجك پرې پراته وو او د شاوخوا نورې ځمکې لکه دانشکول او د امبار کنډه آن د باجوړه پورې تاسې نیولی شئ. او یوسفزي او منډړ راغله په دواوه پرېوتل، خو ورپسې نور قام یې هم راغی، د چلر سنګ په نمرخاته د مردان علاقې ته هم پسې ور وغځېدل، اشنغر یې هم ونیوه او ځینې خلك یې تر باجوړه پورې ورغلل او د لاشوړې په دره یې قبضه وکړه او آن د پنجکوړې تر سینده

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلل. په دغه وخت کښې د تیمور د کورنۍ زوال راغلی ؤ، او د پښتنو د ترینو د کورنۍ اقتدار وو، د دې د اقتدار له کبله غوریاخېل هم مهاجرت ته مجبور شول او ښکته راوکوچېدل او مخ په قطب په خاښي خېلو پسې را وخوځېدل.

لکه څنګه چې لیکلی شوي چې په ننګرهار کښې ګګیاڼي او مهمنزي او په لغمان ترکاڼي پراته وو، غوریاخېل هم ننګرهار ته راغلل او له دغه قبایلو سره یې ماتې ګوزې پېښې شوې. د غوریاخېلو په راتللو ګګیاڼي او ترکاڼي د ځان د پاره د بلې علاقې په لټه کښې شو.

ترکاڼي د ډېرې مودې نه د باجوړ په طمعه وو، نو باجوړ ته یې یره دوله سهي ولېږل.[1] ګګیاڼي هم چې خبر شول، دد وی په سیالۍ کښې خپل سړي دوی هم باجوړ ته ولېږل، خو د ترکاڼو نه یې ماته وخوړه او بېرته په ستنه راغلل. د ګګیاڼو طمع چې د باجوړ نه لنډه شوه نو د مومند و په صلاح یې خپل مشران او سپین ږیري یوسفزو ته په ننواتې ولېږل او د ملک احمد نه یې د استوګنې د پاره ځمکه وغوښتله، ملک

---

(۱) ترکاڼي د (۱۵۱۹ع) پورې چې باجوړ بابر مغلي نیولو باجوړ ته نه وو راغلي او دا هم یقیني ده چې په (۱۵۰۸ع) کښې ترکاڼي په لغمان کښې وو.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد یو پوه او مدبر سړی ؤ، نو د دله زاکو د طاقت په مقابل کښې یې دا غوښتل چې د خاښې خېلو ترمنځه یو کلک اتحاد او یووالی جوړ کړي، نو هغه د خپلو مشرانو په صلاح د ګیګیانو - نتواتې ومنله او هغوی ته یې د دواوې ځمکه دا ستوګنې د پاره ورکړه او مهمنزو سره یې دا شنغر وعده وکړه.

ګیګیانو ته چې دا ستوګنې د پاره «د واوه» په لاس ورغله نو هغوی دغې علاقې ته ورغلل او هلته آباد شول.

لکه چې مخکښې لیکلي شوي دي چې یوسفزو د د هقانانو یا د یګانانو، نه اشنغر نیولی ؤ، نو د هقانان د دره مورې پلار د خپل مشر میرهنده په مشره سوات ته لاړل او د تاهې خواوشا یې واړول. سواتیانو د یوسفزو د مخکښې راتلو د مخنیوي د پاره د ملکنډ دره هم ونیوله او د شاه کوټ په دره یې هم قبضه کړې وه. او د یوسفزو د مخکښې تګ د الارې یې نیولې وې. د وعدې سره سم یوسفزو د هشتنغر علاقه مهمنزو ته ورکړه او مهمنزي په هشتنغر آباد شول او ګیګیانې په - دواوه مېشته شول، نو د دله زاکو سره یې بد سلوک را - واخیستلو، چې په دې خبره ملک احمد هم خفه شو ګیګیانو او دله زاکو پرله پسې کشمکش په نتیجه کښې جګړې جوړې شوې او د ګل بېلې په مقام چې د داؤدزو په علاقه یو کلی

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، دله زاکو کیګیانو ته ماتې ورکړه، ملک احمد په دې ماتې بیا د خپل اولس او قام او قبیلې اتحاد ته چمتو شو او د دلهزاکو سره یې د یو فیصله کن جنګ پرېکړه وکړه، ځکه چې د دله زاکو نه یوسفزی په تنګ شوي وو، نو ملک احمد ټول یوسفزی مندړ، ګیګیانی، مهمنزي، وتمانخېل او ګدانه سره یو کړل او یو لوی لښکر یې جوړ کړ. دله زاک هم خبر شول او د جنګ تیاری یې وکړه، او جنګ جوړ شو. د خانيخېلو او دله زاکو د جنګ د کاتلنګ او شهباز ګړهي ترمنځه وشو او نوروړ جنګ د ګدړ په خوړ وشو او اتمانخېلو پکښې ډېر مېړانه وښودله او د دې وجه یو ډول د خړمني ډالونه وو چې د هغې ترشا به تیر انداز راروان ؤ. دله زاک د لنګرکوټ له خوا جنګ ته راووتل. اخون درویزه وایي چې د ټولونه لومړی د علي اسمعیل زوی چې شیرین نوم یې ؤ د خوړ نه راووتل او د زړنګي دله زاک زوی یې وواژه او لاس په لاس جنګ ونښتلو، خو د دله زاکو پښه ونښویده او په تیښته شو. د یوسفزو لښکرو پسې ؤ او د سویل په لوري یې د دله زاکو لار بنده کړی وه، نو دله زاک د لنډي سیند په سویل خپلو عزیزانو ته لاړ نه شول او په اباسین پورې وتل:

د دې جنګ صحیح تاریخ خو معلوم نه دی، خو قیاس دا مې

Kitaboona.BlogSpot.Com

دی چې په ۱۵۱۹ ع نه پس او د ۱۵۲۵ ع نه مخکښې څه وخت به شوي وي .

لکه مخکښې چې ویلي شوي دي سواتیانو د یوسفزو د حملې له وېرې د سوات په لوړ تللي تړلې درې، لکه: موره دره، مالکنډ، شاکوټ او چرات او نور نیولې وې، په دې وخت کښې په سوات باندې سلطان ویس حکمران وُ (دا معلومه نه ده چې دا د کومې کورنۍ او څوك دی؟) دغه سلطان د یوسفزو د غلبې نه د ساتنې په غرض د ملك احمد سره خپلوي کړې وه او د - هغه خور يې واده کړې وه . د سلطان ویس صدرمقام مینګوره وه، څه موده پس چې د ملك احمد خور مړه شوه او د سلطان ویس سره بیا د یوسفزو نه وېره پیدا شوه او د هغې لوی عامل دا وُ چې یوسفزو په دله زاکو هم بری موندلی وه او د دغه جنجال نه خلاص وو او د سوات د نیولو په تکل کښې وو، سواتیانو خپل ډېر زور په موره دره اچولی وُ او څه لښکر د سلطان ویس په ماتحتی کښې په مالکنډ دېره وُ خو غافل وُ ځکه چې د جنګ ټول زور په موره دره وُ، یوسفزو چل وکړو خپل لښکر یې شپه په شپه مالکنډ ته ورسولو او د هغه ځای سواتی لښکر یې مات کړو او مالکنډ یې ونیوه، میرهنډه هم د موړې نه د سوات تامنې ته ورغی چې د سلطان ویس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمک وکړي او د یوسفزي لښکرتم کړي، خو وار تېر ؤ.یوسفزو سوات قبضه کړ او ورو- ورو یې ټول سوات آن د پوړن او چکیسره او کانړا او غوربند هم ونیول او د تالاش علاقه یې هم قبضه کړه او د کاټکلي په مقام یې د باجوړ لښکرهم مات کړ، دا رنګ برنګ علاقه یې ان تر ناوګه ونیوله، نو د ملک احمد په مشوره او صلاح « شیخ ملي » چې د منډړو په اولس کښې د پیرک په ذیله کښې یو هوښیار سړی ؤ او د ملک احمد په هره مېنه بده کښې مشاور او ملګری ؤ د نیولې شو علاقو د وېش بند وبست پیل کړ.

دا علاقه د دواوې او هشتنغر نه نیولې د لنډي سیند په قطب د اباسین ترغاړې پورې د سیمې سوات، بُنېر او - باجوړ په څه برخه او دیر او نور ځایونه کېدی شي داوېش د ډېر تدبر او فکر، غور او محنت کار ؤ او دا یو داسې چاکولی شو، چې هغه د فکر او تدبر خاوند، په قبایلي مزاج واقف او د دغه ارنې ځمکې د جغرافیه نه ښه خبروي او- « شیخ ملي » د دې لوی کار د کولو قابلیت لرلو.

د شیخ ملي د دې وېش څه پوره تاریخ خو معلوم نه دی، خو قیاس دا کېدی شي چې دا به د ملک احمد په ژوندانه د کال (۱۵۳۰ع) شاوخوا شوی وي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکار په داسې قابلیت او هوښیارتیا شوی دی، چې سړی ورته او س هم تعجب کوي. مثلاً چې چېرته د یو د وو قبیلو جګړه پرې کېدونکې وه او احتمال ؤ د هغو په منځ کښې پرته ځمکه یې کومې ستانداري کوړنۍ ته د څېړې یا «سېرۍ» په نامه ورکړې چې اینده د دوی پرې پیښنه نه شي.

د دې وېش په اثر د واوه د ګیګیانو، هشتنغر د مهمنزو او ارنګ برنګ د وتمانخېلو ورسپډلو او د سوات او سمې په منځ کښې قطب ته یوه ټوټه ځمکه نوره هم وتمانخېلو ته ورکړې شوه او ګدا نه ته د قطب په لور غریزه علاقه ورکړې شوه او د سوات زرخېزه ځمکه او سمه یوسفزو او مندړو ته ورکړې شوه.

د شیخ ملي او ملك احمد قبرونه په سوات کښې دي لکه د ملك احمد قبر په الله ډنډ کښې او ویلی شي چې د شیخ ملي قبر په غوربند کښې دی.

( د خوما د نوي کلي د روشن خان چې د تاریخ یومینه ورېې هم دی او پښپله مؤرخ هم، اورېدلي چې د شیخ ملي قبر په سوات کښې دی او ماته معلوم دی.)

دا د واړه اشخاص د مندړو د قبیلې نه وو. ،ځو په دې وېش کښې بیاځه بدلون راغلی چې د سوات پنجکوړې -

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بونېر پټوله غریزه علاقه د یوسفزو او مندړ پټول سمېټه راغلي دي، دا خبره د خان کجو د قبر نه هم معلومېږي. دا قبر د صوابۍ د مانېرۍ په منځ د بدرۍ نالې په غاړه د کجو غونډۍ ته مخامخ پروت دی. هغه مال د مندړو علاقه ورانه او د سوات د یوسفزو علاقه ښه ودانه وه، خو نن د مندړو علاقه د نهرونو له برکته ډېره ودانه شوې ده د یوسفزو په علاقه کښې په سمه او سوات، دیر او دوړو ځایونو کښې شېر لویې نوابۍ هم وې، چې د پاکستان د جوړېدو سره ختمې شوې. د ملک احمد قبیله مکښې م د داشکول او امبار د نیولو په تکل کښې وه د باجوړ د دله زاکومشر هلته ملک هیبو ؤ او ښه د اقتدار خاوند ؤ، یوسفزي بې هلته نه پرېښودل، نو یوسفزي مجبوره شول او د خلیلو نه چې د غوریاخېلو یوه څانګه وه، د مرستې غوښتنه وکړه. خلیل په دغو ورځو کښې د خپلو وړونو عزیزانو سره په جنګ جګړو اخته وو، خلیل د یوسفزو سره راپاڅېدل او بلې خوا ته ملک هیبو پخپل قوت او قدرت ډېر غاوره ؤ او پخپله خبره ټینګ ولاړ ؤ او یوسفزي یې باجوړ ته نه پرېښودل. په دې وخت کښې مومند چې د غوریاخېلو یوه مهمه څانګه وه او ترکاڼي چې د خاښي خېلو

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذیله وه ، د ملك هیبو او یوسفزو د جوړې د پاره د-
جرګې په ډول باجوړ ته ورغلل ، خو دا مرکې بریالۍ نه شوې
او ړوغه ونشوه او ملك هیبو د یوسفزو سره جګړې ته
تیار شوا وجګړه ونښته ، مومند او ترکاڼي هم پې طرفه -
پاتې نشول او د یوسفزو په مرسته ور درېدل . په جنګ کښې
د یو ترکاڼي برهان دلاسه هیبو ملك ووژلی شو او د ملك
هیبو زغرې یو مندړ میرجمال نومي وړوړه او په ښېړ دره
کښې د هغه سره تر ډېرې مودې وه .

یوسفزي په دې جنګ کښې بریالي مشول او دله زاکو
پاتې وکړه او خلیلو او یوسفزو باجوړ قبضه کړو ، څه
موده پس د خلیلو او یوسفزو په منځ کښې هم جګړې پیښې
شوې او خلیل په دغه جګړه کښې بریالي مشول ا و یوسفزي
مات شول او د ملك احمد نه یې مرسته وغوښتله ، -
ملك احمد پخپلو عزیزا نو خفه شو ا و مرستې ته یې مـلا
وتړله او د طاقت د استعمال سره یې د سیاست نه همکار
واخیست ا و ملك میرجمال یې د ملك هیبو کورنۍ ته په ښواتې
ور ولېږه ، هغوی د میرجمال ښواتې ومنله او د یوسفزو
مرستې ته هم ور دربدل ، یو خو میرجمال او د هیبو کورنۍ
سره یو شوه او لښکرې یې باجوړ ته را ټول کړا و د بلې خوا

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملك احمد هم د پناه یالی او دانشکول په لاره تر ناوکی را ورسېد او د خلیلو او یوسفزو جګړه جوړه شوه او خلیل مات شول او ښځې او واړه زاړه یې د ملک احمد د لښکر په لاس ورغلل. ملك احمد او میرجال جګړه وکړله او په سوله یې د خلیلو بندیان، په دې شرط چې دوی به باجوړ د رې ته ورپرېږدي، پرېښود ل. د باجوړ دا جنګ د راورټي د وینا مطابق به د ۱۵۱۷ع په خوا وشا کې شوی وي. په باجوړ کښې د غوریاخېلو دا جنګ د پېښور په وادي او خوا وشا علاقو د قبائیلو د مهاجرت اغاز ؤ (۱)

د غوریاخېلو د پاره چې د باجوړ څخه بنده شوه، نو دوی هم د خاښي خېلو په پله روان شول او د خیبر په لاره پېښور ته راغلل. دا علاقه لا تر دغه وخته پورې د خیبرنه تر خیرآباده پورې د دله زاکو په ولقه کښې وه. خلیلو او مومندو هم د دله زاکو نه د استوګنې د پاره څه ځمکه وغوښتله، خو

(۱) مومند چې د غوریاخېلو یوه مهمه څانګه ده د بابر مغل بادشاه چې په کال ۹۱۳ هـ کښې د غلجیو پښتنو دا رام کولو د پاره هڅه خواتللې ؤ د مومندو یاد هم کوي. په دغه وخت کښې مومند و مقر خوا وشا او د غزني په نانۍ او سرده کښې آباد وو، د بابر د وینا نه د مومندو د مهاجرت تصدیق کېږي چې د نهم هجري قرن په آغاز کښې شوېدی.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دله زاکوچې څه بنیګړه د یوسفزو سره کړې وه او نتیجه یې بدې لېدلې وه، هغه لاورته یاده وه، نو د وی ته یې انکار وکړ. نو خلیلو، مومندو د میرزا کامران نه چې د بابر زوی ؤ او په کابل حکمران ؤ، د کومک او مرستې غوښتنه وکړه، میرزا کامران د خپل ورور همایون نه، چې د بابر بل زوی ؤ، او د هغه په ځای باد شاه ؤ، د حملو د وېرې نه د یوې قبیلې احسان منده کول د ځان د پاره ګڼه ګڼله، نو د هغوی کومک او مرسته یې وکړه او خلیل مومند د دله زاکو په مقابل کښې بریالي شول.

نو دلته داویلی شو او یقین کیږي چې پېښور ته د خلیلو مومندو ورتګ چې د میرزا کامران په وخت کښې شوي دي، نو دا به د ۱۵۳۰ع او ۱۵۴۵ع په منځ میانه زمانه کښې شوې وي.

خلیل د خیبر په خوله کښې پرې وتل او د دوی مشران به د ارباب په نوم یاد بدل او د اپریدو سره یې هم ښه تعلق ؤ. نو مغلو، سیکانو او انګرېزانو به د اپریدیو سره جرګې مرکې هم د دوی په واسطه کولې او دوی د اپریدو په خوی بوې ښه بلد وو.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خانبي خېلو او غوريا خېلو

## تعلقات

د پېښور په ودانه علاقه مومند پرېوتل او دا زرخېزه علاقه يې په لاس کښې شوه او ورسره د ګندا او مېچنۍ لارې هم راغلې او د وچې لارې او سيند محصول به يې اخېستلو ، نو خليل مومند په لږ څه وخت کښې ښه شتمن شول، نو د دولت او طاقت په زور يې د دواوو او هشتنغر د نيولو هوس هم ورسره پيدا شو او د يوسفزو په علاقه به هم کله ناکله بلوسېدل .

په دې وخت کښې د يوسفزو او منډړ و مشر ملک خان کجو، څه په سړه سينه د دې حالاتو څارنه کوله او جنګ جګړه يې په دې نه خوښوله چې د څه دا ګومان وُ چې د هشتنغر مهمنزي به د ده ملګرتيا و نه کړي ، نو يوه مناسبه موقع يې کتله.

په دې کښې د ګيګيانو يو محترم د روند ملک د څه کار د پاره پېښور ته روان وُ او د خليلو د يو کلي په جومات کښې د نمانځه د ادا کولو د پاره هلته تم شو ، نو د خليلو ځوانانو د

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نمانځه په وخت دغه ملك ووشړلو او په دې خبره خابني خېلو ته ښه موقع په لاس ورغله او د خابني خېلو د ټولو ټپورنه۔ يې يو زورور لښکر تيار کړو، په دې لښکر کښې يوسفزي، مندړ، ګيګيانړي، مهمنزي او وتمانخېل او ترکاني هم شامل وو. خان کجو په غوريا خېلو د حملې په نيت ورروان شو، غوريا خېل هم جنګ ته ولاړ وو. د دوی جنګ د لنډي سيند ديو سويلی خابڼ (شاه عالم) په غاړه جوړ شو او دا جنګ د شيخ ننټپوري په نوم مشهور دی.

شيخ ننټپور په دواوه کښې د يو کلي نوم دی. ويلی شي۔ چې د دې جنګ په نتيجه کښې غوريا خېل و وهلی شول.

راورټي يو انګرېز مؤرخ دا جنګ د ۱۵۵۰ع کال په شا۔ وخوا کښې وايئ، او افضل خان ختک دا ټولې قيصې ګډې وډې او بې ترتيبه او بې تاريخه ليکلي دي. او د خرشبون او شرخبون د اولادې په منځ کښې د ژبې، لباس او تمدن فرق مؤرخين شکيان کړي دي چې دا ځنګه د يو بابا اولاد دی؟ خير په هرحال روايات همدغسې راغلي دي، چې شرخبون يا شرف الدين او خرشبون يا خيرالدين ورونه او د سړبن- بن قيس عبدالرشيد زامن دي، او د شرخبون يا شرف الدين په اولاده کښې ترين او ابداليان مُهمې ځانګې دي او شيراني

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریخ او میانه او ورمرهم پکښې راځي او دخرشبون یا خیرالدین په اولاده. کښې خابني خېل او غوریاخېل او ناوخېل مهمې څانګې او نور راځي او دا دکند اولاده ده او د جمند اولاده لکه خوېشکي ، مهمنزي او ګیګیانې دي او ترکانې هم دکند د اولادې د څانګې نه دي.

د پټې خزانې د روایاتو مطابق دخرشبون یا خیرالدین بن سړبن د شروند زمانه ۳۰۵ ه نه تر ۴۱۱ ه پورې ده. نو د بل ورور دشروند زمانه هم د دې کلونو شاوخوا ټاکل کیږي که څه هم دا خبره پوره معلومه نه ده.

دخرشبون د وفات پر وخت (۴۱۱ ه) کښې په غزنې باندې دآل ناصر حکمراني وه. دالبیروني وینا خو داده چې د دغو تاریخونو نه مخکښې هم پښتانه په پېښور پراته وو. او د تاریخ فرشتې په- قول چې پښتانه د دوېمې هجري صدی په اوایلو کښې لا پېښور ته راغلي وو. دا یوازې دله زاك نه وو، نور پښتانه به هم وو.(۱)

د بابر او پښتنو رابطه د ۱۵۰۴ع کال نه راښتې ده او میرزا الغ بېګ(۲) د ۱۴۶۹ع نه ۱۵۰۲ع کال پورې د کابل او غزنې حکمران ؤ، نو د میرزا الغ بېګ د لاسه به (۹۰۰) نهه سوه خابني خېل ممکن په

---

(۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کښې ۱۳۰۹ مخ کښې دا تفصیل وګورئ.

(۲) میرزا الغ بېګ د بابر تره ؤ. (سیال)

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۲-۱۴۸۰ع کښې قتل شوی وي او د ملک احمد په مشره کښې د خانښي قبائیلو مهاجرت پېښور ته به د ۱۴۸۲ع کال نه وروسته شوی وي د دغه وخت او د بابر د دې علاقو د نیولو په مینځ کښې به شل دوه ویشت کاله وخت تیر ؤ. لکه هغه چې د یوسفزو، مهمنزو، ګیګیانو، بنګښو او اپریدو، وزیرو، بنوڅو او نورو کرلانو چېلو خپلو علاقو یادکړي دي او داسې معلومیږي چې دا پښتانه د بابر نه مخکښې راغلي دي، او په دغو علاقو باندې میشته وو، ځکه چې کله باجوړ ته بابر راغی او د ملک شاه منصور، د ملک سلیمان د زوی لور "بي بي مبارکه" یې په نکاح کړه، نو دا واقعه په کال ۱۵۱۱ع-کښې شوې ده او دا خلک د بابر نه مخکښې د غو خپلو خپلو علاقو ته راغلي وو. په هرحال پوره تاریخ یې معلوم نه دی، نو اټکل- دغه پاس شوی دی او موږ همدغو روایاتو ته اهمیت ور کوو.

اوس راځو د خانښي خېلو یاد ته، د خانښي خېلونه مطلب یوسفزي، منډړ، ترکاڼي، ګیګیاڼي، مهمنزي او نور دي، خو مهمه قبیله پکښې یوسفزي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوسفزی

دا قبیله په خپل منځ کښې په دوو برخو وېشلې شوې ده چې - یوه د یوسف او بله د مندړ ده .

اخوند درویزه لیکلي چې د دوی مشرینکه مندو ؤ او د هغه دوه زامن وو ، د یوه نوم یوسف ؤ چې اولاده یې یوسفزي یادیږي او د بل نوم عمر ؤ ، د عمر زوی مندړ ؤ ، چې اولاده یې په مندړ یادیږي .

ویلی شي چې د یوسف پنځه زامن وو ، چې په عیسیٰ ، موسیٰ مالی ، اکو او اوریا نومونو مشهور ؤ ، د عیسیٰ (۱۱) زامن وو ، خو د مغلو د لښکر سره په یوه جنګ کښې پخپله عیسیٰ او (۹) زامن یې ووژل شو او صرف دوه زامن یې حسن او یعقوب پاتې شول ، د حسن اولاده په حسن زي او د یعقوب اولاده په - یعقوب زي یادیږي او یو بل دریم زوی پس مرګي شوی ؤ چې اکا یې نوم ؤ او اولاده یې په اکازي یادیږي .

دغه دری واړه کورنۍ د کوه سیاه نه واخله تر ما بن غرونو

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې علاقه کښې آباد دي. حسن زي او اکازي داباسیند په مشرقي غاړه اومداخیل په مغربي غاړه آباد دي او د یوسف د دوه زامنو موسئ او مالي اولاد ده د بُنیر په علاقه پرته ده، د بُنیر په قطب د سوات غرونه دی، قبلې ته یې سمه رانیزي، نمرخاته ته یې آباسیند او سویل ته یې د چملې علاقه وه، د بُنیر نه چارچاپېره غرونه دي او په دې کښې ایلم او دوه سرې او وچت غرونه دي چې د سمندر نه لس زره او سل فټه اوچتوالی لري د دې غرونو په منځ کښې ځای په ځای کښې دي، چې خلک ــ پکښې کرونده کوي.

د بُونیر آب هوا ښه ده او په غرونو کښې یې واورې کېږي. د یوسفزو خلک په بونیر کښې دا ډول آباد دي: په نمرخاته یې چغرزی، قطب ته یې گدای زی، قبلې ته یې سالار زي سویل ته یې نورزي - په منځ کښې یې عایشه زي او دولت زي پراته دي.

د بونیر په پاچانوې کلي کښې د پیربابا مشهور ولی الله ــ مزار دی. د پیربابا نوم سید علي ترمذي دی او د وی اصلاً د ترمذ نه د بابر د کورنۍ سره راغلي وو، او سیدان دي او پلار یې بیا څه وخت چې همایون، شېرشاه سوري د هند نه وشړلو، د ده پلار بېرته د افغانستان قندوز ته لاړ او پیربابا بونیر ته

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغي او هم دلته وفات او ښخ شو.

د یوسف یوزوی اوریا ؤ، چې په بادي مشهور ؤ اخون - درویزه ویلي چې دی خپلې مور ته سپکې سپورې ویلې وې، نو هغې ورته ازار وکړو، اولاده یې ډېره نشوه، څه لږ و ډېر چې دي هغه د چغرزو سره اوسیږي او په هغوکې دي. او د یوسف د بل څلورم زوی اکو اولاده په کوز او برسوات، دیر او پنجکوړه استوګن دي. د اکوزو د وه څانګې دي، یوه یې خواجه زي او بله یې رانیزي دي. د سمې رانیزي د نیولې علاقې نه د مالکنډ تر غرونو پراته دي او بر رانیزي د مالکنډه پورته پراته دي، دخواجه زو ځینې څانګې په برسوات کښې استوګن دي. د دې ښاخ یوه - څانګه ملي زي په دیر کښې اوسیږي.

سوات یو ښکلی ځای ؤ، خود یوسفزیو د کورنیو جنګونو له کبله لکه خوشحال خان چې وائې یو وران رباط ترې جوړ شوی ؤ، خو میاګل سوات عبدالودود صاحب چې د شلمې صدۍ په - اوایلو کښې دلته حکمران شو، هغه سوات بیا ښه ودان کړو.

د میاګل صاحب د کورنۍ حال داسې دی چې وائې: په برسوات شامیزي قبیله کښې عبدالواحد نومی سړی او سیده چې په قام سایي قندهاری د مومند و د علاقې سره کمرنه راغلي وو. دده کره غالباً په ۱۷۸۴ع کښې یو هلک پیدا شو، چې نوم یې عبدالغفور

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېنودی شو. دغه هلك يو نامتو شخصيت، عابد، زاهد جوړ شواو د سوات په باباجي مشهور شو، ځوك وړته د سوات اخون صاحب او ځوك وړته د سېدو غوث هم وايي. سوات صاحب ابتدايئ تعليم د خپل پلار سره کړی ؤ او د نوړې لوړې زده کړې د پاره د مردان علاقې ته وړغی او څه موده يې په ګجرو ګړيه کښې د عالمانو سره تېره کړه او علم دين يې حاصل کړو، بيا ځوکنو ته وړغی او هلته يې د دينی پوهې زده کړه وکړه، بيا د روحاني تعليم او فيض د پاره د شيخ رحمکار کاکا صاحب په زيارت کښې يې چله وکړه او وړوسته د پېښور د حضرت جي بابا په خدمت کښې حاضر شواو د هغه نه يې فيض حاصل کړو، د هغې نه وړوسته د صوابۍ تور ډېرې ته ورغی د مولانا محمد شعيب صاحب (رح) نه يې لاس نيوی وکړو او بيا - څلوېښت کاله پس خپل کلي سوات ته راغی او په سيپل بانډې نومي کلي سوات کښې ډېره شواو بيا يې د نيکي خېلو په قام کښې واده هم وکړواو وړوسته بيا په مستقل ډول په سېدو کښې استوګن شو.

اخون صاحب د خپلې زمانې يو پرهېزګار، متقي او ستر مجاهد شخص ؤ او د سيکانو سره يې غزاګانې کړې دي او د سيد احمد شهيد بريلوي او د سيد اسمعيل شهيد ټينګ -

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګری ؤ او بیا یې د پیرنګیانو د زورګیر حکومت هم ډېره سخته دښمني وکړه او ډېرې غزاګانې ورسره کړې دي، او هغه یو روحاني پیراو بزرګ ؤ نو ډېر ماذونان او مریدان یې لکه، لوی مجاهد ملا نجم الدین اخونزاده د هډې صاحب، د مومندو دلښکرمشر، او ملا پیوند صاحب سید، دوزیرستان ستر مجاهد او ملا همزالله صاحب سید، د تګاو ملا صاحب، دغزني ملا مشك عالم صاحب، د موسیئ اخونزاده صاحب او نورستر شخصیتونه د سوات صاحب مریدان، اخلاصمندان او ماذونان وو.

سوات صاحب به غالباً په ۱۸۷۷ع کال کښې وفات شوی وي د هغه د وفات نه پس سیدعبدالجبارشاه د ستانه‌‌‌‌ ئ د سوات حکمران شو، خو وروسته د سوات صاحب نمسي شېرخان او میاګل عبدالودود په اتفاق شول او عبدالجبارشاه یې په مقابل کښې ماتې وخوړه او میاګل عبدالودود په کبل کښې په ۱۹۱۷ع کال کښې د سوات بادشاه انتخاب شو، انګریزی حکومت میاګل صاحب په ۱۹۲۶ء کښې د سوات والي ومنلو.

میاګل عبدالودود صاحب یو غیرمعمولی سړی نه ؤ بلکه منظم شخص ؤ او د مملکت د ادارې قابلیت یې لرلو.

آخر په ۱۹۴۹ع کال کښې یې د سوات د حکمرانۍ اختیارات

"" ستانه.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل زوی شهزاده عبدالحق جهانزېب ته پخپله رضا وسپارلو او صفه هم ښه لایق، قابل او تعلیم یافته شخص ؤ، ده په سیدو شریف کښې یو ډګری کالج په نوم جوړ کړی دی او په سوات کښې یې ابتدائی تعلیم ورېا رایج کړو. وروسته د پاکستان د جوړېدو نه څه موده پس چې ریاستونه له منځه لاړل، د سوات دیر ریاستونه هم د صدر محمد ایوب خان په وخت کښې لرې کړی شول او دغه علاقې په سرحدي صوبه کښې شاملې کړی شوې او اوس د سوات شهزاده جهانزېب ته اعزازی د میجرجنرال خطاب ورکړی شوی دی. او په سوات کښې اوسیږي .

## دیر:

لکه چې ویل شوی دی دیر کښې یوسفزی قبیلې د اکوزو څانګې د خواجه زي ملیزي اوسیږي .

د دیر علاقه اکثره غریزه ده، په نمرخاته کښې یې د سوات ریاست، قطب په نمرخاته کښې یې ګلګت او کشمیر واقع دی روغ په قطب یې چترال او قطب قبلې ته یې د افغانستان برید لګېدلی دی، او د قبلې پلو یې باجوړ او سویل ته یې مالکنډ دی. رقبه یې ویلی شي چې د ري زره (۳۰۰۰) مربع میله ده، د دې

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



علاقې مشهور سیند پنجکوړه دی، چې په پښتو تاریخ کښې د ګوړي شهرت لري.

د دې علاقې اولس به غالباً لږو ډېر د شېږو[6] او[7] ولکو تنو په منځ کښې وي. دا منطقه د خپل طبیعي محل و قوع په لحاظ د ډېر سیاسي اهمیت حامله ده. د دې ریاست د حکمران تېر باني ملاالیاس صاحب نومی سړی ؤ چې د خپل زهد او تقوی په وجه د اخون بابا په نامه مشهور ؤ او په ملېزو کښې د پاینده خېلو په ذیله کښې ؤ، ده په لسمه هجري صدۍ کښې خپله ګدۍ نشیني په حکومت بدله کړه او په دیر کښې یې دیو ریاستي حکومت بُنیاد کېښود، او غلام خان[1] د دیر خان شو. د هغه نه پس اقتدار قاسم خان ته ورسید، (خوګېرو لیکلي چې د غلام خان نه پس غزن خان حکمران ؤ) دا سړی د خپل وخت ډېر مقتدر حکمران

---

(۱): خوګېرو د خپل کتاب پټهان په ۵۳۶ مخ کښې د الفنسټن په قول وایي چې لومړی حکمران د دیر اسمٰعیل خان ؤ چې د خوشحال خان خټک معاصر ؤ، او له هغه سره یې ملاقات هم شوی ؤ. او بل وایي چې د غلام خان نه پس غزن خان حکمران ؤ، خو د جندول خان اثاب الدین خان ویلي چې الیاس بابا د ابراهیم بابا او هغه د ابا محمد او هغه د پاینده بابا ځوی وو او د الیاس بابا نه سهیل ضفر خان او غلام خان وو چې د دیر حکمرانه کورنۍ د ضفر خان اولاده ده، د محمد شریف خان نه پس اورنګزیب خان او وروسته شاه جهان خان نواب شو، او د هغه نه پس خسرو نواب شوو.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library

This page was missing from Original Book, We were unable to find a copy of the book.
Pardon.
Team: Kitaboona

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهور ؤ د دیر نواب شو.

انګریزي حکومت هند، ده ته هم په ۱۹۰۸ع کال کښې دنوابي خطاب ورکړ او په ۱۹۱۸ع کښې انګریزي حکومت د ده وظیفه سالانه پنځوس زره روپۍ کړه او د دیر نواب شو او دا خطاب د دوی په کورنۍ کښې موروثي ومنلی شو او د ده زوی شاه جهان خان یې ولیعهد ومنلو.

با د شاه خان نواب په ۱۹۲۵ع کښې وفات شو او په ځای یې شاه جهان نواب شو، خود نوابۍ په معامله ورسره خپل ورور عالم زیب خان مخالفت پیل کړو. د عالم زیب خان مرسته به د باجوړ بنار خان مرحوم محمد جانخان او د سوات والي میاګل صاحب کولو. دا مخالفت ورو- ورو ډیر شوا و جنګ تري جوړ شو، او عالم زیب خان ماتې وخوړه او د باجوړ د شموزو علاقې ته لاړلو، آخر انګریزانو مداخله وکړه او د دوی په مینځ کښې یې فیصله داسې وکړه چې عالم زیب خان ته یې پنځه سوه روپۍ (غالباً چې پنځه سوه وي)، د میاشتې وظیفه مقرره کړه او د ریاست دیر د حدودو نه یې بهر کړ او د مردان په علاقه کښې به اوسېدلو.⁽¹⁾

نواب شاه جهان دیو مخصوص مذاق او طبیعت خاوند ؤ او په

---

(۱) خو ماته شهاب الدین د جندول خان ویلي چې دا پنځه زره نه بلکې پنځه سوه روپۍ وې.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې شلمه صدۍ کښې د رياست د خلکو په ژوند کښې هيڅ ډول بدلون نه تيار نه ؤ. هلته د منظم تعليم هيڅ انتظام نه ؤ.

د پاکستان حکومت د چلې پاليسۍ په اساس دې په اکتوبر ۱۹۶۹ع کښې د رياست نه لرې کړو او لاهور ته وليږلی شو او په ځای يې وليعهد خان خسرو نواب مقرر کړی شو.(۱)

اوس د دير رياست په سرحدې صوبه کښې ګډ کړی شوې دی او يو کمشنرې اداره کوي.

د يوسفزو بله مهمه قبيله منډړ ده.

## «منډړ»

د منډړو قبيله د مردان په علاقه ان د چملې پورې پرته ده او د چملې نمر ختاته اباسيند، قبلې ته يې يوسفزي قطب ته يې بونير او په سويل مهابن دی.

دا علاقه يوه دره ده، ميداني علاقه يې لږه ده او ځمکه يې هوا واره نه ده غريزه ده. دا علاقه وروسته د سوات سره

---

(۱) د نواب شاه جهان سره يې د هغه زوی شهاب الدين خان د جندول خان هم د جندول نه لاهور ته فرار کړو، نواب صاحب شپږ دېرش (۳۶) کاله نواب ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتړلی شوه . دامبیلې مشهورجنګ په ۱۸۶۳ع کښې په دې علاقه کښې شوی دی او دا علاقه د مندړ قبیلې مرکز دی . دچملې نه سویل ته د صوابۍ علاقه ده او په دغه ټوله علاقه د مندړ قبیله پرته ده .

## دمندړو څانګې

د مندړ درې زامن وو ، چې منوړ ، خضرا و رجړ نومونه یې وو .

د منوړ هم دوه زامن وو ، (۱) عثمان (۲) ، اتمان ؤ . د عثمان هم دوه زامن وو ، (۱) کمال (۲) ، امان ؤ . دکمال اولاد ته کمال زي ویلی شي او پښپلو کښې هم په دوو څانګو وېش دي ، چې یوه څانګه یې مشران زي او بله کشران زي بلل کیږي ، ( د طوروخانان په مشران زوکښې دي . ) او د رهوتي مردان خانان په کشران زوکښې دي . ) په کشران زي کښې اکوزي هوګډ دي چې د عنایت خان د د ربېې بنځې اولاده ده او په معیاروکښې استوګن دي . د وتمان اولاد هم دوه ښاخه ده . یوه یې اکازي ، کنازي او علي زي دی ، دوی ته وتمان نامه هم ویلی شي او دا خلک دا باسینډ په غاړه د مهابڼ په سویل پراته دي ، ټوپی ، مینۍ ، کوټه ، مرغز د دوی په علاقه کښې مشهور کلي دي . او په دویم ښاخ کښې یې

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سدو اولاده ده چې دوی دوتمان نه په قنبله پراته دي او د دوی د ذېلې ښاخونه په دې ډول دي:

اول - اباخېل: په کونډه، زيده، هنداو شامنصور کښې.

دويم - عمرخېل: په کالا، دره، صوابۍ، مانيرۍ کښې او ميراحمد خېل په پنجتار، ډاګۍ، توتاۍ، باچا او بام خېل کښې استوګن دي.

## "رځړ"

رځړ: دا ښه په پښتونخوا کوبښ ده: ماني زي، ملك زي اکوزي، خضرزي او محمود زي.

ماني زي: په ډاګۍ، ترلاندۍ، ترکۍ، پرمولی او دينا کښې.

ملک زي: په يارحسين، شېردره او يعقوبۍ کښې استوګن

اکوزي: په دوبيانو، سره چينه او اسمعيلا کښې.

خضرزي: په شيوه، کالوخان او شېره غونډ کښې او محمود زي يا مامون زي په نوي کلي، شېخ جانا، سوتيا او نارنجي کښې پراته دي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «ترکاڼي»

اخون درويزه ليکي چې د شيخا ياخاڼي د وه ښځې وې يوه يې «مرجانه» او بله «بسو» نوميدله. د مرجانه زامن يوسف او مندړ وو او د بسو زوی ترکاڼي دي چې اوس په باجوړ او نورو ځايونو کښې پراته دي او په لويه کښې (۱) ماموند، (۲) سالارزي دي. خوځينې ليکي چې سالارزي د ماموند زوی دی او نور د برزي او خېلونه دي چې محکښې يې يادونه شوې ده:

# «باجوړ»

د باجوړ علاقه به اندازاً څه پنځه ويشت (۲۵) ميله اوږده او شل (۲۰) ميله پلنه وي. د دې علاقې قطب ته د پنجکوړې سيند دی، قبلې ته يې د کونړ علاقه افغانستان دی او نمرخاته ته يې اتمانخېل دي، او جنوب ته يې د مومندو علاقه ده. د باجوړ علاقه په پنځو برخو وېشلې شوې ده:

(۱) چارمنګ (۲) بابوقره (۳) سورکمر (۴) رود (۵) د ماموند علاقه.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جندول د پنجکوړې د سیند او باجوړ تر منځه پروت دی ، دا دره تقریباً اته (۸) میله اوږده ده او څلور میله پلنه ده.

د جندول د پېر نامتو حکران خان عمراخان د امان خان زوی د فیض طلب خان نمسی و. د پلار د مرګ نه پس د عمراخان او د وروړ شېرعالم خان تر منځه په اقتدار ورانی راغی او جګړې ونښتې او عمراخان کامیاب شو[۱] ، او تر ۱۸۸۲ع پورې یې د جندول او خوا وشا علاقې ونیولې او په ۱۸۸۰ع کښې یې د دیر نواب محمد شریف خان ته ماتې ورکړه اخر انګرېزان د شریف خان سره و دریدل او په ۱۸۹۵ع کښې عمراخان مات شو او کابل افغانستان ته وتښتېد او هلته د امیر عبدالرحمان خان سره دېره شو او هم هلته مړ شو. او په همدغه کال (۱۸۹۵) ع کښې د مالکنډ ایجنسي هم انګرېزانو جوړه کړه او د هند د مرکزي حکومت ماتحت وه ، خو په ۱۹۰۱ع کښې چې څه وخت سرحدي صوبه جوړه شوه، نو دا ایجنسي په هغې صوبې وتړلې شوه او اوس د پاکستان د جوړېدو نه پس هم د سرحدي صوبې سره ده.

---

(۱) د جندول خانان په مست خېلو مشهور دی، یوه د فیض طلب خان کورنۍ ده چې عمراخان هم له دې کورنۍ څخه و، او بله غفارخېل دی، چې د شاهي خانان وو.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# «کیکیاڼي»

داقبیله د خپلې مور په نامه مشهوره ده. روایات داسې دي چې د شېخا د مرجانه بنځې نه دوه زامن وو چې یوېې «مند» چې اولادې یوسفزي او منډړ دي او د بل زوی نامه یې «مکئ» ؤ او د ده یوه لور وه چې په زیرکي نومې سرې واده وه، اولادې په کیکیاڼي مشهوره ده.

کیکیاڼي د پېښور په ضلع د واوه کښې استوګن دي.

# «غوریاخېل»

د روایاتوله مخې دکُند د ویم زوی غوري یا ابراهیم ؤ، چې اولادې په غوریاخېل یادیږي.

دغوري زامن: دولت یار، خلیل، زېراني، ملاګوری دی ملاګوري، متبني، دی.

د دولت یار دوه زامن وو، ۱، مهمند یا مومند ۲، داؤدزی. د مومند یا مهمند هغه اولاد ې ته چې په سمه یعنې پېښورکښې پراته دي، هغوی ته کوز مومند وایي او هغه چې په غرنیزه علاقه

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



استوګن دي هغه په برمومند يا ديږي او دا دواړه پوښتۍ ډې
خو پردي حکومت پرې راغلی او سياسي پوليټ او بندېزونه جوړ
شوي دي ، نو دا دوه ورونه هم سره بېل شوي او د ورورګه
عزيزولۍ هغه پخوانی نږديکت نه دی پاتې شوی.

برمومند د کابل او کونړ سيند په د واړو غاړو د ننګرهار په
علاقه ، کامه ، ګوشته ، خوېږو ، چکنور ، لالپوره ، خاص کونړ ، منګوال ،
او په نورو ځايونو او په غره کښې د مېچنې نه نيولې د کوهټې تاراټو
پورې او په سارۀ د ناوګه نه نيولې تر لالپورې پراته دي چې مشهور
ځايونه يې ګنداو ، پنډ يالۍ ، دا نشکول ، وتمانزي ، د وېزی ، مېټي
کوهي خانزادګان ، بېډمنۍ ، شبتا ، طورخواه ، سپينکي تنګي ، د
خوېږو علاقه ، ګونګۍ ، سم غاښنی ، وچه جوړ ګاټ ، ور سکۍ ، خامېک
ګوړ ، ګدای تنګی ، ځنا ورچينه ، مزرينه ، اتاجوړ ، احدکوړ ونه
بخشی کور ، جمعه خېل او قوطی دي . د کرټۍ او خاپښی مشهور -
غاښي هم د مومندو په علاقه کښې دي ، او ايله زړي غرېي مشهور
غر دی . د مومندو د علاقې نه غرونه تاؤ دي او ځينې درې هم
يکښې شته او څه وبې ځکه هم لږي اکثره خلګ للمې کروندې
کوي او د کروندې څه ځمکې لږي چې د دوی ګذاره پرې کيږي
او اکثره ځوانان يې په مزدورۍ پسې د باندې ملکونو ته ځي ،
غريزه علاقه يې يخه ده ، واورې هم پرې کيږي ، خو ميدانی علاقه

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې کرمه ده.

# داؤدزي:

داؤدزو نه په قطب مهمنزي پراته دي او قبله په سویل ترې خلیل دي. دوی د خلیلونه په شماره کښې ډېر دي د دوی د- مهاجرت وخت سو نه دی معلوم، خو ممکن دی چې د مومندو سره راغلي وي، دوی د پېښور په قطبي پلو د کابل سیند د بناخوښو په منځ- منځ کښې پراته دي او ښه وداته ځمکه یې په برخه شوې ده.

# خلیل:

د خلیلو اوسنی علاقه به لږ و ډېر شل میله اوږده او لس میله پلنه وي.

د خلیلو ملکانو ته اربابان ویلې شي، تهکال، سپینه وړه لنډیه د دوی مشهور کلي دي.

د دوی ځمکې به مځکښې د باړی نه او به کېدلې، خو اوس د ورسک بند نه نهرونه راوتلي او راغلي دي او د دوی ځمکې

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښې ودانې شوي دي.

## څوکني:

د اخون درویزه په قول څوکني د خپلو ورونو نه مرور-شوي وو. او تللي د سپین غره په لمنو کښې یې استوګنه اختیار کړې وه.

د څوکنو په نمرخاته اړیدي، په سویل یې وزکزي او قبله په سویل یې (طوري)، دي او قطب ته یې سپین غر دی. دا خلک د خرمنې په دره او کرمان پراته دي، ښه کلک، جنګیالي او کارګن خلک دي، ښځې نرتول کارکوي، د باندې تګ را تګ یې لږ دی. علاقه یې یخه ده نو اکثر جامې یې د وړیو، شړیو وي.

دوی ښه اتفاق او سُني مذهب دي. د څوکنو یو کلی په-پیښور کښې هم شته دی چې د میاعمر صاحب (رح) د زیارت له کبله ډیر مشهور دی.

## زیراني:

د زیرانو ځینې ټبې د تاجکو سره ګډې وډې په ننګرهار کښې

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېړي او د جلال آباد نه په شمال قبله یې غټ کلی شته دی.

او نور لکه پهارخېل، دولت خېل، احمدخېل او تارخېل د برومومند و سره کورکلي کوي.'۱'

---

'۱' خو دا ما ته نه دی معلوم چې چېرته اوسېږي. (سیال)

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د
# ځمند اولاده

د خرشبون یا خیرالدین د یو زوی (کند) د اولادې حال خوځه نا خپ ولیکلی شو، اوس د هغه د بل زوی (ځمند) د اولادې څه مختصر احوال لیکلی کیږي.

ویلی شي چې د ځمند څلور څانګې دي: (۱) خویښکي (۲) کستاني (۳) مهمنزي (۴) توخي دي. ویل کیږي چې مهمنزي د پخوانه د خابني خېلو په ډله کښې ور ګډ شوي دي.

د پېښور په استوګنو پښتنو کښې د ځمند په اولاده کښې مهمنزي مهمه قبیله ده، او ورسره بله قبیله د خویښکو ده. ویلی شي چې د اخلک هم پخوا د ارغستان د علاقې سره لګېدلې د پښین په ځمکه اوسېدل، خو لکه نورځنې پښتانه قبایل چې د ترینو د بد ګذرانئ نه تنګ او هجرت ته مجبور شول، دغسې د وی هم د ترینونه تنګ او راپا څېدل، ځنې خویښکي ملتان ته لاړل او ځنې غزني او کابل ته راغلل او څه خلک یې د غوربند په دره کښې آباد شول.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوږشکو قبیلې د بابر سره تعلق وُ، د مُغلي بادشاه بابر
په هند باندې د حملې په وخت د هغه په لښکر کښې د پرېښتانه
وو، چې د پره برخه يکښې د خوږشکو وه. خوږشکي د خپل يو
سردار سليم خان په مشرۍ د بابر په مرسته د ابراهيم لودي سره
په پاني پت کښې جنګېدلي دي، او بابرا و د هغه زوی همایون
به خوږشکو ته په دېره سترګه کتل. د خوږشکو د قبيلې څه خلک
چې د بابر سره هند ته تللي وو، هغه خلک اوس په افغان قصورﻳﻪ
مشهور دي، او د ستلج سيند په دواړو غاړو اوسيږي.

د خوږشکو ځنې ټپې لکه: ښتک زي، حُسين زي، شهاين زي
مسلماك او کزلاني د قصور نه په قبله پراته دي. او دوی ته بهـ
ښخوا د برکلي او سيد ونکي ويل کېده او ځنې ټپې لکه: عزيز زي
جنوزي، ابراهيم زي او نور چې د قصور نه په نمرخاته دي، هغوی
ته بهٔ يې د لرکلي او سيد ونکي ويل. څه موده پس دا خلک په
خپل منځ کښې سره ونښتل او ځنې ټپې ترې لاړې، په خواجه او
ټانده او هيروال آبادې شوې. دا خلک اوس هم په افغان قصوريه
مشهور دي، که څه هم دوی نه په پښتو پوهيږي او نه يې لباس
د پښتنو په شان دی خو خوږشکي او پښتانه دي.

د خوږشکو ځينې خلک په پښين او قندهار کښې هم شته دی
او يوه ټپه يې په غوربند او څه خلک يې د نوبنار په تحصيل د

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی ننګرهار په قطب د لنډي سیند په غاړه په خوګیانو کې نومې - کلي کښې استوګن دي.

د پښتنو مشهور صوفي شاعر «ارزاني» د بایزید روښان انصاري همعصر ؤ او د روښاني پیر ؤ ارزاني د خوګیانو په قبیله د - عزیزي په زیله کښې ؤ.

د خرشبون د بل زوی «کسي» حال دا سې دی.

# کسي

ویلی شي چې د کاسیانو یولس تپې وې چې مخکښې یادې شوې دي او شینواري هم پکښې داخلي دي. لکه د پټې خزانې په قول ویلی شي چې د خرشبون نوره اولاده لکه کند او ځمند چې د غوري مرغه نه کډې کولو ته مجبور شو او د غزنې او کابل په لور را وکوچېدل او بیا بشکته پېښور ته پسې راغلل، نو د دوی د بلې څانګې وروڼه کاسیان بیرته د سلیمان غره ته ورغلل او هم هلته مېشته شول، خو یوې قبیلې شینواري د خاښي خېلو سره کډه را وکړه او د خیبر نه په قطب پلو غرونو کې واړول او هلته مېشته شول. د دوی علاقه د کابل سیند بنې لور ته د - پېښور او جلال آباد په منځ کښې پرته ده. قبلې ته یې خوګیاني

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جنوب یې سپین غر، په شمال یې د مومندو علاقه او په
نمرخاته یې خیبر او ملاګوري دي . د شینوارو څه خلک د
د شیخ بابا په دره علی‌نګار او ځاګه کښې د برومومندو سره،
او څه خلک یې د کونړ په شیګل دره ، او د کوزکنړ د بوډیالی
په «کنډر»، نوي کلي کښې استوګن دي .

د شینوارو مشهور تجارتي ځای لنډي کوتل لوارګی دی ،
څه خلک یې کواټ او کشمیر کښې هم شته .

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویمه طبقه

# «غورغشتي قبایل»

دا قبایل د خپل نیکه غورغشت چې د قیس عبدالرشید دویم زوی دی، په نامه غورغشتي یادیږي.

ویلي شي چې غورغشت د ۳۸۸ ه کلو نو خواو شا ژوندی ؤ. د غورغشت دری زامن وو (۱) دامني (۲) بابي او (۳) مندو په دوی کښې د دامني اولاده مهمه کڼلی شي د دامني په اولاد کښې مهمه قبیله د کاکړو ده چې وروسته به یې ذکرا و یاد راشي.

بابي: د دې قبیلې خلک په قلات کښې آباد دي او ځنې د کویټې خواو شا هم مېشته دي. د جوناګړ نوابان د دې قبیلې نه وو او په دوی مربوط دي.


مندو: د مندو اولاده په مندوخېل مشهوره ده.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




# «دغورغشت نسب نامه»




«پاتې په بل مخ کې وګورئ»

Kitaboona.BlogSpot.Com

پنی




(باقي په بل مخ کې وګورئ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کاکړ

تارن | عیسیٰ زي | سام خېل | یونس خېل | موسیٰ خېل(۱) | ترغري | سرګړي

دمړ | بدوخېل | جلال خېل | حسین خېل | کیپ | سوراني | ختن خېل

چرمي خېل | پندار | یعقوب زی | تفوت | زلفوزی | مکران

زنخ زي | جدرام | شېرداد | شادي خېل | جفرخېل | مندوزي | تاجوزي

---

(۱) موسیٰ خېل په غزني کښې له اندړ وسره پراته دي.

نوټ: فرملي او سبري هم د کاکړ زامن دي. (وګوری تذکرهٔ روښان خان ۱۵۳ مخ) تایمني د دکن حیدرآباد حکمرانه کورنۍ هم کاکړ دي (مخ ۲۰۴ خورشید جهان) او بهمني دوتاني دي (تذکرهٔ روښان خان).

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د حسین بن جدرام بن کاکړ بن داني بن غور غښت نه :

- ادم
- سنام
- عمر
- حصام

اُو د بابکر د حسین د وړور بن جدرام بن کاکړ نه :

- الیاس
- منت

او د یعقوب بن کاکړ نه :


- یونس خېل
- سالار خېل
- سنجر
  - کیوی
    - حسین زي
    - یاسین خېل
      - ادو خېل
      - شمکور خېل
      - اتمانخېل
    - شمس الدین خېل
    - شموزي
      - داوړ
      - حسار
    - شمعون
      - احمد خېل
      - کمال زي
      - ابوسعیدزي
      - مردان زي
      - جلال زي
      - دوېزي
  - برم خېل
  - اتمان خېل
  - اودل خېل
  - خضر خېل
  - علي خېل
  - اوپی خېل
    - اجړزي
    - بابکرزي
    - انوزي
    - احمدزي

Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



## علی خېل بن سنجر نه:




او د بابی بن غورغشت نه:




لکه چې ویلی شوي دي د غورغشت په اولاده کښې د داني په اولاد کښې کاکړ مهمه قبیله ده ویلی شي چې د دې قبیلې مورث اعلیٰ کاکړ نیکه ؤ، چې ډېر ښه سړي ؤ، او د غیاث الدین غوري په زمانه کښې وفات

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شویدی او قبرېي د هرات د جامع جومات په دروازه کښې دی او اوس هم شته دی ، او ډېر خلک يې زيارت کوي .

داسې گومان کیږي چې دا قبیله ډېره لويه ده نو دا به - پخوانی وي او کاک نیکه به ورو روسته کوم سبه سری پکښې پیدا شوی وي . خو په هرحال دغه مشهوره ده .

د کاکړو د وه څانگې دي : داړ د سرزخېلو څانگه (۲) سنتيا څانگه ده او د دې دواړو څانگو نه ډېرې څانگې او ذېلې هم جوړې شوې دي . دا خلک د کويټې د وېژن په ځلورواړو - ضلعو کښې پراته دي ، څه د هزارې په ضلعه اوڅه په قندهار او هرات کښې هم شته دی .

د مشرقي پنجاب د کوهانه اوخورجه په قصبو کښې اوڅه په - بلند شهرهو کاکړ استوګن دي ، اوڅه په دکن کښې هم شته دی .

هیبت خان کاکړچې د خان جهان لودي له پلوه د سمانا حاکم ؤ ، او د مخزن افغانی په تاریخ کښې ډېره برخه لري د کاکړو د سنتيا - څانگې سره تعلق لري ، او موسیٰ خېل د غزني په ولا يت کښې داندړ سره چې اوسيږي . او لوی مجاهد نجم الدّين اخونزاده صاحب د هډې هم موسیٰ خېل ؤ .

## ناغر :

ناغر وړه قبیله ده اوس دکسي په ټبر کښې ترانو کښې ورگډه ده .

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د یو مؤرخ د «صولت افغاني» مؤلف زردا د خان۔ هم د دې قبیلې غړی دی.

## پنړي :

پنړي هم د کاکړو په شان یوه پخوانۍ قبیله ده، خوړه قبیله ده.

د پنړو ځنې خلک په افغانستان او څه د څوکنو سره نژدې او څه په دکن کښې استوګن دي. په دې قبیله کښې د خانځو د بارونړو په څانګه کښې دی.

---

نوټ: لکه څنګه چې دخا بني خپلو تپې مشهورې دي، دغسې د کاکړو نارې په پښتو موسیقۍ کښې ډېر شهرت لري، او مرحوم محمدګل نوري دا نارې د یو کتاب په شکل راټولې کړې دي، او په کابل کښې چاپ شوی. - - - - - - - - - - - - - (سیال)

Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



# د
# "کدون"
## نسب نامه

د شجرونه کدون هم د غورغشتو یوه څانګه ده او په وروړه کښې کدون، موسی خېل او ساپي سره نژدې دي او نور ورونه یې هم شته دی، خو کدون د مخکښې نه د خابني خېلو په کنډ کښې شامل شوي او د مهاجرت په وخت کښې هم د هغو سره ملګري وو او د شېخ ملي په وېش کښې دغه برخه ځمکه رسېدلې چې اوس پرې پراته دي.

### کدون یا جدون




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوږزي بن منصور

- شايب زي
- مامازي
- خليل زي
- امرازي

## دولت زي بن منصور

- يعقوب زي
- شان زي
- حسن زي
- بهلول زي


## متی زي بن منصور

- الدرزي
  - ولي خېل
  - قاسم خېل
  - شاهي خېل
  - الله داد خېل
  - خواجه رستم کور
  - ادين زي
- عمرزي
  - ګوارزي
  - يعقوب خېل
  - عيسیٰ خېل


## اتوزي بن سالار

- عيسیٰ خېل
- عبدالرحيم زي
- محمد خېل

Kitaboona.BlogSpot.Com




## شجره موسی خېل د کاکړ زوی




نوټ : دا خلک د غزني په ولایت کښې د انډړ و سره اوسېږي ، لوی مجاهد نجم الدین اخونزاده صاحب هم د دې ټبې نه ؤ . (ښتیال)

د شجرونه چې معلومېږي نوکدون قبایل په دوو څانګو ، سالار او منصور باندې وېش دي ، د سالار د څانګې خلک اکثر د هزارۍ په غرونو کښې ان تر (ر ش) ، پورې پراته دي . د د وی علاقه

(c) ketabton.com: The Digital Library
Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ېره زرخېزه او ودانه علاقه ده او دد ې دوار و څانګوپه منځ کښې اکثږ بدي هم وې .

ویلی شي چې د ګدون د موږث اعلی نوم اشرف ؤ، وروسته په ګدانه مشهور شو. داخلک د ګدون یا جدون په مهابڼ - غرونو پراته دي او څه د مردان په علاقه د باینې په کلي کښې هم استوګن دي، لږ څه په کشمیرا و کیمبل پور په علاقه - کښې اوسیږي.


په چهچه کښې د غورغشتو کلی د اشرف ګدون آبادکړی ګڼلی شي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

## دریمه طبقه:

# «بېټني قبائل»

## بېټن یا بیټ بن قیس عبدالرّشید




(*): د غرهون نه ځیني خېل، درې زرګني، بابی خېل، غوربزي او د مرمر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اود شېخي نه: میرباز، اسمعیل صاحب خېل، غرتون، چلاک خېل، فتح خېل، درې پلارې.

**د تریاني بڼ ورسبون نه: دمړ او چاکي دي.**

**دمړ**

- ملاخېل
- تاجي خېل
- جیتي
- شاملک
- باقي خېل
- رم
- دیو
- مسیکړی

**د چاکي نه**

- بیرم
- همداني
- سواتي
- بشوړ
- خاکي
- بتازي

ویلی شي چې ببېتن د قیس عبدالرشید زوی دی نوموړی د ببېټ نیکه په نامه یادیږي، د تولد او وفات نېټه یې سنه نه ده معلومه خود «پټې خزانې» په قول چې ببېټ نیکه د خرشبون د ژوند په زمانه کښې هم ژوندی ؤ، او خرشبون په ۴۱۱ھ کښې وفات شوی دی، نو بناً په دې شهادت مونږ د ببېټ نیکه د مړینې نېټه د څلورمې هجري صدۍ اخري کلونه ګڼلی شو.

ببېټ نیکه یو خدای دوست او متقي سړی ؤ او په خپل ژوند کښې یې د عراق او عربستان سفر هم کړی دی، او د هغه ځای

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بنوخلکو د فیض نه یې برخه اخیستې ده او په پښتنو کښې د ولي الله په نامه شهرت لري.

دا مناجات ببړ نیکه ته منسوب دی:

لویه خدایه، لویه خدایه　　ستا په مینه په هرځایه
غرولاړ دی درناوی کښې　　تول شروي په زاریه کښې
دلته دي د غرو لمنې　　زمونږ کړدی دي پکښې پلنې
داوکړي د پر کړې خدایه
لویه خدایه، لویه خدایه

دلته بر زمونږ اوربل دی　　وړه کورکی دي وړه بوجل دی
مینه ستا کښې مونږ مېشته یو　　د بل چا په ملځ تلله نه یو
هسک اومځکه نغښته ستا ده　　د مړو وده هولتا ده
دا پالنه ستا ده خدایه
لویه خدایه، لویه خدایه

د ببړ نیکه په اولاده کښې د وړسبون او کجین اولاده ګڼلې شي، او اسمعیل په شروند کښې ببړ نیکه خپل فتره سربن ته ورکړی ؤ. د اسمعیل اولاده په سربنو کښې ګډه وده شوې ده.

د ببړ نیکه اولاده لومړۍ د کوه سلیمان په لړیه کښې آباده وه خوځه موده پس د غلجو د لاسه د خپلې سیمې نه بې ځایه شول او د کوه سلیمان په نمرخاته خوا د ګومل رود په غاړه او

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تانک په حکومېشته شول، او په هندکښې د پښتنو سلطنت په وخت کښې داخلک د ډېر اقتدار خاوندان وو، او د پښتني سلطنت په فوځونو کښې په ډېر شمېر شامل شوي وو.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورمه طبقه:

# متوزي قبائل

د روایاتو مطابق بی بی متو د بېټ نیکه لور وه او په شاه حسین غوري واده وه، اولاده یې په متوزي مشهوره ده او مراد ترې غلجي او لودي قبائل دي او شجرې یې په لاندې ډول لیکلی شوې راغلې دي.

متوزي قبائل په دوو څانګو ویشلی شوي دي (۱) غلجي (۲) لودي.

**څلورمه طبقه متوزي قبائل: لومړۍ څانګه غلجي:**

**«شاه حسین»**

(۱) ښځه (بی بی متو) چې د بېټ نیکه لور وه.


(۲) ښځه (مهی) د کاغ دوړ لور وه.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بی بی متو او شاه حسین




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احمد بن توخي

- رستم خېل
- یونس خېل
- پوپل خېل
- مندو خېل

## ملک یار بن هوتک

- حسین زي
  - اسحاق
    - قطب
      - جلال الدین
      - عمر
      - مند
      - کرم
      - شالم خان
    - عمر
      - نظر
      - نوح
      - صاحب جان
      - دلیل خان
      - زاهد خان
- عیسک زي

## دولت یار بن هوتک

- ایسو زي
- معروف زي
- اتمانخېل

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوسف بن هوتک

کتي زي — ګدين زي — کندل زي — خادي زي — صديق زي — عمر زي

---

نوټ: "۱" هغه غلجو چې د محمد غوري سره هند ته تللي وو په ۱۲۰۶ ع نه تر ۱۲۹۰ ع پورې په هند کښې (۸۴) کاله حکمراني کړې ده. لومړنی مؤسس یې جلال الدین فیروز غلجي وو چې په ۱۲۰۶ ع کښې یې د کیکاووس د التمش د زوی غلامانو نه حکومت ونیواو وروستنی سړی او بادشاه یې مبارک خان وو چې بادشاهي ترې ناصرالدین تغلق ونیوله.

د دغو غلجو دوره (۸۴) کاله وه، او د میرویس خان هوتک نه چې په ۱۷۰۹ ع کښې یې حکومت نیولی وو، او تر ۱۷۳۷ پورې یې حکومت وو، نو د دغه غلجو دوره (۲۸) کاله وه. دا پنځه سوه کاله مخکښې خبره وه.

---

د شالم خان بن قطب بن اسحاق بن حسین زي بن ملک یار بن بارو، بن توران، بن غلجي بن متو او شاه حسین نه

## "شالم خان"

حاجي میرخان (میرویس) — عبدالعزیز — عبدالقادر — یحیی خان

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حاجي میرخان یا (میرویس خان)

بن شالم خان
نه

**میرخان (میرویس خان) نه**

- شاه محمود
- شاه حسین

**عبدالعزیز بن شالم خان نه**

- شاه اشرف

**یحییٰ خان بن شالم خان نه**

- محمد خان
  - نورالله
  - حاجي عبدالرحمن
    - شیرخان
    - عبدالرحیم
  - حاجي زمکه

---

**نوټ:** د میرویس خان شجره: میرویس خان بن شالم خان بن قطب بن اسحاق بن حسین بن ملک یار بن هوتک بن بارو بن توران بن غلجي بن بي بي متو او شاه حسین.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حاجي میرویس خان:

میرویس نیکه د پښتنو په تاریخ کښې لوی شخصیت دی او ډېر قدر لري. دی هغه څوک دی چې پښتانه یې سره راغونډ کړل او د قندهار ایراني حاکم ګرګین کرجي یې و واژه او پښتانه یې آزاد او خپلواک کړل، دی څلور کاله شروندی ؤ او بیا مړ شو، پس له مرګه یې ورور عبدالعزیز باد شاه شو، خو د پښتنو په طبعه برابر نه ؤ نو وژل شو او بیا یې خپل مرګ مړ شو او په ځای یې د میرویس خان زوی شاه محمود د پښتنو باد شاه شو، چې د افغانستان نه ورتېر، د ایران نه یې اصفهان هم ونیو او د پښتنو باد شاهي یې تر ترکیې پورې خوره کړه، څه موده پس هغه مړ شو او په ځای یې د تره عبدالعزیز زوی اشرف د شاه اشرف په نوم د افغانستان او ایران باد شاه شو، څو څه موده پس شاه اشرف ته ایراني لښکر ماتې ورکړه او خپل وطن ته په راتلو مجبور شو، په لاره کښې عبدالله خان بلوڅ وواژه او ایراني لښکرې د نادر افشار په مشرۍ قندهار ته راورسېدلې او شاه حسین چې په قندهار کښې باد شاه ؤ او د میرویس خان کشر زوی ؤ، ماتې وخوړه، ایرانیانو دی ونیو او په مازندران کښې یې مړ کړو.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کورنۍ په افغانستان او ایران کښې د ۱۷۰۹ع تر ۱۷۳۷ع پورې (۲۸) کاله حکومت کړی او حکمرانه وه او د پښتنو برم یې دنیا ته ښودلی دی.

د دغه حکومت مؤسس مرحوم میرویس خان د شالم خان زوی و، چې شجره یې دا ډول ده:

میرویس خان د شالم خان زوی او هغه د قطب، هغه د حسین هغه د ملک یار، هغه د هوتک، هغه د بارو، هغه د توران، او هغه د غلجي بن بي بي متو او شاه حسین زوی و چې شجره یې په اووم (۷) پلار غلجي ته رسیږي.

Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



# غلجي قبایل

## (۲) څانګه

## "متوزی" اوله څانګه




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسمعیل زي بن سلیمان

- عبدالرحیم خېل
- سلطان خېل
- داسو

## «بچه بن سلیمان»

قیصر

- شوزي یا متوري
- نسوخېل
- خواجخېل
- ګل خېل
- مشه خېل
- سرخان خېل
- ببري
- ماموزي

## ستانه زي یا باستان زي بن سلیمان

- الوزي
- چران زي
- اتوخېل
- چرتي زي
- مغل خېل

- بابکرخېل
- جبارخېل
- قطب خېل
- پیارو خېل
- اتمان خېل
- شېرپای

- جابرخېل
- امیرخېل


## «سمرازي بن سلیمان»

- پاینده خېل
- جلال زي
- شاتوري
- دینارخېل
- سلطان خېل
- نیزب خېل

Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library






## غلجی قبایل:

### «متوزی» - اوله ثانکه




Kitaboona.BlogSpot.Com

## «مموزی بن اکاخیل»

- مروعست خیل
- آزاد خیل
- بنځی خیل
- قرا خیل
- دریا خیل
- بنګی نام خیل
- مرزا خیل
- محمدانی

## «مش خیل بن اکاخیل»

- خدی خیل
- جباری خیل
- آدم خیل
- جانو خیل
- احوند خیل

## «یوسف خیل بن اکاخیل»

- کریم خیل
- مشی خیل
- نور ورز خیل
- آزاد خیل
- کرو خیل

## «علی خان خیل بن اکاخیل»

- مرجان خیل
- آزاد خیل
- دور خیل
- کمال خیل
- اعظم خیل

## «همیش خیل بن اکا خیل»


- محمدزي
- مقام خیل
- پیر خیل
- خودي خیل

(c) ketabton.com: The Digital Library
Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «مندوزی بن اکاخیل»





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غلځي قبائل:


## متوزي - اوله څانګه




Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library







Kitaboona.BlogSpot.Com


## «د ولت خیل بن موسیٰ بن اندړ»




## «جلال زی بن اود بن اندړ»




## کوتی خیل بن اود بن اندړ




(c) ketabton.com: The Digital Library



# غلجي قبایل

## «متوزي» اوله څانګه




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فیروز خېل بن ترکي بن موسیٰ ...**

- جمال خېل
- ګور خېل

- شاګل خېل
- شیخ نور خېل
- شیرین خېل
- نور خان خېل
- سدو خېل

**ګرېز بن ترکی بن موسی بن ...**

- ګلان خېل
  - تارک خېل
  - دلدا خېل
  - شبکی خېل
  - المري
- حریف خېل
  - کنجو خېل
  - میوی خېل
  - ګلا خېل
- بارک خېل

**عمرو خېل بن بادین بن ترکی ...**

- قباد خېل
- سنتي زي

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



### شهباز خېل بن حیر وخېل

- نورزي
- ملکدین خېل
- بوسی خېل
- ګران خېل
- براهم زي

### سنتي زي بن خیر وخېل

- پیکو خېل
- شاه عبدالخېل
- زلو خېل
- خان خېل
- صاحبداد خېل
- فرات خېل

---

نوټ : غلجي د پخوا نه ډېره د اهمیت وړ قبیله وه او اولنی سړی بختیار غلجي یکښې په ۱۲۰۲ع کال په بنګال کښې حکومت تشکیل کړو. دی د قطب الدین ایبک معاصر ؤ، خو په ۱۲۰۵ع کښې علي مردان غلجي مړ کړو او اقتدار یې ترې ونیو.

د غلجو ژبه هم سوچه پښتو ده، او بیا جلال الدین غلجي په ۱۲۹۰ء کښې د کیقباد نه پادشاهي ونیوله . د غلجو حکومت تر ۱۳۲۰ع پورې ؤ او بیا تغلقان(۱) راغله .

---

(۱) :

Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



# «لودی قبایل»

## «متوزي» - دویمه څانګه

### ابراهیم «لودی» بن متو او شاه حسین غوري





Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



## عمرزي بن دوتاڼي بن ابراهيم لودی




## عمرخېل بن پرنګی بن سياني بن ...





Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملک ببو بن یوسف خېل




## احمد خېل بن شاهو خېل بن ...




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



### «سلطان سکندر بن سلطان بهلول»

- محمود
- سلطان ابراهیم
- جلال خان
- حسین خان
- اعظم خان
- همایون
- اسمعیل

### د «سور ع۱ بن سرک» نه

- اسحاق زی
  - شیخ زي
- ابوسعد زي
- حسن زي
  - یوسف خېل
  - پیار خېل
  - عمر زي

### د «تور ع۲ بن سرک» نه

- توجی
  - احمد خېل
  - مېدی خېل
  - گدای خېل
- محمود زي
  - الف خېل
  - ذکریا خېل

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نوټ:

دلودیانو په تېره د پرنګي په تېر په شاهوخېلو کښې د ملک کالا په په کورنۍ کښې سلطان بهلول لودی په ۱۳۹۱ع شاوخوا پیدا شوې په هندکښې د لودي سلطنت بانی دی. دی په ۱۴۵۱ع کښې پادشاه شو او (۳۸) کاله بادشاه ؤ، د (۸۰) کالو په عمر په ۱۴۸۹ع کال مړ شو او زوی یې سلطان سکندر په ۱۴۸۹ع کښې پادشاه شوېچې تر ۱۵۱۷ع پورې ؤ او په دغه کال وفات شو او زوی یې ابراهیم بادشاه شوېچې په ۱۵۲۶ع کښې تړې د یلی بابر ونیو او ابراهیم یې په "پانی پت" کښې وواژه.

دلودیانو دا دوره د ۱۴۵۱ع نه تر ۱۵۲۶ع پورې (۷۵) کاله ده. بیا د پښتنو د بلې کورنۍ مؤسس شېرشاه سوری دی، چې په هند کښې د سوریانو د سلطنت دوره د ۱۵۳۹ع نه تر ۱۵۵۷ع پورې وه چې لومړی بادشاه یې شېرشاه او وروستنی یې عادل شاه و، دا دوره (۱۸) کاله وه. خو شېرشاه ډېر مدبر او په کار اګاه سړی ؤ، چې ټول مؤرخین ورته په درنه سترګه ګوري.

شېرشاه د حسن خان زوی، د ابراهیم منسي دی په ۱۴۷۹ع کښې په حصار فیروزه کښې پیدا شوی او مؤرخین ورته ډېر په درنه سترګه ګوري او د ده کارونه خلک ډ ستائي. وروسته د کرلانو قبیلې تاج کرانی چې د شېرشاه امیر او د اسلام شاه هم امیر وو، هغه په مشرقي هند کښې بهار او لړیسه او بنګال کښې

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۵۶۴ء کښې د یو سلطنت تاداؤ کېښود ، خو یو څو میاشتې پس هغه مړ شو او ورور یې سلیمان کرلاني پادشاه شو. خو هغه هم په ۱۵۷۲ع کښې وفات شو او زوی یې بایزید بادشاه شو، - خو په ۱۸ مه، اتلسمه ورځ ووژلی شو. او بیا د هغه بل زوی داؤد بادشاه شو چې په ۱۵۷۶ع کښې داکبر مغلی فوځ هغه ونیوا او مړیې کړو.

د بهلول لودی شجره داسې ده:


بهلول د ملک کالا او هغه د بهرام ، هغه د رحمد، هغه د شاهو هغه د اسحاق ، هغه د پرنګي ، هغه د سیانی ، هغه د ابراهیم لودي بن شاه حسین او بی بی متو زوی ؤ.

ملک بهلول لودي یتیم پاتې شوی ؤ او په وړوکوالي کښې په بلو مشهور ؤ، خود هغه تره اسلام خان د سید خضر خان له خوا په - سرهند حاکم ؤ او هغه خپله لور ورته ورکړه او پس د اسلام خان له مرګه د هغه اقتدار بهلول لودي ونیوا و اخر بهلول د - علاؤالدّین سید نه چې د محمّد شاه زوی ؤ ډیلی ونیوا و په ۸۵۵ هجری ۱۴۵۱ع کښې بهلول د ډیلي بادشاه شو.

Kitaboona.BlogSpot.Com

## «متوزی» دویمه څانګه

# لودی قبائل؛





Kitaboona.BlogSpot.Com
(c) ketabton.com: The Digital Library


(c) ketabton.com: The Digital Library



# میان خیل بن نوحانی یا لوهانی





## د ولت خیل بن یسین خیل بن مماخیل




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library






Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




# متوزی - دویمه څانګه

## لودی قبائل؛

### «مروت»


مروت بن لوانی بن اسمعیل بن سیانی بن ابراهیم لودی
بن متوا و شاه حسین غوري




Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library







Kitaboona.BlogSpot.Com

سلیمان خېل بن طوطي زی بن بهرام بن سالار بن مروت



## «موسیٰ خېل» بن مروت





(c) ketabton.com: The Digital Library
Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لودي قبايل:

## متوزي - دويمه څانګه




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فرید خان (شېرشاه) بن حسن خان

جلال خان | عادل خان

او د "نظام بن حسن خان" نه: مبارزخان یا عدیزخان (عادل شاه) یا عدلي دی.

### نوټ:

د سور په کورنۍ کښې فرید خان (شېرشاه) په هندکښې په حصار فیروزه کښې په ۱۴۷۹ع زېږېدلی ؤ. دی د حسن خان زوی او. هغه د ابراهیم زوی، هغه د رکن الدین زوی هغه د محمد زوی هغه د شېرخېل، هغه د محمود زي، هغه د یونس هغه د سوربن اسمعیل بن سیانی بن ابراهیم لودی زوی ؤ او هغه د بی بی متو او شاه حسېن غوري زوی ؤ او بی بی متو د ښېخ نیکه لور وه او ښېخ نیکه د - قیس عبدالرشید زوی ؤ.

شېرشاه په اول کښې د خپل پلار حسن خان د جاګیر د سمبالولو کار کولو، بیا د پلار نه خفه شو او د یو بل پښتون جاګیردار جلال خان سره په جون پور کښې نوکر شو او اخر یې ډېر اقتدار پیدا کړ او د بنګال او بهار په علاقه حاکم شو، لښکرې جوړې کړې د بابرله زوی مُغلی باد شاه همایون نه یې په ۱۵۳۹ع کښې د ډيلي تخت ونیو او په هند کښې باد شاه شو. همایون ترماتې وروسته ایران ته وتښتېدلو.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېرشاه د باد شاهۍ په شپږم کال په ۱۵۴۵ع کښې څه وخت چې يې د کالنجر قلا محاصره کړې وه د بارودو په اور د خپل پير شيخ خليل ملا نظام او دريا خان شېراني سره په اور وسوزېدا او د (۵۹)- کالو په عمر وفات شو. او زوی يې جلال خان د هغه پرځای په ۱۵۴۵ع کښې باد شاه شو. اسلام شاه (جلال خان) اته (۸) کاله باد شاه ؤ، په ۱۵۵۴ع کښې ناروغه او بيا مړشو او په دغه کال يې زوی فېروزخان چې ورکوټی هلک ؤ، اميرانو باد شاه کړو، خو درې (۳) مياشتې پس يې ماما عزيزخان راغی او خپل خوريي يې مړ کړو او دی د عدلی يا عدل شاه په نوم باد شاه شو. او په ۱۵۵۲ع کال باز باد ريا بهادرخان يو پښتون عدلي په جنګ کښې وژنيو او مړ يې کړ او دی سره د سوريانو د اتلس (۱۸) کالو باد شاهۍ- دوره هم ختمه شوه.

په سوريانو کښې فريد خان (شېرشاه) ډېر مدبّر او په کاراګاه- باد شاه ؤ او د پښتنو د يرلوی سلطنت بنيا د يې کېښود او د ۵۹ کالو په عمر مړ شو.

ټول مؤرخين د شېرشاه د کارنامو ستاينه کوي. شېرشاه په هند کښې په سسرام د بهار کښې ښخ دی.(۱)

---

(۱): شېرشاه د کالنجر د قلعه د محاصرې په وخت ۱۵۴۵ع کښې يوه ګوله د قلعه نه بېرته راغله او په مېخزين ولګېده او اور يې واخيست او شېرشاه پکښې وسوزېدا او مړ شو.
(سيال)

Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library





# لودی قبایل:


نیازی بن ابراهیم لودی بن شاه حسین
او بی بی متو




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library






Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




## متوزی - دریمه څانګه

# لودی قبایل:

# «سرواڼي»

د سرواڼي د (مهی زوی، بن شاه حُسین (د غلجي او لودي ناسکه ورور)




(د بلخ کښتي)


Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library




## یوسف بن یونس بن الفرح بن سنی بن سروامنی

### "یوسف"




## "سریپال" بن سروانی




Kitaboona.BlogSpot.Com

## ھبت بن جعفر بن سریپال بن سروانی

**«ھبت»**

- تلخانی
- دودو
- ملانا
- بندار
- حسن
- شیخ سعید

## کھکور بن جعفر بن سریپال بن سروانی

**«کھکور»**


- الوت
- سکنوت
- ملانا
- رشید
- ابراہیم
  - کنولی
  - ہارون
  - محمود
    - اچوک
    - انوک
    - موسیٰ
      - ھدو
      - ممو
      - احمد (جوانمرد)
        - شیخ سلیمان (دانا)
        - سدو
        - ممو
        - شیخ ملیح قتال ← (یہ بلا نتیجہ گزرے)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شیخ ملیح بن احمد بن موسیٰ بن ... بن سروانی

### « شیخ ملیح »




**نوټ :**

شیخ صدرالدین د بهلول لودي معاصر ؤ او هغه ورته خپله لور په نکاح ورکړې وه او همدا په هندکښې په کوټلې مالیر کښې د یو ریاست بنیاد کېښود او دا د سروانو ریاست ؤ.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# متوزي (غلجي او لودي پښتانه قبایل)

روایات داسې دي چې شاه حسین د غور د شاهي کورنۍ یو زلمی ؤ او له خپلې کورنۍ نه په خفه شو د کورنه ووت او راغی د - بېټ نیکه ( د قیس عبدالرشید د دریم زوی ) سره د بېره شو. شاه حسین یو اصیل زاده زلمی او د ښوا خلاقو خاوند زلمی ؤ. د شیخ بېټ نیکه د هغه ښه اخلاق خوښ شول او خپله لور «متو» یې په نکاح ور کړه . د بی بی متو نه د شاه حسین د وه زامن وشوچې د یو نوم غلجي او د بل ابراهیم یالودی کېښودی شوا و د بلې مېنځې مهی ( د کاغ د وړ لور ) نه یې یو زوی وشوچې نوم یې سروانی کېښود شو. غلجي لودي او سرواني پسې ډېرا وخواره شول .

غلجي قبائل د کابل سیند په کڼه کښې د ننګرهاره پورې او د هندوکش غره په لړکښې سویل ته او د سپین غره په زنځیری کښې قطب ته هغه ټولې ورې وړې کڼې یا درې د کابل سیند سره یوځای شوې دی، په دغه ټولوکښې د غلجیو قبیلې ځای په ځای پرتې دي د دې علاقه به د قطب نه د سویل په لور اندازاً ( ۱۸۰ ) میله وي او د قبلې نه د لمرخاته په لوري به ( ۸۰ ) میله پلنه وي او زوری ( نشیب ) -

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبله په سویل دی. دا علاقه اکثره غریزه ده او واوره پرې کېږي د دوی پوله قبلې ته د مشرقي ابدالیانو سره لګېدلې ده. قطب ته یې هزاره قبایل دي، په نمرخاته یې غوریاخېل دي او په سویل یې دکسي غر دی.

غلجي د هوتکو او توخو په دوو غټو څانګو وېش دی او دې دواړو څانګو په منځ کښې ډېر وخت بدی او دښمنی وه، او ویلی شي چې نادرافشار هغه وخت چې قندهار ونیولو نو هغه وخت هغه د هوتکو یو نیم زر کډې د قندهار نه فرار کړې او ایران او روسي ترکستان ته یې ولېږلې او د هوتکو زورې لږ کم او، نو اکثره هوتک په مرغه او بادین او سورغره په دواړه پلو کښې پاتې شو. د هوتکو علاقه د قندهار نه په قطب نمرخاته خلور پړاوه لرې او د قلات غلزي نه په سویل نمرخاته یو پړاو لرې پرته ده، او توخي د ترنک رود په کڅه کښې د پل سنګي نه تر شیباره پورې پراته دي. د غلجیانو په ټولو ټپو کښې د سلیمان خېلو څانګه په شماره کښې ډېره ده. د سلیمان خېلو څلور سباخونه یعنې فقیرخېل، اسمعیلزي، احمدزي او سلطان زي یارستانه زي ډېر مشهور دي.

د دوی علاقه په دوو برخو وېش ده، په سویلي برخه کښې - ادین خېل، نسوخېل، قلندرخېل، شنګي خېل، شاتوري، جلال خېل

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممش خېل، ممونت خېل او سېږي، او په قطبي برخه کښې سلطان زي رستانه زي، او احمدزي استوګن دي. د ستانيزي ځنې ټټې خلک لکه جبارخېل، بابکرخېل، په جګدلي او سره رود، ګندمک او حصارک پراته دي، او څه جبارخېل د لغمان په کڅونو يعنې: عزيزخان کڅ، کالخ، چهار باغ او علي شنګ کښې هم او سېږي.

احمدزي په مشرقي لوګر، پيګي او سرخ آب کښې هم آباد دي.

خوخېل مالومه د څرونې د پاره آن تر جلال آباد او نور وخا يوونو ته هم بيايي، او د ککوکورنيي سروخان او نور په مارکو کښې اود تربرونو کډې په رحمتي د مومندو په علاقه کښې هم اوسيږي.

**علي خېل:** څه په زرمت او څه په مقر پراته دي، او اکثره مالدار دي او د لمځو او غوندو جوړولو کار هم کوي.

**داندړ وتپه:** په شيلګر د غزني پرته ده او څه برخه يې په جان مراد کښې هم اوسيږي. د دوی ساخ جلال زي په زرمت کښې او يو کلی يې په شيبار کښې هم شته او د کاکړ و يوه تپه موسی خېل کاکړ په اندړ و کښې هم ګډه شوې ده او د شلګرنه په قبله د هزاره جات د غرونو سره لګېدلې پرته ده. او ملا نجم الدين اخوندزاده (هډې صاحب) نامتوجا هد هم له دې قبيلې نه و.

**تر کی:** ترکی په شمار کښې د اندړ و نه ډېر دی او پڅېله ځمکه د پشين پراته دي او کوچيان هم پکښې لږ دي، د دوی

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



علاوه د مقرخواږ شاده. اسحاق زي چې په سهاك مشهور دي، ځني په زرمت. ځني په لغمان او ځني د کابل په يک توت، تکاوار سرو بې کښې استوګن دي.

**خدرزی:** خدرزي په مقرکښې دعلي خېلو سره آباد دي، دوی اکثره د کروندې کارکوي په غلجيوکښې ځنې داسې قبيلې شته، لکه ناصرا وخروټي، خدرزي او زمرياڼي چې ځانونه غلجي ګڼي، خو غلجي دوی په غلجيوکښې نه ګڼي، ناصرخان په هوتکو ګډ وي، - خو په هوتکوکښې داسې کوزنۍ نه ده معلومه چې دوی پرې ور ګډ يږي.

د ناصر مشهورې قبيلې دادي:

۱- داؤد خېل . ۲- اتمان خېل. ۳- ملي زي .


د دوی ګراف په دې ډول دی،

(په بله صفحه کښې يې وګورئ)

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library






Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د ناصر، خان غلجي بولې څرپه غلجوکښې لکه پاس چې ویل شوي چې دوی پرې ورګډ شي په غلجوکښې داسې کورنۍ نشته. څو داخبره منلې ده چې دوی ښه سوچه پښتانه دی، د هر "خېل" او "زی" چې دي پښتانه دی، په دوی کښې ښه شخصیتونه او پوره جنرالان تېر شوي.(۱)

ناصر د غلجو سره څه په کابل شکردره او ځینې په پغمان- او نورو ځایوکښې اوسیږي.

---


(۱) لکه جرنیل غلام نبي خان او د هغه زامن، جرنیل اسحق خان- جرنیل مراد علي خان، سور جرنیل محمد عمرخان او رئیس فیض محمدخان دی.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خروټو ګراف :




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګوندی بن اودخېل بن اوبه خېل بن خروټی

### "ګوندی"

- باندہ زي
- ګوندزي
- بهرام خېل
- سلطان خېل
- حیدرزي
- لاجی خېل

## مارنګ خېل بن اودخېل بن اوبه خېل بن خروټی

### "مارنګ"

- نورالدین
- بدین
- کاکازی
- شهاب الدین
- کرایه دین
- متوخېل
- میرخان خېل
  - خویدادخېل
    - میرک خېل
    - غیبی خېل
  - عباس خېل
  - شهبازخېل

- حریف خېل
- باچوخېل
- بهرام خېل
- بناس خېل
- یحیی زي
- سوران خېل
  - نیچوخېل
  - کریم خېل
- بی زی
  - زغرخېل
  - دولت خېل
  - بهادرخېل
  - نوروزخېل
  - شالی خېل
  - نادرخېل


Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



## میرخان خیل بن مارنګ بن اود خیل بن اوبه خیل بن خروتی

### « میرخان خیل »




Kitaboona.BlogSpot.Com

ځينې وايي چې: سهاک او جيجب دواړه چېرته تللي ؤ يو ځرې په
لاره کښې له باره سره وموښد. جيجب ويل څرن ما سهاک ويل
بارېې زما. بارچې يې ولټاوه يو پلو ورکوټی هلک پکښې ؤ او ويل
پلو د روټو اوړه وو، يعني داوربشو اوړه وو، او بيا د سهاک
په کورنۍ کښې ورته يوه ښځه ورکړی شوه او د ړې زامن يې
وشول: زکو، ياخېل، او به خېل دی او د هغې نه خروټي ډېر
شول، خو دا يوه جوړه شوې افسانه ده، والله علم، خوخروټي
سوچه پښتانه دي او په غلجو ورګډېږي، دالږ و ډېر شپږ-
زره کورنه کيږي او اوس به لانور ډېر شوي هم وي. دوی د
کټواز په مشرق او د سليمان غره په لړه کښې او څه په ارګون
او سرروضه کښې او څه د پرمل په علاقه کښې استوګن دي او
څه د کابل په پغمان کښې څه د ننګرهار په کامه او دکونړ کنړ په
اولسوالۍ کښې او نورو ځايونو کښې هم استوګن دي. دوی
زميندارې کوي او مالدار هم دي. له وزيرو سره به يې
جګړې رېږې کېدلې، خو د وزيرو مشر قنبر نومی او د خروټو مشر
شمس الدين دا لانجې غوڅې کړې او څه روغه جوړه يې ترمنځ
وشوه.

**زيرماني**: له قندهاره تر کابله خواره واره پراته دي او
ډېر لږ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library
Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خدوزي:** داخلك اکثره په مقر کښېنې له علي‌خېلو سره او سيږي او څه په «ده‌خوجه» د قندهار ښار سره نژدې او سيږي، داخلك څوك پوپلزي او څوك يې غلجي گڼي، خو ټيږه يې نه ده معلومه. خو دا منلې خبره ده چې ښه اصل پښتانه دي او د تجارت کارکوي.

دانه ده معلومه چې د ميرويس‌خان نه مخکښې د غلجو مشر څوك ؤ، خو روايات داسې دي چې سلطان ملخي «چې د ميرويس نيکه د مور «نانا» و» انا پلار ؤ، د شاه‌جهان او بيا د اورنگزيب له پلوه د قلات او قرتو دلار د حفاظت په کارمامور ؤ او د توخو د قبيلې نه ؤ، د خداداد سلطان د سد و زو د مشر همعصر ؤ او دې د واړو مشرانو په جرگه، صلاح، رضا د غلجيو او ابداليانو په منځ کښې د گرم‌آب دره د جلدك په خوا کښې د غلجيو او ابداليو پوله او بريد ټاکلي دی

سلطان ملخي دا غزگي او سرخ رود ترمنځه په جنگ دروازه کښې ووژل شو او له هغه نه پس يې زوی حاجي عادل خان د قام مشرشو، د هغه نه پس د هغه زوی د باڼي‌خان، د قام مشرشو دی هم په يو جنگ کښې ووژل شو، ده پسې شاه عالم خان د علي خان زوی د غلجو مشرشو. دی د باڼي خان ورارۀ ؤ، بيا د هغه زوی خوشحال‌خان د قام مشرشو، د هغه نه پس د هغه زوی اشرف خان د احمد شاه ابدالي له خوا د قلات نه ترغزنې پورې علاقې حاکم ؤ.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي اشرف خان له احمدشاه سره په هند باندې په لومړۍ حمله کښې هم ګډون کړی ؤ، او د احمدشاه د زوی تیمورشاه په وخت کښې د اشرف خان زوی اموخان د تمام مشرؤ، د شاه زمان او- شاه محمود د تیمورشاه زامن، د سدوزو بادشاهانو د جګړو په وخت کښې د غلجو بادشاهۍ ته بیا زړه وشو او د سدوزو سره یې جنګونه پیل کړل، خو ماتې یې وخوړه او غلجیان ډېر تاوانې شول او د سرسرې پکښې پاتې نه شو، او له سدوزو نه چې څه وخت حکومت بارکزو ته منتقل شو، نو غلجو بیا سر راپورته کړو او د امیر دوست محمدخان سره یې څو وارې ماتې کوونکې جنګ جګړې پېښې شوې.

سره د دې ټولو ناتاروتو د امیرعبدالرحمان خان ترزمانې د توخي په څانګه کښې د سلطان ملخي کورنۍ د مشرۍ کورؤ او با اقتداره وو.

د محمدظاهرشاه د پادشاهۍ په وخت کښې هم یوتن دعبدالرحمان په نوم یوتوخي مشر بغاوت وکړو، خو اخرحکومت ته تسلیم شو او بیا په کابل کښې نظربند ؤ، داؤ، د غلجو لنډ تاریخ او- شجرې.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ب: «لودي قبائل»

د روایاتو مطابق د لودیانو مشرنیکه ابراهیم دی چې وروسته ، لودي مشهور شوی دی . د بی بی متو او شاه حسین زوی ، د غلجي وروراو د بېټنیکه د لوړ له پلوه تمسی ؤ.

ځینې د لودیانو د مهمو څانګو لکه : اسمعیل خېل ، پرنګي ، لوهاني یا لواني ، دوتاني ، نیازي ، سوري ، مروت او نورو شجرې لیکلې شوي دي ، دلته د هغوی څه لنډ تاریخ لیکل کیږي .

په اوسني افغانستان کښې دلودیانو د نورو قبیلو نه د لواني قبیله ډېره ده ، د دې طایفې خلک په اندړ ، قره باغ ، شیلګر ، قلات او قندهار کښې په اوړه د همسایه ، ډول په غلجو کښې پراته دي ، او ځینې خلک یې په قطغن او بدخشان ته هم تللي دي . دا خلک اکثره د ځمکو څښتنان دي ، خود کرکیلې په کار کښې میړني نه دي ، او اکثره د تجارت کار و بار کوي . د دوی پنځه سوه کوره په شلګر او درې سوه کوره په قره باغ کښې

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم پراته دي.

د لواڼو نه پس په افغانستان کښې د نیا زیو شماره د ېږه ده او دا خلک مالداره او پیوونده دي، په ژمي قندهار ته او په اوړي د کوه بابا لمنو د هزاره جات غرونو ته راځي. د اخلک داوښانو ګلې او د کډوا او بزوړې لري. د دې خلکو نه څه څای په ځای سټوي هم دي او د ده شین په ترګه په شیلګره، قره باغ، جان مراد، مقر قلات، غوربند او لغمان کښې او سیږي او د کرکیلې کارکوي. دا خلک په زمینداره معامله کښې ښه کره دي او د ښې ګذارې خلک دي.

## دوتاڼي:

دوتاڼي هم په افغانستان کښې آباد دي او د کرکیلې کارکوي.

## پړنګي قبیله:

په اوله کښې په مغربي افغانستان کښې استوګنه وه، وروسته د غه خلک د خپلې مالدارې سره د مالونو د څړولو د پاره د کسي غره لمنو ته راغلل. او په دامان کښې د ټانک او روړه په څمکه پرېوتل دغلته دوی ډېر وخت تېرکړو. د بابر مُغلي بادشاه په وخت کښې دولت خېلو، میاخېلو، مروتو او نورو لواڼو په پړنګي قبیله حمله وکړه او په د غه جنګ کښې د دغه قبیلې ډېر خلک و وژل شول او کمزوري شول، نوله دې امله هندوستان ته په کډه-

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوډو مجبوره شول او د دوی ځمکې لواڼو ونیولې .

په دې قام یعنې پرنګي کښې د شیخ حمید لودي نه ډېر د - غزنوي سبکتګین همعصرو، د هغه نه څلورسوه کاله وروسته بهلول لودي بل لوی سلطنت قایم کړو چې تقریباً (۷۵) کاله د حکومت دوره یې وه، او پښتنو ته لوی افتخار دی.

## لوهاڼي یا لواڼي:

د نوحاني، لواڼي یا لوهاڼي اولاده په سپین او تور لواڼي مشهور دي. د تور لواڼي مشهورې ټپې دا دي:

۱: **دولت خېل**: د دولت خېل د شجروته معلومېږي چې دلواڼي د زوی دمما، دری زامن وو، په دوی کښې د دولت خېلو څانګه ډېره وه، نو نور دمماخېل، یې هم په ځان کښې ګډ کړل او د مماټوله اولاده په دولت خېلو یادېږي. د دولت خېلو نه په پنځم پشت کښې کټه خان پیدا شوا او اولاده یې په کټي خېلو مشهوره ده، دلواڼو ټولو خېلونو د ټانک په ځمکه واړ ول. د دې نه به مخکښې هم دوی دلته د هالونو څرولو د پاره راتلل او څه خلکو یکښې دکرکیلې کار هم کولو او د ځمکو خاوندان په کټه وان چې د غزني جنوب مشرق ته واقع دی، پراته وو، او څه خلک به یې د هالونو څرولو د پاره د "وانه" غرونو ته هم تلل او هلته به اوسېدل. خو د مروتو د سلېمانخېلو سره د یوې مېنځې د ناموس داره په باب بدې پېښه شوه

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مروت چې په سلیمانخېلو کمزوري وو، نوله دې امله یې د -
کېږه وازنه کډه وکړه. په دغه وخت کښې به د دوی د هرې
تپې خانانو بېل بېل خان ؤ او خپلې ټولې ماتې کوډې به یې په جرګه
رغولې.

د لوانو قام خاني په کته خېلو کښې وه چې د دولت خېلو یوه
پښه ده، داخان به د لوانو د ټولو قبیلو په خوښه او رضا ټاکل
کېده او هغه به د هرې تپې خلکو سره د ورورۍ او عزیز ولۍ -
سلوك کولو.

د نولسمې[۱۹] میلادي پېړۍ په اوایلو کښې قتال خان د قام مشر
شو، دا د سلیم خان زوی ؤ، دا سړی ډېر تریخ ؤ او د خلکو سره
به یې سپکه ګذاره کوله، او خلک یې ډېر تنګ کړي وو، د دولت -
خېلو کټي خېلو په کډه قتال خان او د هغه زوی اکبرخان و وژل
او د هغه مشر زوی سرورخان کابل ته په تېښته لاړ. دغه -
وخت د کابل حکومت د امیر دوست محمد خان په لاس کښې ؤ یعنې
د ۱۸۳۰ع شاوخوا زمانه وه. امیر دوست محمد خان د سرورخان
ننګه وکړه او د عبدالرحیم خان هوتك په مشرۍ یې څلور زره لښکر
ورکړو او د دغه لښکر په زور سرورخان د خپل پلار او ورور
قاتلان و وژل او خپل بدل یې واخېستو او د خان د حفاظت -
د پاره یې پنځه سوه نوکران هم وساتل او خپله قلا یې مظبوطه

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه. په ۱۸۳۹ ع کښې سرور خان په کرمه کښې مړ شو او د هغه په ځای الله داد خان د قام مشر شو. په ۱۸۴۰ ع کښې څه وخت چې د نونهال سنګه په مشرۍ کښې سيکان راغلل او ټانک يې ونيولو، نو د الله داد خان تر شا چې د قام څه کومک نه ؤ، نو مجبوراً وتښتېدلو او د مسعودو علاقې ته ورغی، او له هغه ځايه بيا کابل ته ولاړ او پر ټانک د سيکانو قبضه راغله. د کابل امير دوست محمد خان په دغه وخت کښې پخپلو خولو کښې ډوب ؤ، او د الله داد خان امداد يې ونه کړای شو. الله داد خان بېرته د مسعود و علاقې ته راغی- او هلته د ېره شو. سيکانو د ټانک علاقه ملتاني پښتنو ته په جاګير ورکړه، الله داد خان به هر وخت له ملتاني پښتنو سره په ډزو ډوز لګيا ؤ، آخر په همدې اله ګوله کښې الله داد خان مړ شو او ټانک او نوره سرحدی صوبه په ۱۸۴۷ ع کښې د انګرېزانو په قبضه کښې راغله او د سيکانو اقتدار ختم شو او د الله داد خان زوی شهنواز خان انګرېزانو د ټانک والي ومنلو.

## د مياخېلو څانګه:

مياخېل هم د دولت خېلو سره يو ځای دامان ته راغلي وو او مالداري يې کوله او څه لږ و ډېر تجارت به يې هم کولو. دا خلک د راڼې په څمکه استوګن دی په دې ځمکه په اول کښې د سوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سرواڼي قبيلو خلك او سپدل ، خونړ مانخان کټي خېل دغه خلك له دغه ځايه وشړل . دغه وخت دولت خېلو د ټانك ځمکې پخپلو منځو کښې سره وو پشلې . څو کاله پس د بختيار و قبيله چې په بنه بده کښې د مياخېلو سره ګډه وه ، د سرواڼو سره په بدۍ اخته شوه، او د مياخېلو په مرسته يې سرواڼو ته ماتې ورکړه او د سرواڼو ځمکه يې ونيوله ، او پخپل منځ کښې يې سره وو پشله . د دې نه وروسته د مياخېلو خلك د ده شيڼ په توګه د غلته استوګنه خوښه کړه او پاتې شول او ځينې لاکوچيان وو . د مياخېلو او بختيار و ځينې خلك لا اوس هم پرونده دي . د مياخېلو خانان لړ اختيار لري او د پرونده ؤ بېل خانان وي . د مياخېلو خلك بنه درانه او شتمن - خلك دي . د دوی د مشرۍ کور د سيد خېلو په څانګه کښې وي ، چې د خلاخېلو ذيله ده .

## تتوړ :

تتوړ خلك په شماره کښې لږ دي ، د وی په عاد تونو او رواجونو کښې د دولت خېلو په شان دي او د کرکيلې کار کوي .

## نيازيان :

نيازيان هم د لودیانو یوه څانګه ده دا خلك په اول کښې په شلګر او د غزني په شا وخوا ځمکو باندې پراته وو . او د وی دغې علاقې نه داندړ او غلجو د بنسمنۍ په وجه کډه وکړه او په ۱۴۵۱ ع

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې څه وخت چې بهلول لودي په هند کښې يو لوی سلطنت جوړ
کړ و نو ... ړ وه ، نو يې فرمانونه راوليږل او پښتانه يې هند ته -
وبلل ، نو د نيازيانو هم ډېر خلک هند ته ورغلل او په شاهي فوځ
کښې شامل شول ، په دغه خلکو کښې هيبت خان نيازی او عيسی خان
نيازی د شېرشاه سوري په وخت کښې ډېر د عزت خاوندان و وخو
د شېرشاه د مرګ نه پس د هغه د زوی سليم شاه فوځونو نيازيانو
ته ډېر تاوانونه واړول او نيازيان ډېر کمزوري شول - نيازيان
دا باسيند په دواړه غاړو د کالا باغ نه تر پينياله پورې په اوږدو
باندې او د خټکو د غرونو د شرقي لمنې نه تر ميانوالي پورې په -
ساره کډو ډېرا ته دي او دا علاقه د نيازو په علاقه مشهوره ده .

## دوتاڼي :

دوتاڼي هم په لوديانو کښې ګڼل دي ، لږه مته په ده او اکثره
مالداري کوي او د د واڼي په علاقه استوګن دي او په اوړي
کښې ځينې د غزني خواوشا ته هم ورځي .

## خيسوري :

دا خلک هم ځان لوديان ګڼي . لږ خلک دي او دا باسيند په -
قطبيزه غاړه او د اسمعيل خان د پره ضلع کښې آباد دي ، او
دوی په عمرخېلو هم مشهور دي . د دوی ځينې خلک د عيسی خېلو
د علاقې په قطب لوري او د پينياله د يوه ورکوټي غره په خوا

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې د مروتو په علاقه پراته دي. د دوی په علاقه کښې خرما ډېرې کیږي.

## بېلچ یا بیلچ:

دا خلک هم ځان په نیازو ګډوي او ځینې وائي چې موږ د ولت خېل یوو، په هرحال پښتانه دي. لږ خلک دي او اکثره په پنیاله کښې د غونډ شیخ بدین غره په خوا کښې اوسیږي او څه یې د غزني خوا وشا هم شته دی.

## مروت:

مروت خلک په سپین لواڼي مشهور دي. په اوله کښې دا خلک په کټواز پراته وو، خو وروسته یې له سلیمان خېلو سره بدي راغله او دوی ته را پاڅېدل او اوس په هغه ځمکه سلیمان خېل پراته دي. ویلې شي چې د آزاد خان سلطان خېل د کاله نه یو سړي بنځه وتښتوله او مروتو ته یې پناه وړ وړه او دا واقعه د ۱۰۰۴هـ، څلورم سوم هجري پېړۍ پېښه ښودلې شي. سلیمان خېلو دا مجرمان غوښتل او مروتو پرې ننګ وکړ او نه یې ورکول او نتیجه یې دا شوه چې له سلیمان خېلو سره نور غلجي هم ودرېدل او سخت جنګ وشو، چې مروتو ماتې وخوړه او د هغه

---

نوټ: د دې خلکو یاد ماته سید شمس الدین مجروح کړی ؤ چې ویلچ په نوم یوه قبیله شته دی. رسیاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکې نه په کډه کولو مجبوره شول او د تاڼګ په علاقه کښې په څه ځمکه پرې وتل، خوځه موده پس د ولت خېلو دوی له دغه ځمکې پاڅول او وروسته بیا مروتو، دغه ځمکې ونیولې، خو کښتي خېلو چې د د ولت خېلو یوه څانګه ده د ګنډاپور په کومک دوی بیا له دغې ځمکې نه وشړل او مروت لاهل د تل په قطب برخه میشته شول.

ویلی شي چې د اسلام نه وړاندې په دې ځمکو یونیان او هندوان او سپډل چې د هغوی د استوګنې اثار لا اوس هم شته دی، خو سلطان محمود غزنوی او سلطان شهاب الدین غوري په زمانه کښې دغه خلک د دغه علاقو نه وشړل شول او بیا په دغه ځای پوتهی قام او سپډلو، د دې خلکو اصلي حال معلوم نه دی چې څوک وو؟ خو دوی سارنګ خېلو، عیسی خېلو او نازیانو له دغه ځایه وشړل، او دوی راعلل پرې په خپله پرېوتل.

نیازو په هغه برخه کښې چې اوس پرې پهاړخېل آباد دي. د ګمبیلې نه په قطب لور ودانې شروع کړه او د رود نه یې درې ویالې را بېلې کړې او هغه ځمکه یې ځانله غوره کړه چې د ګمبیلې او کرمې ترمنځ پرته ده د دغه برخې د جنوب پورې د دوی مالځرڅ، په دغه وخت کښې د نیازو مشر «مدی سارنګ» و، چې مالدار ؤ او تراوسه یې په هغه علاقه لا شهرت شته دی. د نیازو څه بل وخت

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه علاقه قبضه وه او د دوی یوه څانګه «مهیان» د سارنګ-
خېلو او عیسی خېلو نه په دې مرورشوچې دوی له یې سمه برخه
نه ورکوله او د مروتو نه یې د مرستې خواست وکړ، او مروتو
ور سره ومنله او د دوی په مرسته یې په نیازو حمله وکړه ، خو
آخر سوله وشوه ، خو مروتو د نیازو ډېره برخه ځمکه لاندې کړه.

د نیازو په قبیله کښې میچن خېل ستانه خلک دي، مروتو هم په
دوی څه غرض ونه کړو او تر اوسه دوی په ټټې میچن خېل پراته-
دي.

ویلی شي چې دا واقعه او په دې علاقه د مروتو قبضه د اکبر مُغلي
بادشاه (چې د همایون زوی او د بابر نمسی ؤ) په وخت کښې شوې
ده او د واقعاتو نه داسې څرګند لګېدی شي چې لږ و ډېر مروت به
په دې علاقه له (۳۶۰) کلونو نه راپدې خوا په دې ځمکه آباد وي.
ځکه چې د اکبر باچا د حکومت په ابتدا کښې لا نیازي دلته آباد ؤ.
د مروتو دا علاقه په څلورو برخو وېشلې شوې ده: د سلاریو برخه
د نوناخېلو یوه برخه ، د موسی خېلو یوه برخه او د درې پلارو
یوه برخه.

او اوس د دې خلکو په دغه علاقه استوګنه داسې ده چې د لمرلویېدو
خواته ټپې موسی خېل او نوناخېل ، په منځنۍ برخه یې بهرام خېل او په
نمرخاته خوا یې درې پلاري او سیږي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خواره واره پښتانه چې له مروتو سره اوسیږي دا دي:

## ۱: ملاخېل:(۱)

دا خلک د ملا عثمان اولاده ده او ستانه خلک او پښتانه دي، او دلودیانو د لواڼو د کورنۍ نه دي، د وی له مروتو سره په کلیو کښې ګډ وړ اوسیږي. دا مثل اوس هم هلته مشهور دی چې: «الحمدالله خوهر ځوک واړئ خوخوله د ملا عثمان غواړي»، دا خلک له مروتو سره داسې خلط شوي دي چې بېلول يې اسان کار نه دی.

## ۲- ممریزخیل:

دا ټپه د مروتو په قام ورګډ یږي او د بهرام خېلو نه يې برخه اخیستې ده او په اوس کښې هم په مروتو حساب دي.

## ۳- ملک زي:

دا خلک په اصل کښې نیازي دي خو په موسئ خېلو مروتو کښې ورګډ شوي دي.(۲)

## ۴- دانی وال:

ځينې خلک د وی ختک کښې خو دا خبره معلومه نه ده، خو د دغه خلکو د مشرنیکه نامه ختک وه او دا خبره په غلطۍ سره مشهوره شوې

---

(۱) ویلی شي چې ملاخېل بیټني دي، خو نه د شجرونه د وی لواڼي لودیان دي.

(۲) ځینې ملک زي د ننګرهار ولایت د کونړ کنړ دا ولسوالۍ په قلعتک کښې هم آباد دي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دوی ختټک دي ، نه داخلک د مروتو د وتمانخېلو په ذیله پورې
منبلي او مروت دي .

## ۵- منګوخېل :

ځینې خلک دوی نیازي کښي ، خو نه دوی د مروتو د موسیٰ خېلو په
څانګه کښې د بایزی سره ورګډ شوي دي .

## ۶- خان خېل :

په دولت خوازي کښې ورګډ شوي او د بهرام خېلو یوه پښه ده .

# د مروتو په علاقه کښی

# نورقامونه

## ۱- د شیخ شاه روحانی اولاد :

ویلې شي چې دوی سیدان دي او په اولس کښې پیرخانه-
ګڼلی شي ، او اکثر کرکیله کوي .

د شیخ محمد شاه روحاني قبر د نر رملي د ممورزو په لمرخاته د
غره په سیمایي کښې دی .

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ـ میچن خیل :

په افغانستان کښې کډ و ډ پراته دي ، خو ډېر یې د زابل په ولایت کښې اوسیږي .

د بنو په علاقه کښې هم ، ځینې میچن خیل د کرم د سیند په قطب په یو ځای کښې چې په ټټي میچن خیل یادیږي اوسیږي .

## ۳ـ عیسیٰ خیل :

د عیسیٰ خیل اته څانګې دي : ابو خیل ، خواجه خیل ، ماما خیل ، محمد زي زکو خیل ، میرا خیل ، داور شاه خیل ، احمد خیل دي .

په دغو کښې د درې ورونو اولاد پاتې دی او دا سې معلومیږي چې د نورو ورونو زامن یې د سلیم شاه په جنګونو کښې مړه دي .

## ۴ـ مشوانی :

دا ټپه پښتانه او نیازي دي او په غلطۍ ځینې خلک د وی سیدان بولي . د دوی د مشرنیکه نامه شجره لیکونکو مرحشیانی لیکلې ده ، چې اصلاً مشوانی دي . په اوله کښې دوی د سارنګ له اولاد سره دا باسیند په لمرخاته پراته وو او د دوی یو ښاخ د داؤد خیل د داؤد خیلو سره پراته کډ او سېدل . او بل ښاخ موندي خیل یې په میانوالی ( ټټي ) کښې استوګن وو .

مشواني : د مروتو او عیسیٰ خیلو په د بنمنۍ کښې د مروتو ملګری وو ، دا طائفه اوس په ښادي خیل او دادي خیل سره

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وېش کښې راغلې ده ۱۰ او څه مشواڼي دګڼو په اسمار او نور افغانستان کښې هم شته دي چې د بربرول ملک سید خان پکښې مشهور سړی ؤ ۱.

سلطان خېل، دا هم د نیازو د سارنګ خېلو یوه څانګه ده په اوله کښې میانواله کښې آباد وو، او وروسته یې دکورنیو جنګونو له امله دغه ځمکې پرېښودې، د عیسی خېلو په صلاح د ختکو د غرة په خواکښې استوګن شول.

د لودیانو د اولادې څه لنډشان حال ولیکلی شو. په اوسني افغانستان کښې داخلک خال خال چېرته پراته دي او هلته په ډېر شمار کښې نشته دی، د وی او سوړیان د لودي سلطنت په وخت کښې اکثره هند ته تللي او هم هلته آباد شوي دي.

په هند کښې یو نوی ښار "لودیانه" هُم دې خلکو ودان کړی دی. د وی له ډېر پخوانه اولسي او اجتماعي تشکیلات لري او د قومیو مشربه د ستر ملک په نوم تاکل کېدهٔ او د هغه احکام به تام منل او د هغه دلاس لاندې نورو وړو ملکانو به د هغه حکمونه په تام کښې تطبیقول.

دې خلکو پخوانو حکومتونو ته مالیه نه ورکوله خو د اورنګ زیب د زوی بهادرشاه په زمانه کښې د هغه حکومت څه پیسې ترې د مال-شمارۍ په نامه اخیستې وې او احمدشاه ابدالي هم ترې یو څواوښان

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مال شمارۍ په نوم اخيستل .

## ۵- سروانړي :

دا منلې خبره ده چې سروانړي د شاه حُسين غوري د بلې ښځې (مهي) نه چې د بي بي متو بڼ وه ، زوی دی ويلی شي چې د سلطان شهاب الدين غوري په زمانه کښې دا خلک د سليمان غره په لمنو- کښې دراېږ او هيود هوان په حُمکو پراته وو .

د سروانړي اولس خاني او مشري د سری يپال په څانګه کښې د شيخ مليح قتال په کورنه کښې وه ، دا هم ويلی شي چې دا اوسنی رابې هم شيخ قتال ودان کړی دی . دا خلک د همايون په وخت کښې د خپلې بې اتفاقی په وجه ډېر کمزوري شول او د دغې علاقې نه په وتلو مجبور شول او د يو ناموس دارۍ په مسئله د دوی او سوريانو ترمنځ د ښمني راغله او په دغه وجه د واړه طائفې ډېرې کمزورې شوې او څه موده پس بختيار و پرې حمله وکړه او دوی يې در په ديکه کړل ، ځينې پېښور ته لاړل او څوک پنجاب ته ووتل او بختيارو او مياخېلو د دوی علاقه لاندې کړه .

د ماليراوکوټلې نوابان د سروانړي په قبيله د سريپال په څانګه کښې وه ، د دغه رياست باني شيخ صدرالدّين صدرجهان ؤ چې د شيخ مليح قتال[1] په څانګه کښې راځي .

---

(۱) د شيخ مليح قتال حوړ دوی دانا د مومند بابا ښځه وه .

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهلول لودي چې د ډيلي فتح کولو د پاره ورتللو ، نو له ده سره يې ملاقات کړی ؤ او دُعا يې ورنه اخيستې وه. نو کامياب شو، او بيا وروسته يې ورته حڼپله لورهـو ورکړه، او د دوی د رياست بُنياد کېښودی شو.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




## پنځمه طبقه:

# «کرلاڼي قبائل»

## دله زاک، اورکزي، منګل او نور

### «کرلاڼي»





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمدی خیل بن دولت زی بن ورکزی بن کودی بن کرلاڼي

### «محمدی خیل»





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




## لودي خېل بن دله زاك بن كودى بن كرلاني

«لودي خېل»




## يعقوب خېل بن دله زاك بن كودى بن كرلاني

« يعقوب خېل»




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



### «اسمٰعیل بن ورکزي»

- رابیاخېل
- ممازي
- اباخېل

### «لشکرزي بن ورکزي»

- علي شېرزي
- ماموزي
- پاړي

اودمنکل بن کودی د دویمې ښځې نه

### «منکل»

- موسی خېل
  - حسن خېل
  - خرڅوړي
  - هیبي
  - مرکي
  - کمال خېل
- جاني خېل

کرلاني قبیله: وړدک بن کودی

### «وړدک»

- مهیار
- میرخېل
- نوري

نوټ: په ځینو کتابونو کښې د وړدک نور خېلونه هم شته دی. «سیال»


Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




## کرلانی قبائل:

# ب: "اپریدي"




Kitaboona.BlogSpot.Com


# اولاخیل بن ماپی بن عثمان یا اپریدی




(۱) ځینې وائي چې ادم خیل د اولازوی نه د ماپي زوی دا فریدي نسي کیږي. (ستیال)

## میراحمد خېل بن اولاخېل بن عثمان یا اپریدی


### «میراحمد خېل»




نوټ: د پاڼي اولادي ذکر وشو، د هغه دوړ وړ ځلني اولاد لږ دي او په بنګښو کي استوګن دي.

## کرلاني قبائل:

## ج ـ «ځدران» زدران،




(c) ketabton.com: The Digital Library



## زني خيل بن بيله خيل بن خدران

«زني خيل»





Kitaboona.BlogSpot.Com

# کرلانړي قبائل

## د ،،خټک،،

لقمان یعنی خټک بن برهان نه

،، خټک ،،





(c) ketabton.com: The Digital Library
Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




## یسین خېل بن میری خېل بن برکویټ بن تری بن ... بن لقمان خټک




Kitaboona.BlogSpot.Com

## انوخېل بن برکویټ بن تری بن تورمان بن لقمان خټک


### «انوخېل»




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library







Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرلاني قبائل:

## "خټک - بولاق"





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ساغری بن بولاق بن لقمان ( ختک )





Kitaboona.BlogSpot.Com

## تپی بن ابی خیل بن بنگی خیل بن ساغری بن برلاق

### «تپی»




## ککی بن تورمان بن لقمان بن برهان




(c) ketabton.com: The Digital Library
Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرلانې قبایل:

## «اتمان خیل»

«اتمان بن برهان، اتمانخیل بن ککی -
بن کرلان





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




## اسمعیل خیل بن بهمری بن اتمان خیل

«اسمعیل خیل»




## دعوت خیل بن بهمری بن اتمان خیل

«دعوت خیل»





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




## عمیاره خېل بن د عوت خېل بن بهمري بن اتمانخېل

### «عمیاره خېل»




## مهترخېل بن د عوت خېل بن . . . بن اتمانخېل

### «مهترخېل»





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برصی خېل بن د عوت خېل بن ... بن اتمانخېل

«برصی خېل»





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرلاڼي قبائل:

## د «خوګیاني»




نوټ: وزیر خوګیاني نه دي دلالي وزیر اولاده زرغلی له خوګیانو سره اړولي دي.


Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرلانې قبائل

## ۱- وزیر، مسعود




،۱، ځنې خلک وائي چې د سلیمان نه وزیر او ملک میر دی ، او د وزیر نه خدری او لالی دی او د ملک میر نه بنګښ دی ص۲۷۴ د کېرو کتاب پټهان ، محبوب علی شاه ترجمه ،۰

،۲، لالی د خدری ورور د وزیر زوی د خپله ورور نه خفه شوی او تللی د سپین غره په شمال کښې یې د خوګیانو سره اړولی او خوګیانی ګڼلی شي . " سیال "


Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## موسیٰ درویش بن خدری بن وزیر

«موسیٰ درویش»




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمّدخېل بن حسن خېل بن محمودخېل بن ... بن وزیر

«محمدخېل»

- مهترخېل
- ترکلی خېل
- درې پلارې

بلال خېل بن حسن خېل بن محمودخېل بن ... وزیر

«بلال خېل»

- نورخېل
- درنامی
  - پهارخېل
  - چلاک خېل
  - شېرخېل
  - شمل خېل
- شادی خېل
  - اسمعیل
  - درمل خېل

دمندی خېل بن درزی خېل بن محمودخېل نه

- کوکی
- بخشی خېل

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د دردانی بن د رزي نه

- پیرسری
- هیبت خېل
- مداخېل
  - مجرخېل
  - زرګرخېل
  - شیده خېل
  - برهخانی
  - سرمست خېل
  - جمال خېل
  - همریزخېل
- توری

### د «درسلی» بن د رزي نه

- خلپ خېل
- موچي خېل
- دلګ خېل
- قربان خېل
- عیسی خېل
- اوزي خېل

### د «موسکی» بن د رزي نه

- تترخېل
- باری خېل
- اول خېل
- سنجرخېل
- درپي خېل

### او د «اسدخېل بن د رزي نه

- پیرخان خېل
- مرزاخېل
  - ناناخېل
  - اوساخېل
  - تولاخېل
  - دورخېل
- دري پلاري

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بارکځ خېل بن محمود خېل بن اتمانزي نه

"بارکځ خېل"


- بلي خېل
  - عزيز خېل
  - هدا خېل
  - سهل خېل
  - شېرخان خېل
- عبد الخېل
  - موچي خېل
    - خواجه خېل
    - خرمن خېل
    - تول خېل
  - شيخ زي خېل
  - سکندر خېل
    - ريشمين خېل
    - بنګي زي
  - مچي خېل
    - سرمست خېل
    - حکيم خېل
    - جنګي خېل
  - تول خېل

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




## براهیم بن اتمانزي





Kitaboona.BlogSpot.Com

## د «مده خېل» بن اتمانزي نه




## د توری خبل بن براهیم خېل بن وتمانزی نه

«توری خېل»




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دخوشحال بن تورۍ خېل نه

- شېخاخېل
- علي‌خاني

## د تاخېل بن توري نه

- جمالي
- عثمان خېل

## د مل‌خېل بن توری نه

- هبشي‌خېل
  - رخړخېل
  - رسول‌خېل
  - مدی‌خېل
- سوکی
  - پېله‌خېل
  - سارخېل
  - علي‌خېل
  - اودی خېل

## د بوبلي‌خېل بن توري نه


- سخي‌خېل
- سلیمي خېل

Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



## شامیری بن توری نه




## د ولی خیل بن وتمانزي نه





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د "باقي خېل" یا بکاخېل بن ولي خېل بن وتمانزي نه





Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



لختی خېل بن باقی خېل بن ولی خېل بن وتمانزي




برمی خېل بن باقي خېل بن ولی خېل بن وتمانزي





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جانی خیل بن ولی خیل بن وتمانزي نه

«جانی خیل»





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وزیر، احمدزی

## (احمدزی)




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرکي خېل بن سین خېل بن احمدزي .

« سرکي خېل »

- توله خېل
- بوله خېل
  - ناناخېل
  - الله داد خېل
  - مرید
  - ولید

موسوخېل بن کمیل خېل بن هاتي خېل بن سین خېل بن احمدزي

« موسوخېل »

- توری خېل
- براهیم خېل
- جان بیګ خېل
- علي خېل

پربا دخېل بن کمیل خېل بن هاتي خېل بن سین خېل بن احمدزي

« پربادخېل »

- ګنداوی
  - میاګل خېل
  - غلپ خېل
  - وطن خېل
  - سنجر خېل
- طاؤس خېل
  - معروف خېل
  - الله خېل


Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کالوخېل بن احمدزي

## "کالوخېل"





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کرلاڼي: مسعود بن محمود بن خدري بن وزیر- بن سلیمان بن کرلاڼ





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شمن خېل بن علي زي بن مسعود




Kitaboona.BlogSpot.Com

## علی خېل بن شمن خېل بن علي زی بن مسعود

### «علی خېل»

- سلیمکی
  - شمس خېل
  - اکا خېل
- ملیا خېل
  - لنډی خېل
  - کمیل خېل
- بدي زي
  - دوستک خېل
  - بهادر خېل
- شېرګل خېل

## بهلول زي بن مسعود بن محمود بن خدر زي بن وزیر

### «بهلول زي»


- میمل خېل
  - «د شجره یې په وروسته مخ کښې وګورئ»
- باند خېل
  - یکم خېل
  - طوطیه خېل
- نونو خېل
  - «د شجره یې وروسته راځي»
- شکي خېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ممیل خېل بن بهلول زي

## «میمل خېل»





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ملکشي خېل بن میمل خېل بن بهلول زي

## «ملکشي خېل»




## نونوخېل بن بهلول زي

## «نونوخېل»





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نونو بن بهلول زي له لومړۍ بنځې نه





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شنکی بن بهلول زی بن مسعود





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرلاڼي قبائل؛

## ح- شیتک (دوړ)




نوټ : تریزي تني دي ، خورشید جهان ۲۶۲ مخ .


Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مولي بن دوړ بن شيتک نه

«مولی»





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library




## د ابراهیم بن د وړبن شیتک نه




## «شیتک» کرلاڼي

### «کیوی بن شیتک»




نوټ : اولاده يې په وروسته مخ کښي وګورئ .

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱) د میری بن شیتک د لومړۍ ښځې اولاده

«میری»

- نصرالدین
  - سرکی خیل
  - براهیم خیل
- پتني
- مندیو
  - غازی خیل
  - نصرالدین خیل
  - خوجک خیل

## (۲) د میری بن کیوی بن شیتک د دویمې ښځې اولاده

«ممه خیل»


- زرګر خیل
  - بورا خیل
  - موسی خیل
  - سیب خیل
- غزني خیل
  - فتح خیل
  - اله خیل
  - لیوان

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳، د میری بن کیوی بن شیتک د دریمی ښځی اولاده





Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) د میری بن کیوی د څلورمي نه




«سمی بن شیتک»




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بازی خیل بن منداڼ بن سمی بن شیتک

"بازی خیل"

- بامست خیل

## فتح بن منداڼ بن سمی بن شیتک

"فتح"

- عنایت خیل
- خوبی خیل
- افضل خیل

## میتا خیل بن منداڼ بن سمی بن شیتک

"میتا خیل"

- شمداد خیل
- میا داد خیل
- قاسم خیل
- ملک دین خیل
- کینگر
- حیدر خیل

## چیت بن منداڼ بن سمی بن شیتک


"چیت"

- سکندر خیل
- کنشی خیل
- لیدی


Kitaboona.BlogSpot.Com

## باديو بن منداړ بن سمی بن شيتک


«باديو»




د سناوړ بن سمی له لومړۍ ښځې اینخل نه




د سناوړ بن سمی له دويمې ښځې نه





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library


(c) ketabton.com: The Digital Library




## د عیسکي د لومړۍ ښځې نه




## د عیسکي د دویمې ښځې نه





## د تپې سمي نه




Kitaboona.BlogSpot.Com

## «سوریانی بن شیتک»





Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library


## مسعودخیل بن موسکی بن پک بن سوریانی

«مسعودخیل»




## ملیری بن موسکی بن پک بن سوریانی

«ملیزی»





Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



## د غورزي بن سوړيانی نه




## د هیبک بن سوړيانی نه




Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



# کرلاني قبائل:

## ط- اسمعیل معروف په بنګښ

### «بنګښ»





Kitaboona.BlogSpot.Com


(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امیر بن ګار بن بنګښ نه




## او د «سمل» بن بنګښ نه




Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکرلاڼي قبائیلو شجرې ولیکل شوې ، په کرلاڼي طبقه کښې مشهورې دي قبیلې دا دي :

۱ : دله زاك ۲ : اورکزی ۳ : خوګیاڼي ۴ : اپریدي ۵ : خټک ۶ : وزیر ۷ : مسعود ۸ : شیتك ۹ : بنوڅي ۹ : دوړ ۱۰ ځدران ، ۱۱ : توري ۱۲ : بنګښ ۱۳ : ځاځي ۱۴ : استمان خېل .

موږ دلته د هرې قبیلې لنډ شان حال لیکو :

## ۱ : دله زاك :

دله زاك د وه طائفې دي ؛ لودي خېل او یعقوب خېل دا دواړه څانګې هم پخپلو منځو کښې په وړه ، وړه ذیلو وېشل شوي دي ، لکه چې مخکښې د شجرو په جدول کښې راغلي دي .

ویل کیږي چې دله زاك لومړني پښتانه دي چې د وی پېښور ته راغلي دي او د پېښور په علاقه د اباسیند تر غاړې استوګن وو . ویلی شي چې د وی د دې علاقې ته د هندو شاهانو[۱] په زمانه کښې - راغلي او قبضه یې کړې وه ، د سلطان محمود غزنوي سره په هند د حملو په وخت کښې د هغه په فوځ او لښکر کښې هم د وی ګډون کړی دی ، د میرزا الغ بیك د کابل مغلی حاکم په وخت کښې غالباً د ۱۵۰۰ ع کال خوا و شا د له زاك په پېښور کښې ښه د اقتدار -

---

۱، هندو شاهان د کوشانیانو بقایا دي . رستیال ،

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوندان وو، خو هر کله چې الغ بېګ د لاسه خانبي خېل را په کډه شواو په مهاجرت پېښور ته راغلل نو د خانبي خېلو او دله زاکو - جنګ جګړې سره پېښې شوې او دله زاك پکښې زیانمن شول. د بابر مُغلی بادشاه په وخت کښې هم یعنې د ۱۵۱۹ع شاوخوا لا هم داخلك ، دله زاك، بنه زورور وو او د بابر بادشاه سره د هند په حملو کښې مرستیال ؤ او داسې معلومیږي چې له بابر سره یې تعلقات - بنه وو.

دله زاك بنه سوچه پښتانه دي، د دوی متعلق ځینې نورې خبرې بېخې غلطې دي، نورو خلکو د هر کار کړی چې د پښتنونه حېل هله ونه بېل کړي، خو «اوبه په ډانګ نه بېلیږي». د دله زاکو د پښتونوالی ثبوت د بابر مُغلی بادشاه له خپلو لیکنو، نه لا بنه - کیږي او اکثریت او اهمیت یې هم منلی شوی دی.

بابر داخلك هم د نورو پښتنو غوندې د «افاغنه» په نوم یاد کړي دي.

داخلك اوس دومره ډېر نه دي، د پېښور په علاقه کښې یې هم یو کلی شته دی او څه خلك یې د هزارې په ضلع کښې هم اوسیږي، خو د نورو کرلانیو نه بېل دي او په ژبه، جامه ، لباس، او خوی بوی کښې هم ترې بېل بنکاري.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲: اورکزي:

دا قبیله د سپین غره په نمرخاته لوري د تیرا په سویلي کځیو-
کښې مېشته ده. د کوهاټ په ضلعه او پېښور کښې هم د اورکزو ځینې
خلک استوګن شته دی. ویلی شي چې د بنګښو نه ځکښې اورکزي
په ... ... فه پراته وو او د بنګښو سره یې بدی تېرې شوي دي،
او حرچې د واړه خوا په جنګونو ستړي شول، نو د رسمند په مقام
یې یوه د روغې جرګه جوړه کړه او «دائي» نومی یو دم ر نائي،
د دوی تر منځه روغه وکړه. د «دائي» نائي دا فیصله ډېره
ساده او لنډه وه، خو ښه جامع وه.

دائي وویل: غر د ورکزو او سمه د بنګښو شوه، په همدغه
فیصله عمل وشو او تر اوسه دغه ویش شته دی. د اورکزو
په ټولو ځانګو کښې دولت زی او مسوزي په شماره کښې ډېر دی او
بیا د دولت خېلو کښې مموخېل ډېر دي، په دوی کښې د محمد خېلو
نه پرته نور اورکزي سُنی مذهبي دي. محمدخېل شعیه مذهبي
شوي دي. دا خلک هم په کار او سمل ګوند ونو په ګنډو سره وېشل
شوي دي. په رسو، رواج او عادتونو کښې د اپریدو په شان دي
او ځه توپیر یې نشته دی.

## ۳: منګل:

ویلی شي چې دا خلک د نن نه شپږ سوه کاله پخوا د بنو په علاقه

Kitaboona.BlogSpot.Com

پړاته وو خو د شیتکو د غلبې له کبله د وی د دې علاقې نه په کډه، شول او د خوست خوا و شا ته ورغلل او هلته استوګن شول. خدران د دوی په سویل پراته دي. د منګلو او خدرانو تاریخ یو دی.

## ۴: هني:

د پښتنو د ځینو مؤرخینو لکه د «حیات افغاني» په حیال، هني د منګل وروربولي او د کرلاڼي قبایل یوه څانګه ده، خو د خورشید جهان مؤلف شیر محمد ګنداپور وایي چې هغه «هني» چې د منګل ورور ؤ د هغه اولاده اوس نشته او وایي چې د منګلو او شیتکو چې څه وخت بدي وه، نو هني خلک په بدی کښې ډیر مړه دي او لږ څه چې پاتې وو، هغوی هند ته په کډه تللي دي او ځینې هني چې مشهوره یې د زوځت یا ز ویښت - څانګه د بنګښو او ورکزو سره په ګډه کښې د سپین غره په نمر خاته لوري په غره نو کښې آباد دي. دا خلک پخپل منځ کښې په دوو څانګو سره سل دي... او کلک خلک دي او ځینې هني د منګلو سره هم شته دي ... ذکر ئې کار ...

د قبایلي مروجبر په لړ کښې ... د «سمل» په ګوند کښې دي.

## ۵: وردک:

دا خلک هم کرلاڼي دي. په غلطۍ ځینې خلک د وی سیدان ګڼي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره په زړونو سیدان په پښتنوکښې چیرته هم نشته ، د سیدانو یوه نیمه کډه چې چېرته په یو کلي کښې وي ، نوبنه معلومداره وي، په وردکو کښې چې په کوم کلي کښې سیدان دي هغه هم معلوم دي، او خلک یې احترام کوي. ټول وردک نه سیدان دي او نه وو. (خورشید جهان چې څه لیکلي دي ، هغه محض افسانه ده).

د دې خلکو قبلیزه پوله د هزاره جات سره لګېدلې او نوړ ودرې وا ړو خوا وته یې غلجي پراته دي. د دوی علاقه یوه اوږده کټه ده او په قبله نمرخاته یې غرونه دي. دا علاقه د غزني رودته اوبه کیږي. تنګی ، شیخ آباد ، سیدآباد ، خوات ، سه آب ، جغتو، تکیه او چک[۱] یې مشهور کلي دي. د دوی علاقه بنه او آباده ده.

د مني فصل یې لږ وي ، وریجې هم پکښې کیږي چې غنمې وریجې یې ډېرې مشهورې دي. بنه کلک او ډېر زړورخلک یې دي ، ډېر نومیالي خلک پکښې تېرشوي لکه : محمدجان خان غازي دافغانانو او انګرېزانو د دوهم جنګ نومیالی فاتح غازي چې بیا وروسته امیر عبدالرحمن شهید کړو.

په وردکوکښې ، میرخېل ، په شماره کښې ډېر دي اوبیا وروستې د « مهیارو » قبیله ده او بیا « نوړزي » یا « نوري » څانګه ده. -

---

(۱) په چک کښې د برېښنا یوه فابریکه هم شته دی.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړدک ځینې خلک په چچ (چچ هزاره) هم پراته دي او څه د کنړ په اسمار کښې هم شته دی .

«مهیار» ، «میرخیل» او «نوري» پکښې مشهور خیلونه دي .

## ۶: اپریدی :

ویلی شي او لکه څنګه چې شجرو کښې راغلي د اپرید و د مشرینکه نوم عثمان وُ چې د څه واقعې په وجه په اپریدي مشهور شو ، د څخه د وُه زامن وو ، «ماپی» او «زلنی» . د زلنی اولاد لږ ؤ او په بنګښو کښې استوګن دی . د «ماپی» درې ښځې وې ، یوه یې «ترینه» بله «زرینه» او دریمه یې فاطمه نومیدله ، چې د اولادې تفصیل یې د مخه په شجره کښې لیکلی شوی دی .

په اوسني وخت کښې د اپریدو اته (۸) څانګې مشهورې دي :

۱ : ملک دین خیل     ۲ : قمبرخیل

۳ : کوکی خیل     ۴ : زخه خیل

۵ : اکاخیل     ۶ : سپاهي

۷ : کمرخیل     ۸ : آدم خیل

دا خلک په خیبر دره ، اخور دره . کراپ او تیرا کښې پراته دي . نمرختاته پوله یې د ختکو سره لګیدلې ده . سویل ته یې اورکزي او بنګښ پراته دي او د سپین غره څمکني هم دي په قبله قطب سیمې -

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شینواري دي او په قطب پې مومند دي او د هغوی علاقه پېښور دی ، دکچه ګړۍ نه واخله تر ننګرهاره قبله په سویل غرونو باندې د دوی قبضه ده ، د تیرا اکثره علاقه هم د دوی په قبضه کښې ده خو د باغ برخه یې د غرونو په مینځ کښې واقع ده ، دا علاقه د میدان په نامه یادیږي او د بنې آب وهوا له کبله ډیر شهرت لري او د - اپریدو مرکزی د ټولنې ځای دی .ځینې دا وائي چې داخلک دې علاقې ته په څوارلسمه عیسوی پیړۍ کښې راغلي دي ،خو یوناني مؤرخ «هیرو-ډوټس د پښتیځا ( پښتونخوا ) د کوموځلورو قامونو یادچې کوي ، په هغوی کښې یوه قبیله د « اپي ریتی » هم یادوي او دالفظ دفقه اللغه په اساس د اپریدي سره سمون خوري ، نو داسې ښکاري چې دا خلک له ډیر پخوانه دلته پراته وو ، سکندراعظم چې د هند د حملې له پاره څه فوځ د خیبر په لاره رالیږلی ؤ ، د هغه فوځ سره هم داخلک جنګیدلي وو .

د خیبر درې په اوسېدونکو قومونو کښې اپریدي ښه زړه ور او توریالي خلک دي . د خیبر دره د پخوانه د افغانستان او پاکستان ترمنځه یوه مشهوره لار ده . دخیبر دره د جمرود نه د لنډی خانې پورې ( ۳۳ ) میله اوږده غځېدلې ده ، په دې دره کښې د رېلوی لین په ( ۱۹۲۵ )ع کښې تېر شوی دی او پوره شوی دی ، چې د انجینیری یوه لویه کارنامه ګڼلی شي .

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجمرود نه ترطورخم پورې دلارو موټرو یو ښه پوخ سړک هم شته دی او ځای په دې دره کښې حفاظتي څوکه هم جوړې دي او ځنې پوځي قلاګانې هم شته دی. دا تاو راتاو سړک دجمرود نه شاګه قلا او بیا علي مسجد ته رسي. دا ځای دسمندر نه درې زره (۳۰۰۰) فټه اوچتوالی لري، د علي مسجد نه ځکښې سړک په یوه کڅې کښې تېرشوی دی او هلته د زخه خېلو کلي او قلاګانې پرتې دي دا سړک دلنډي خانې سره یوې تاڼې ته ور پرېوځي.

دخیبر دره د تاریخ په هر دور کښې اهمه وه او ده نوځکه یې او سېدونکي هم اهمیت لري. په دې دره کښې اپریدي، شینواري شلماڼي رچي مومند دي، پراته دي. خو په ټولو کښې اپریدي زور ور دي.

د تیرا د باغ جومات د اپریدو د سیاسي او مذهبي غونډو مرکز دی. د اپریدو په خیال دغه ځای ډېر مُهم دی. د خیبر درې خواوشا ډېر پخواني اثار موندلی شوي دي او له دې نه دا معلومیږي چې پخوا دا دره ښه ودانه وه او تاریخي اثار یې زیات د بدهـ د عهد ګڼلی شي. د خیبر درې او سیدونکي خلك له پخوانه زور ور وواو دي.

د انګرېزانو او اپریدو ترمنځه جنګ جګړې هم پېښې شوي دي، خو اپریدو خلکو د انګرېزانو اقتدار نه دی منلی. د اپرید و خلك په خپلو خپلو علاقو کښې په دې ډول پراته دي:

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱: کوکي خېل:

د راج ګل په دره او څه برخه يې په بازار کښې هم شته او نور د جمرود او بالاچينې نه ان تر علی مسجده پورې استوګن دي .

## ۲: ملک دين خېل:

په ميدان چوره او په کجوری پراته دي او زياته آبادي په ميدان کښې استوګن دي .

قمبرخېل ، په کاسودره او شنلونالی په غاړه ډېر اوسيږي. قمبرخېل هم په ژمي کښې کجوری ته راکوزيږي .

زخه خېل ، د خېل جغرافيائي موقعيت له کبله ډېر اهميت خاوندان دي . کابل ته د پېښور نه بله تللې لار د زخه خېلو په علاقه ورغلې ده .

داخلک بنه جنګيالی هم دي ، قمري د باړې نه په قبله پراته دي . - همدغسې سه پائي هم په بازار کښې استوګن دي او په ژمي کښې کجوری ته هم راکوزيږي په کجوری او د عالم ګودر په مقام د وسلوجوړولو ورې کارخانې هم لري او هر ډول وسلې جوړوي .

## ۱ کاخېل:

د ناړې په سويل نمرخاته علاقه آباد دي . او د آدم خېلو ډېره ودانې د کواټ نه په قطب دره کښې پرته ده ، د خيبر درې سره د آدم خېلو څه تعلق نشته خو يو د وه قبيلې يې کالاخېل او ژواکي د خيبر ايجنسی

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سیاسي چارو کښې ګډون کوي.

د آدم خېلو برید په نمرخاته له خټکو سره لګېدلې دی، د اپریدو څه خلک په دکن کښې هم شته دی او څه په پاڼي پټ او څه په کشمیر کښې هم آباد دي. او د وزیرستان په کاني ګرام کښې یې هم څه خلک شته دی.

## ۷: کرلاڼي قبایل، خټک:

ویلی شي چې د خټکو د مشر نیکه نوم لقمان ؤ، چې د عثمان او اتمان ورور او د برهان زوی، دککي نمسی او د کرلاڼ کړوسی ؤ، لقمان هم په څه واقعه په خټک مشهور شوی دی.

د لقمان یا خټک د وه زامن وو: ۱: تورمان ۲: بولاق. د تورمان هم د وه زامن: ۱: تری ۲: لکی ؤ او د پلار په اولاده کښې تري نومیالی وو او د تورمان تولـه اولاده د ده په نامه نومورې شوې ده. د تری هم د وه زامن وو، ۱: برکویت ۲: امیر یا امند. د دوی د اولا دې تفصیل د مخه په شجره کښې لیکلی شوی دی.

ویلی شي چې پخوا خټک په کوه شوال چې د سلیمان غره د قبلیزې سلسلې په لړ کښې واقع دی، پراته وو، چې اوس په دغه ځای کښې وزیر خلک پراته دی.

لږ و ډېر او وه سوه (۷۰۰) کاله پخوا د منګلو په ملکرتیا د چنلي پخوانۍ مېنې نه راپاڅېدلي او د «بنو» علاقې ته راغلي و واو په

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عف، خمکه یې واړول چې تر ورځ پورې احمد زي وزیر پراته دي، خټه مو . . . پس د شیټکو او منګلو په منځ کښې بدي پیښه شوه او منګل په کړه کولو مجبور شول، خوخټک لا هلته پراته وو، آخر د خټکو او شیټکو هم خړه راغله او خټک تري په کلا شو. او په کربوغه، تیري، لاچي او شکردره یې ان دا باسیند ترغاړې پورې په حمکه یې واړول. په دغه وخت کښې دغه علاقه شاړه او ورانه وه. په هم دغه وخت کښې د ویسی نه تر کوهاټه پورې علاقه باندې اورکزي پراته وو، او کړې له پلوه به بنګښ هم د کوچیانو په ډول دغې علاقې ته تلل راتلل، خوځه موده پس د اورکزو او بنګښو بدي پیښه شوه، د خټکو او ورکزو په منځ کښې چې هم خړه وه، نو خټک او بنګښ سره یو شول او اورکزي یې ووهل او په نتیجه کښې ریسی، پنیاله، د زیړی نه تر تورځیر پورې ټوله علاقه یې را لاندې کړه او د خټکو او بنګښو ترمنځ د لاچه او ګدا خېلو غر برید شو.

د خټکو علاقې قطب ته یوسفزی، قبلې ته خلیل، اپریدي او بنګښ او سویل ته یې د بنون علاقه ده. د دوی علاقه به په اوږد والی تقریباً سل (۱۰۰) میله او په پلن والي به اندازاً پنځوس (۵۰) میله وي. د دوی په نمرخاته اباسیند بهیږي. د اباسیند نه پورې غاړه هم خټک شته دی ان تر باړې رسیدلي دي. «مکهډ» د خټکو مشهور ځای دی. خټک پخپلو منځو کښې پر دوو برخو ویشل شوي دي. یوه د قطبي حبکو برخه

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بله یې د سوېلي ختټکو برخه ده . د سوېلي ختټکو په علاقه کښې د مالګې کانونه دي ددې علاقې څمکه شګلنه او میداني ده ، غرونه یې هم غیرآباده دي. تېرۍ ، لاچي ، کرک ، شکردره اونور د دې علاقې مشهور کلي دي .

د قطبي ختټکو علاقه هم غرنیزه اوکانیزه ده اوغرونه یې هم بې بنې بې توبنې دي . اکوړی ، شیدو ، نظام پور امیراو امیرکلان د دوی د علاقې مشهور کلي دي .

## د ختټکو ریاست :

د ختټکو د ریاست او خانه باني ملک اکوړ ؤ ، چې د درویش محمد (مشهور په چنجو) زوی ؤ ، د مهاجرت نه پس د ختټکو په قبیله کښې د بټي خېلو څانګه په کربوغه پرته وه ، ملک اکو په ځه خبره د خپلو عزیزانو سره خفه شو اوخوړې ته راغی په دغه وخت کښې په خوړه کښې مندوړي لوانې استوګن وو ، نو ملک اکو په « ګراز دره » کښې استوګنه وکړه . ملک اکو د خان سره د ځوانانو یوه ډله جوړه کړه او په شاهي سرک به یې داړې کولې . په هغه زمانه کښې د کابل صوبه د میرزا حکیم مُغلي په لاس کښې وه . میرزا حکیم د بابر میرنی ورور ؤ . اکبر باد شاه د همایون زوی او د بابر نمسی د میرزا حکیم په تعاقب نیلاو ته راغی او داټک د قلاد تعمیراو ودانې اراده یې وکړه ، نو د شاهي سرک د ساتنې تابیا یې هم وکړه ، د علاقې سپین بږیري یې را وبلل اوددې

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرکښ د ساتلو یې ورته وویل، خو دوی په اتفاق د دې کار د پاره ملک اکو په ګوته کړو او بادشاه ته یې د ده نوم ورکړو، اکبر بادشاه هم ملک اکو ته دا کار وسپارلو او د دې خدمت په بدل کښې یې د خیرآباد نه نیولې تر نوښاره پورې او د پښونه نیولې تر موسیٰ درې پورې علاقه په جاګیر کښې ملک اکو ته ورکړه. څلوزي او سپین خاک هم د ده په جاګیر کښې راغلل، او د شاهي سرکښ د محصول د حصولی حق هم ورکړی شو.

ملک اکو هم ښه هوښیار او مدبر سړی ؤ، هغه د شاهي سرکښ د ساتنې په غرض خپل سړي مقرر کړل او د لنډي سیند په سویلي غاړه یې مصري باندې ته څامخ یو کلی هم ودان کړو چې تر اوسه پورې هم د ده په نوم «سرای اکوړه» مشهور دی، او هغه وخت به ورته خلکو ملک پور هم ویلو.

ملک اکو آمد د بولاقو سره په جنګ کښې د پیر سباق په مقام وو ژلی شو.

د ملک اکو اته (۸) زامن وو:

(۱) یحیی خان (مور یې میري خېله وه او نوم یې تارو که ؤ)
(۲) نظام خان (مور یې بولاقه وه، نوم یې ننداکه ؤ). (۳) یوسف خان (مور یې غوریه خېله وه او دردانه نوم یې ؤ). (۴) تاتارخان (۵) خضرخان (٦) عبدالغفور ... ... ی واره له یوې مور نه وو.) (۷) طاؤس خان

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مور يې څينې وه، او بابې نوم ؤ.)(۸): مصري خان (مور يې خلوزۍ وه.)

د ملارنه پس يحيئ خان دختکو د رياست واکدار شو. د يحيئ خان په وخت کښې د ختکو او يوسفزو بدې پيښه شوه او د جنګونو لړۍ ونښته.

د يحيئ خان يو ولس (۱۱) زامن وو. شهباز خان، بهادر خان، عثمان خان، شريف خان، جلال خان، محمد خان، بنادي خان، حکيم خان، عبدالله خان، آدم خان او فيروز خان.

د ملار له مرګه پس شهباز خان د ختکو رئيس شو، شهباز خان په ۱۰۰۰ هجري کال زيږېدلی ؤ، د زيږېدو کال او تاريخ يې د پښتو ژبې نوميالي شاعر او ليکوال خوشحال خان ختک دا سې ليکلی دی:

شهباز خان د يحيئ ښکلی فرزند
وه په جنګ کښې د رستم هسې ځرکند
چې تاريخ د زيږېدو يې د ده وغوښت
عقل وی چې شهباز خان اجل بلند (۱۰۰۰ه کال)

* * *

د شهباز خان په وخت کښې د ختکو او يوسفزو بدي نوره هم ډېره شوه، نوموړی له يوسفزو سره په يو جنګ کښې سخت ژوبل شو او په کال $\frac{١٠٥٠ه}{١٦٤٠ع}$ کښې وفات شو او په ځای يې د هغه مشر زوی خوشحال خان کښېناست. خوشحال خان ختک په $\frac{١٠٢٢ه}{١٦١٣ع}$

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال زیږیدلی او په ۱۶۸۹ع / ۱۱۰۰ه کال مړ دی.(۱)

خوشحال خان د (۲۸) کالو په عمر د ختکو د سردارۍ په کار وټاکلی شو او د شاه جهان له پلوه ورته پلرنی منصب او جاګیر د یو فرمان په ذریعه منظور شو، خو د شاه جهان د زوی او رنګ زیب مُغلی باد شاه په وخت د خوشحال خان د مُغلو سره و ... ن ... او تعلقات یې خراب شول. ... د دې ... تر ... تفصیل ... تاریخ مرصع" او ... پښتنانه د تاریخ په ... کښې ... شته دی.

خوشحال خان یخپل ژوند د ... مشري خپل مشر زوی اشرف خان(۲) ته وسپارله، خو هغه هم د مُغلو اعتماد او مرسته حاصله نه کړی شوه او په ۱۰۹۲ هجری کال سید بهولا شاه د پېښور مُغلی حاکم ونیولو او بندي یې هند ته واستولو او ببجاپور کښې قید شو چې هلته وفات شو.

د اشرف خان د نیولو نه پس په ختکو کښې کورنۍ بې اتفاقي را پیدا شوه او د خوشحال خان بل زوی بهرام خان د مُغلو په لمسون راپورته شو، ځینې ختک په هغه پسې شول او څوک د اشرف خان

---

(۱) خوشحال خان په ۱۶۸۹ع یا ۱۱۰۰ه کال د اپریل و په ... نمبره نوی ځای کښې د مغرورۍ په حال کښې د ۷۸ کالو په عمر وفات او مړی یې د اکوړې د غره په لمنو کښې ښخ شو.

(۲) اشرف خان هم ښه شاعر ؤ، د دېوان خاوند، تخلص یې "هجري" دی.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هجري د زوی افضل خان چې خوشحال خان پخپله د اشرف خان تر بندي کېدلو وروسته مشري افضل خان ته سپارلې وه، پسې ولاړ وو. له همدې امله په ختکو کښې جنګ جګړې ونښتې. په دې لړ کښې بهرام د خپل پلار (خوشحال خان) مخالف و د ده او د مغلو مرسته یې کوله چې د همدې مخالفتونو په نتیجه کښې خوشحال خان د خپل کور پرېښودو ته هم مجبوره شو، اخر د قام مشري د افضل خان شوه.

افضل خان ختک د مغولي بادشاه محمد شاه په وخت کښې وفات شوی دی. د افضل خان پر نورو اثارو برسېره د هغه لیکلی تاریخ «تاریخ مرصع» لوی او د قدر وړ یادګار دی.

د افضل خان اته (۸) زامن وو چې د وه تنه پکښې تر نورو زیات د یادونې وړ دي. ۱: محمد علي خان. ۲: سعدالله خان چې په شهید خان هم مشهور دی. محمدعلي‌خان به په اکوړي کښې اوسېدلو او سعدالله خان په تېري کښې د پلار له مرګه پس د واړه وروڼه هم بې اتفاقه شول او محمدعلي خان په تېري حمله وکړه، خو سعدالله خان ور ته ماتې ورکړه او د اکوړې نه یې هم و وېستلو. د سعدالله جان هم اته (۸) زامن وو چې سعادتمند خان او خوشحال خان پکښې مشهور دی. سعادتمند به د پلار سره په اکوړې کښې اوسېدلو او خوشحال د پلار له خوا په تېري کښې حاکم، خو د نادر افشار ایراني بادشاه نه پس چې د افغانستان حکومت پښتنو ته په

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس ورغی او احمدشاه ابدالی د پښتنو باد شاه شو، نو د ټولو خټکو لوی خان سعدالله خان ؤچې مرکز یې اکوړې ؤ، څه وخت چې احمدشاه ابدالي په پنجاب د حملې کولو پرنیت راغی، نو د سعدالله خان مشر زوی سعادتمندخان د خټکو د یو لوی لښکرسره د هغه په خدمت کښې حاضر شو او د هغه په فوځ کښې یې ګډون وکړ، په دې وخت- کښې محمدعلي خان زوی لښکرخان چې په نوښار کښې اوسېدلو، میدان خالي ولید، نو په اکوړې یې حمله وکړه، په دې کورنۍ جنګ کښې سعدالله خان ووژلی شو، څه وخت چې خوشحال خان په ټیری کښې د دې واقعې نه خبرشو، د ټیری نه اکوړې ته را روان شو، په لښکرخان کښې د هغه د مقابلې طاقت نه ؤ، نو د خپل آل عیال سره سره بونیر ته وتښتید او کډې کوډې یې په بونیر کښې پرېښودې او پخپله پنجاب ته لاړ او د نواب معین الملک ( میرمنوخان ) سره نوکر شو.

خوشحال خان چې له دې نه خبرشو، نو د احمدشاه ابدالي حضور ته یې ټول احوال ولیکلو او د لښکرخان د نیولو خواست یې ترې وکړو، د هغه د خواست په اساس احمدشاه ابدالي لښکرخان بندي کړو او خوشحال خان ته یې را ولېږلو او هغه د خپل پلار په قصاص کښې - لښکرخان مړ کړو. څه موده پس مرهټیانو په پنجاب حمله وکړه او احمدشاه ابدالي له کابله د هغوی د سمون د پاره را روان شو او پېښور ته راغی، نو د مرهټیانو د مقابلې د پاره یې د ټیری حاکم

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان یې هم د ختلو لومړني فوځ سره ولېږلو. خوشحال خان د حسن ابدال په مقام له مرهټیانو سره جګړه وکړه او په همدې جنګ کښې شهيد شو. احمد شاه ابدالي چې خبر شو د امداد د پاره یې نور فوځونه ور ولېږل چې سعادتمند خان هم پکښې ؤ او په ميدان کښې يې ډېره مېړانه وښودله، نو احمدشاه ابدالي د دغه خدمت په بدل کښې د جهلمه پورې د ټولې علاقې حاکم سعادتمند خان مقرر کړو. احمد شاه ابدالي چې بل وار د مرهټیانو سره د یو فيصله کن جنګ د پاره راغی، نو سعادتمند خان هم د خټکو قبیلې د یو لوی لښکر سره د احمد شاه په لښکر کښې ګډ ون وکړ او د "پاني پت" په ميدان کښې یې ښه توره او مېړانه وښودله، نو احمد شاه ابدالي ورته د سرداري خطاب ورکړو.

د احمد شاه نه پس د هغه زوی تيمور شاه په زمانه کښې هم سعادتمند خان ښه سعادتمند ؤ او بادشاه ورته د سرفراز خان خطاب ورکړی ؤ، او همدی د خټکو په خانانو کښې آخري خان ؤ چې پر ټولو خټکو حاکم ؤ او د خټکو په ټوله علاقه یې حکومت کړی دی، د هغه د وفات نه پس د خټکو خاني دوه ځايه شوه، د سویلي خټکو-خانان به په ټیري کښې اوسېدل او د قطبي خټکو خانان به په اکوړي کښې وو.

د سويلي خټکو خانان د سعادتمند خان نه پس شهباز خان په

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیری کښې حاکم شو، د شهباز خان مثل (۲۰)، زامن وو، په هغوی کښې منصور خان د پلار په ځای کښېناست او د هغه نه پس د هغه وراره ناصر خان، خان شو. د ناصر خان د وه زامن وو، ارسلاح خان او خوشحال خان، چې په ناصر خان پسې ارسلاح خان د قام مشر شو، په دغه وخت کښې په افغانستان کښې د تیمور شاه سدوزی زوی شاه محمود باد شاه ؤ، څه وخت پس شاه محمود لرې شو، هرات ته لاړ او د کابل حکومت بارکزو ونیولو او امیر دوست محمد خان د کابل باد شاه شو، په پېښور د هغه ورونه او د پاینده محمد خان زامن یار محمد خان سلطان محمد خان، سید محمد او پیر محمد حاکمان وو، په دې موده کښې د خټکو خانان هم د پر بدل رابدل شول او په صوبه سرحد د سیکانو حملې هم شروع شوې، نو د خټکو خانان به هم کله د سیکانو ملګري شول او کله به د پېښور د بارکزو سردارانو سره وو، خو په ۱۸۴۹ع کال کښې د سیکانو اقتدار ختم شو او انګرېزانو د پښتنو علاقه (او سنی صوبه سرحد) لاندې کړه. د ۱۸۵۷ع کال د ډیلي د آزادۍ د جنګ په وخت کښې خواجه محمد خان د تیري نواب ؤ او د پیرنګیانو مرسته یې وکړه (۱) د دې خدمت په بدل کښې د تېرې

---

(۱): دې د ۱۸۵۷ع کال واقعې ته چې فوځ بغاوت وکړو وطني خلک د آزادۍ جنګ وایي او پیرنګیانو به ورته د ډیلي غوبن ویلو.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریاست د دهٔ په کورنۍ کښې په زاړه د ستور نسل په نسل انګریزانو ومنلو او د اعلاقه د جاګیر په ډول د دغه کورنۍ په ولقه کښې وه خو کله چې بیا وروسته پاکستان جوړ شو او د جاګیردارانو سلسله ختم شوه ، دا جاګیر هم له منځه لاړ.

## د قطبی ختکو خانان :

د سردار سرفراز خان ( سعادتمند خان ) نه پس د هغه زوی - آصف خان په اکوړي کښې حاکم ؤ، د هغه نه پس یې وراره فیروز خان او د هغه نه پس یې زوی عباس خان د قطبي علاقې د ختکو نواب ؤ او دا د رنجیت سنګه زمانه وه او هغه له عباس خان سره ښه تعلقات لرل ، تر دې چې رنجیت سنګه ورسره خپل پټکی هم بدل کړی ؤ او هغه دالوبه له نورو با اقتداره پښتنو سره هم کړې وه .

د پېښور د سردارانو د عباس خان نه ویره پیدا شوه ، نو یو اورکزی ملك او خوتنه سپین ږیري یې په عباس پسې ورولېږل او هغه یې پېښور ته راوبللو او میلمه یې کړو او همدلته یې - بندي کړو او څو ورځې پس یې بیا په زهر وهر کړو . له دې نه ځکښې د عباس خان ورور خواص خان هم سیکانو نیولی ؤ او په لاهور کښې ؤ ، خو د رنجیت سنګه د ناروغۍ په الګوله کښې هغه د قید نه وتښتېدو او خپلې علاقې ته راغی ، په دغو ورځو کښې د قطبي ختکو

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی خان نجف خان ؤ، خواص خان چې راغی نوخوړی ته لاړ، خو هلته د نجف خان زوی محمد افضل خان دی مړکړو.

د نجف خان او د پېښور سردارانو د بنځوخپلوي هم وه، نو نجف خان څه موده په دغه علاقه حکمران پاتې شو او سردار سلطان محمد خان ته به یې د کال دخراج په ډول د ولس زره (۱۲۰۰۰) روپۍ هم ورکولې، خوڅه وخت چې د سیکانو سلطه راغله او جرنیل هری سنګه⁽¹⁾ پېښور ونیولو غالباً چې د ۱۸۴۷ع کال ؤ، نو نجف خان نیلاو ته وتښتېدو.

سیکانو په جهانګیري کښې یوه قلاجوړه کړه او د خټکو میداني علاقه یې څپلې ولقه کښې وساتله او غرنیزه علاقه یې د خټکوخانانو ته په دې شرط پرېښوده چې د اټک او پېښور په مینځ کښې لار به د سیکانو د ټک او راټک د پاره آزاده پرېږدي او ساتي به یې .

نجف خان څه موده حکمران ؤ، خو هغه هم د عباس خان زوي ووژلو او د پلار په ځای محمد افضل خان د خټکو خان شو. د سیکانو د ګورنر ابوطبیله (چې یو فرانسوي ؤ) په وخت کښې د خټکو په خانۍ کښې څوځله تغیر او تبدیل پېښ شو. د ۱۸۵۷ع کال د ډیلي په واقعه کښې دې خانانو هم د انګرېزانو مرسته وکړه، نو د دې خدمت په

---

(۱): جرنیل هری سنګه بیا سردار اکبرخان د جمرود په جنګ کښې ووژلو.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدل کښې د دوی جاگیر په خپل حال پاتې شو

## ۸: کرلاڼي قبائل: خدران:

خدران هم د کرلاڼو یوه څانګه ده، دا ډېر کلک، توریالي او زحمتکښ خلک دي. د دوی علاقه د خوست نه په قبله او د زرمت نه په نمرخاته په سویل پرته ده. دوی د کرکیلې ځمکه هم لري او په دې علاقه کښې ... او بادام هم ډېر کیږي. د دوی نه په نمرخاته خوسیستان او ... قبله یې ګردیزیان، سویل ته یې غلجي قبایل او قطب نمرخاته ته یې منګل او څه توري پراته دي.

د دوی د غلجو او منګلو سره اکثره بدي وي. په دې خلکو کښې لوی اشخاص هم تېر شوي دي، لکه د المري ببرک خان (چې ډېر ښه او غازي شخص و).

## ۹: اُتمان خېل:

دا قبیله هم کرلاڼي دي، خو د خاښي خېلو یوسفزو سره یې له پښوانه ګډ ون کړی دی او له هغوی سره دې علاقې ته راغلي دي. د دله زاکو او یوسفزو په جنګونو کښې اتمانخېل د یوسفزو ملګري وو. ویلی شي چې دوی په اول کښې د ګومل په دره او تانک کښې اوسېدل او بیا له هغه ځایه را په کډه شول او له یوسفزو سره

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوخای د پېښور علاقې ته راغلل او بیا تیراه ته لاړل ، خو هلته هم تیکاو نه شواوله هغه ځایه بیا په کډه شول او ارنګ برنګ ته راغلل او هغه ملته یې واړول او تراوسه پورې همدغلته استوګن دي .

د دوی قطب ته پنجکوړه قبلې او قطب ته یې باجوړ او څه د مومندو علاقه او غرونه دي ، نمرخاته ته یې سوات او سویل ته یې هشتنغر دی . د کروندې ځمکه یې لږه ده ، د غرونو په لمنوکښې یې څه د کرکیلې ځمکې هم شته ، چې د دوی ګذاره پرې کیږي . د دوی په غرونوکښې میږي هم کیږي .

د دې خلکوځینې قبیلې لکه بایزی ، اسمعیل خېل ، دعوت خېل او سه مده د مردان په علاقه کښې پراته دي . خرکي ، میاخان او کوه برمول د دوی مشهور کلي دي .

## ۱۰ : خوګیاڼي :

داخلک هم کرلاڼي دي ، د شجرې نه د دوی مشهورخېلونه دا دي :

شېرزاد ، پرېه ، خدرخېل ، بارک ، درمان (عبدالرحمن) ، بوبوخېل لقمان خېل ، شادي خېل ، داخلک د ننګرهار د علاقې نه قبلې ته او د سپین غره په قطب قبله استوګنه لري . ځاځي او توري هم د دوی له

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهوله دي .

ویل کیږي چې د شاه‌جهان (مُغلي بادشاه) د جلوس د اول کال په وخت کښې د لقمان خېلو او شادي خېلو تر منځه د ښمنې پیدا شوه، لقمان خېلو د خدرخېلو په مرسته شادي خېل وو هل ، شادي خېلو بیا له غلجو نه مرسته وغوښتله او غلجو یې مرسته وکړه او د کابل صوبه دار هم د دوی مرسته وکړه په دغه جنګونو کښې د بارک اولاده ډېره زیانمنه شوه او نتیجه یې دا شوه چې شهرزاد او خدرخېل دواړه تېښ با د شاهي اطاعت ته مجبورې شوې .

د خوګیانو په علاقه کښې انګور ، انار ، توتان ، انځر ډېر پیدا کیږي . دا خلک اکثر زمیندارې کوي او ځینې یکښې تجارت هم کوي او څه مالداري هم لري ، په غرونو کښې یې لرګي هم شته ، سپه زېړ ، نکړه او توریالي خلک دي . د دوی ځینې خلک په خوست کښې هم شته دي . لکه پړبه او دُرمان .

## پړبه :

د خوګیانو یوه څانګه ده ، خوله ډېرې مودې را هیسې له خوګیانو څخه بېله شوې او ځانله پخپل نامه مشهوره ده ، د دوی مشهور خېلونه دا دي :

میاخېل ، بسي‌خېل ، سردارخېل ، محمودخېل ، تړینزي ، ملېزي رشي‌زي ، ډوډه‌خېل او پوچي‌خېل دي .

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلي شي چې په اوله کښې ټول خوګیاڼي په خوست پراته وو خو د جهانګیر بادشاه په زمانه کښې د زرمت غلجو په د وی یرغل وکړ او د وی یې له دغه ځایه وشړل او د شاه جهان په زمانه کښې د د وی په مینځ کښې کورنۍ جګړې هم پېښې شوې، چې د وی یې ډېر کمزوري کړل.

د د وی اکثره خلک زمینداري کوي او خال خال سوداګر هم پکښې شته دی.

## درمان:

درمان هم د خوګیاڼو ذیله ده او د وی په شپږو څانګو وېش دي، چې هغه دا دی:

حاجي خان خېل، سوري خېل، احمد خېل، خودي خېل، کُندي - او منګس. دا شپږ واړه څانګې په مخوري هم مشهور دي، او په خوست کښې استوګن دي او د کرکیلې کار کوي.

## ۱۱: ځاځي:

د وی هم د کرلاڼو طبقې سره ګډ یږي او د شجرونه د خوګیاڼو یوه څانګه ده. دا خلک د «توریانو» نه په قطب قبله د پیوار کوتل نه پورته د «اریوب» په ځمکه پراته دي. د وی په خوراک څښاک، دود او دستور او لباس کښې د توریانو په څېر دي، خو په عقید د

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې د هغوئ نه بېل دي او ټول سُني مذهب دي ، له همدې کبله د دوی په مینځ کښې تل د ښمنې هوی .

## ۱۲: توریان:

دوی ته توري زي هم ویل کېږي ، دا د کُرمې وادۍ یوه مهمه قبیله ده او شجره کښې د خوګیانو یوه څانګه ګڼلی شي او آخر په - کرلانو ګډیږي .

توري په پنځو څانګو کښې وېش دي : حمزه خېل ، مستوخېل ویرزي ، علي خېل او غونډي خېل دي . او دوی په څلورو ډلو وېش دي ، یوه ډله یې په میا مرید مشهوره ده او نورو درېو ډلو ته یې درېوندي وایي . د دوی علاقه ښه وړانه ده ، دا خلک د عقیدې په لحاظ شعیه دی او د هغه مذهب د احکامو پابند دي او ډېر کلک پرې ولاړ دي . د مانځه او روژې هم ښه پابند دي ، او د سیدانو ډېر قدر کوي او هر یو یې د سیدانو مرید دی . د وی د مېلمه هم ډېر قدر کوي . زړور او ښه توریالي خلک دي . د دوی په علاقه کښې بې بدرګې تګ راتګ مشکل دی ، خو چې له چا سره بدرګه وي ، نو هغه ته هیڅ خطره نه وي . دا خلک ځینې مخصوص رسمونه هم لري . د دوی په خیال ټول خلک دوه ډلې دي ، یوه یې رښتینې ده او په سمه لار روان دي ، او بله یې د روغجن او په کږه لاره

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملونکی دی. د وی خپل هم عقیده او هم مسلک خلک رښتونی گڼي او نور ورته په غلطه لار روان ښکاري. له د وی کره چې کله هلک پیدا شي. نو د سرد پاسه يې وزي کوي او دا هم د دې له پاره چې هلک له زړه وکوالی نه د ټوپک له وزوسره بلد شي چې په زلمیتوب کښې سیاله وزوڅخه ورنه ویریږي.

## ۱۳: کرلاڼي قبایل، وزیر،

وزیر یوه کېږي چې د دې قبیلې د مشرنیکه وزیر نوم ؤ چې د سلیمان زوی د ککی نمسی او د کرلاڼی کړوسی ؤ، د وزیر د وه زامن وو ۱: خدري ۲: لالي.

ویلی شي چې په اوله کښې داخلک د خوست حنزا وشا پراته وو او په غرونو کښې استوګن وو. د څوارلسمې عیسوي پیړۍ په آخر کښې د قبیلې په لور وغځېدل او د توچې په قطب د ښنوا وکوا ټ په سرحدي غرونو کښې استوګن شول، او ورو، ورو یې دګرمې درونه ترګوملې پورې ټوله علاقه رالاندې کړه او پرې استوګن شول. د دوی د استوګنې په وجه دغه علاقه په وزیرستان مشهوره شوه.

د وزیرستان علاقه به تخمیناً اووه زره (۷۰۰۰) میله مربع رقبه وي. په دغه علاقه د وزیرو دوه قبیلې احمد زي او اتمان زي

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراته دی دا دواړه تبیلې هم په نورو ډېرو وړو ذیلو کښې سره وېش دي، چې تفصیل یې مخکښې تېر شوی دی.

ویلې شي چې د خدري درې زامن وو:

۱: موسیٰ چې په درویش مشهور ؤ، ځکه چې ډېر پرهېزګار او متقي سړی ؤ. د موسی یا درویش قبر په «برمل» علاقه د ډیورنډ لین سره نژدې په پاکستانی علاقه کښې پروت دی، او دغه قبر د وزیرو په نظر کښې ډېر مهم دی او په ډېره سخته موقع کښې وزیر دغه قبر ته ورځي او دُعا کوي. ویلی شي چې د موسیٰ درویش دوه زامن وو:

۱: اتمان زي، ۲: احمدزي. ویل کېږي چې دا دواړه په درویش خېلو هم شهرت لري او د خدري د دویم زوی نوم محمود ؤ او د محمود یو زوی مسعود نومیده چې اولاده یې په مسعود و مشهوره ده. د خدري د دویم زوی نوم مبارک ؤ دی هم یو بنه سړی ؤ او د قبر یې وزیر خلک ډېر قدر کوي او د مبارک یو زوی ګربز ؤ چې اولادې نه یې «ګربز» ویل کېږي.

وتمان زي وزیر پخپل منځ کښې درې څانګې دي: محمودخېل براهیم خېل، او ولي خېل. دا درې واړه څانګې بیا ځانته نورې ډېرې ذیلې هم لري، چې په شجره کښې یې تفصیل تېر شوی دی.

همدغسې احمدزي وزیر هم په دوو څانګو سره وېشل شوي دي: سین خېل او کالوخېل دي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سین خېل هم درې ښاخه دي: هاتي خېل، سرکي خېل اوعمرزي دي. اوله دوی نه هم د پرې ذیلې ښاخې شوي دي، دغه شان کالوخېل دوه څانګې دي: نصری او سپېرکي. نصری هم دوه ښاخه دي: باې خېل او شادي خېل دي. او د سپېرکي هم درې ښاخه دي. محمدخېل، سدي خېل او سندن خېل دي، او دغه هريو ښاخ بیا خانته نورې د پرې ذیلې هم لري چې تفصيل يې د مخه تېر شوی دی.

د مسعود بن محمود هم دوه زامن وو يو علي چې اولاده يې په علي زي يا دیري او بل زوی يې بهلول چې اولاده يې په بهلول زي یادیږي. د علي هم دوه زامن وو ديو نوم فتح او د بل زوی نوم يې «شمن» و. د فتح اولادې ته فتح خېل، چې عوام خلک ورته پوتيه خېل وايي او د شمن اولادې ته شمن خېل یا شمن زي ويلې شي. دوی هم بیا نورې د پرې ذیلې لري لکه بهلول زي چې په څلورو څانګو بېلیږي: همل خېل، باند خېل، نونوخېل او شنکي دي. د همل خېل هم درې څانګې دي: عبدلی، ملکشی او ننظرخېل. په همدې ډول باند خېل هم دوه څانګې دي: ایکم خېل او طوطیه خېل. د نونوخېل درې ښخې وې د اولې ښځې نه يې: هیبت خېل او عمرخېل دی. د دويمې نه يې: علي خاني، میرخاني او منډا دي اوله دريمې ښځې نه يې میرخاني او برتي دي. د دې ټولو نه نورې د پرې ذیلې هم

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورې شوي دي.

د وزیرو مشهورې علاقې دا دي:

۱: د شوال علاقه: په دې علاقه جلال خېل، کابل خېل او ملکشي پرانه دي چې داوتمانخېلو ذیلې دي.

۲: د شاکۍ علاقه: دغه علاقه د غرونو په مینځ کښې واقع ده، اواره کڅۍ ده، په دې علاقه کښې ملکشي، میامي، شادیکي او خوناخېل استوګن دي. د دوی نه وربنکته هاتي خېل دي او سنډن خېل او سپېرکي - اوسیږي او د ټولو نه بنکته د مسعود و په ځانګو کښې علي زي او - بهلول زي اوسیږي.

۳: د برمل علاقه: د وزیرو د غرونو د ننه علاقې ته برمل وائي. دا د یوې درې په شکل ده. ځمکه یې اواره او د کرکیلې له پاره غوره ده. دا علاقه په خلورو[۴] ورو- ورو کڅیو وېش ده. په دې کڅۍ کښې د مرغۍ په ځمکه د کابل خېلو ذیلې او ځانګې سپیلي او پوپلي اوسیږي وزیر خلک په اوري کښې خپل مالونه همدلته پیایي او د موسی درویش[۷] قبر هم په دې علاقه کښې دی.

۴: رزمک علاقه: دا علاقه هم یوه وړه کڅۍ ده آب وهوایې ډېره بنه ده. په دې علاقه کښې توري خېل او محبت خېل، چې داوتمان- زو ځانګې دي، اوسیږي.

۵: د خیسور علاقه یا دره: دا یوه وړه کڅۍ ده چې د دوړو د علاقې

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سویل پرته ده. په دې کڅۍ کښې په بره ممیت خېل په منځ کښې یې توري خېل او سنه په بشکته وړوکي پراته دي.

۶: شرنه: د د وړو په قبله واقع ده، دلته مداخېل، خدرخېل او په منځ کښې یې مسعود پراته دي.

۷: شکتو: دا یوه دره ده چې بر پکښې توري خېل او منځ کښې یې مسعود دي.

۸: وانا: د جنوبي وزیرستان مرکز دی. "وانا" د وزیرو د علاقې د جنوبي برخې نه د ګومل د درې په قطب ده او لوړ غرونه ترې تاو دي، چې سویلي څوړی یې د ګومل تر درې پورې رسیږي. دا علاقه په اصل کښې یوه کڅۍ ده چې د قطب نه به د سویل په لوري تقریباً پنځلس (۱۵) کروه اوږده وي. په دې کڅۍ کښې یو خوړ بهیږي چې په آخر کښې د ګومل له سیند سره ګډیږي. د دې خوړ په دوارو غاړو ځمکه د کرمنې وړ ده، خو اکثره یې للمي او باراني ده او آبي ځمکه پکښې لږه ده. د "وانا" علاقه ترده او په اوړي کښې د ماشوخاله ده، او ګذران پکښې ګران دی د وانا په منځ کښې د وتانی، چې د لود یانو یو ښاخ دی، او سیږي. او په نوره علاقه د احمدزو وزیرو څانګې او ذیلي پرتې دي. د وزیرو اکثره تپې په اوړي کښې حېل مالونه دلته څروي.

۹: د بدر علاقه: دا هم یوه وړه کڅۍ ده چې اوږد والی به یې د - کانیګرام پورې ایله (۵) کروه وي، او پلن والی به یې تقریباً یو

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



میل وي. په دې دره کښې سپرکي او شينکي پراته دي.
مسعود په خوړه دره او ميدان کښې استوګن دي. د مکين او وڅو نور وکلو نه پرته د مسعود و نور کلي واړه - واړه او د لسو شل کورونو نه ډېر نه دي. وزيراو مسعود په اصل کښې يو خلک دي خو مسعود پخپل نامه خانله خوبښ دي. مسعود ډېر په کامي ګرام او مکين پراته دي. دوی د وزيرو نه په شماره کښې لږ دي، خو په زړورتيا او شجاعت کښې زيات دي.
نن ورځ ټول مسعود په درېو لويو څانګو وېشل دي، يعنې علي زي، بهلول زي او شمن خېل.
د وزيرو مسعودو ژبه د نورو پښتنو په نسبت ګرانه ده او نور خلک يې په خبرو په ګرانه پوهېږي. دا خلک اکثره په فوځ کښې نوکري کوي او اوس خو پکښې تعليميافته هم شته او ملکي لوی لوی ماموريتونه (عهدې) يې نيولي دي. دا خلک په خپل منځ کښې سره ښه متحد دي او له دې کبله دا قبيله اهمه ګڼلی شي.
په دوی کښې ځنې مخصوص رواجونه هم شته دی او د ځنو خلکو انفرادي رايې هم اهميت لري. د تاريخ په اوږدو کښې په دې خلکو چا حکومت نه دی کړی. انګرېزانو پخپل دور کښې له دوی سره جګړې ربړې کړې دي، خو دا خلک يې نه دي ايل کړي.
د پاکستان له جوړېدو نه پس ورته ډېره توجه شوې ده،

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی په علاقه کښې د هر سکولونه جوړ شول او په دوی کښې د علم خپرولو او رواجولو کوښښ لا روان دی، او اُمید دی چې دا خلک به زر مترقي شي.

## کُربز:

ویلی شي چې کُربز هم د وزیرو یو ښاخ دی او په اول کښې دوی هم د وزیرو سره یوځای او سېدل خو د دوی او بېټنو جنګ جګړې ونښتلې، نو دوی له دی کبله د خپلې علاقې نه په وتلو مجبوره شول. د دوی علاقه د وزیرو د علاقې قطب قبلې ته او د خوست نه په سویل نمرخاته پرته ده او په افغانستان پورې تړلې دي. د دوی غرونه دوه میاشتې په واوره پټ وي او د کرکیلې او مالدارۍ کار کوي.

## لالي وزیر:

د شجرې نه یې څرګند ده چې «لالي» د «خدري» ورور او د «وزیر» زوی دی. د دوی پخوا د شوال په غرونو کښې د شیتکو یو سرې مړ کړو، نو د دوی او شیتکو دښمني شوه. د دوی پرې کمزوري شول او د خپلې علاقې نه یې کډه وکړه او د خوګیانو علاقې ته ورغلل، او اوس هم دا خلک د سپین غره په خوا وشا

Kitaboona.BlogSpot.Com

کښې پراته دي، او پخپل نامه یادیږي. د خوګیانو وزیر هم داخلک
دي او دلالي تبر دی.

## کرلاني قبائل: شیتک:

د (دوړ، بنوڅي، تني، څخه مطلب شیتک کیدی شي.

**دوړ:** څه وخت چې بنوڅي (د شیتک د ښځې "بانو" اولاده) یعني (کیوي او سوراني) چې د شوال غره نه راغلل او د بنو علاقه یې ونیوله نو دوړ هم د توچي د سیند په دواړو غاړو پراته وو، دا نه ده معلومه چې له دوی نه مخکښې به دلته څوک اوسیدل او که دا علاقه به شاړه وه، خو د اورنګ زیب عالمګیر په زمانه کښې (۱۶۹۶ ع) کال د اورنګ زیب زوی شهزاده بهادرشاه چې د بنو علاقه لاندې کړه، نو په دوړو یې هم دولس زره (۱۲۰۰۰) روپۍ کلنۍ مالیه - کیښوده او سید حسن نومی سړی یې په دوی حاکم کړ، خو داورنګ زیب نه پس بیا دا خلک بېرته آزاد او خپلواک شول او د احمدشاه ابدالي په وخت کښې هم دسې په نوم رعیت وو او لږ څه به یې بادشاه ته دخراج په ډول ورکول، خو د بادشاه له خوا کوم حاکم په دوی نه ؤ. خو د سدوزو او بارکزو جنګونو، جګړو په وخت کښې بیا دا خلک بیخي آزاد شول.

دوړو نه په درې پلوه وزیر پراته دي او د وزیرو او د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورانه هم ده او کله ناکله جنګ جګړې هم کوي، خو که بل څوک په دوی یرغل وکړي، نو دوی بیا یو ځای شي او په ګډه د ځان دفاع کوي او خپل منځي دښمنۍ پرېږدي. عیدک، درپه خېل او امزوني هم په دوړو کښې شامل خلک دي.

## ۱۴- تنړی:

داخلک هم کرلاڼي دي او د کرلاڼو یوه تپه ده او د دوړو ورور دی. تنړي په دریو برخو سره بېل شوي دي: ۱: اریوړي ۲: میرخېل ۳: سینکي.

داخلک د خوست نه په قبلیزه او سویلي برخه پراته دي. د دوی قبلیز غر بنه ودان دی او د ښکار د پاره مشهور دی.

دا بنه جنګیالي او توریالي خلک دي او په خپل منځ کښې هم د وه ګونده دي، اریوړي او سینکي یو ګوند او میرخېل بل ګوند دی. په شمېره کښې میرخېل ډېر دي. د دوړو په نسبت دا خلک د پښتونوالي په دود ونو بنه ټینګ ولاړ دي.

درګی، حصارک، کرخه، اتمان او پرخې د دوی د علاقې لوی کلي دي، ځمکه یې بارانې ده او خلک یې کرکیله کوي. د خوست په لوی حکومت (لویه او لسوالي) پورې تړلي دي، خو اکثره سرکشي کوي.

## ۱۵: بنوڅی:

د دوی د مشرنیکه نوم شیتک ؤ او د شیتک مور ککی نومیده «*»

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوله کښې داخلک هم د شوال په غره پراته وو، او اوس هم هلته یوځای د «ککۍ میله» په نامه شته. د شیتک د ښځې نوم «بانو» ؤ نو په دې وجه یې اولاده بنوڅي شول. ویلې شي چې د شیتک درې ښځې وې دیوې ښځې نه یې دوه اوتني دي، د بلې نه یې اکیوی او سوراني) دي او د بلې ښځې نه یې جهلم یا زیلم او هویدیا او د-دوی اولادلن دی او په کیوي او سوراني کښې ور ګډ شوی دی. دا خلک د توچي د رود په سویل د غره په لمن کښې او سپدل، خود سلطان شهاب الدين غوري په زمانه کښې شیتکو د بنو په علاقه حملې پیل کړې. په دغه وخت کښې په دغه علاقه کښې (انګل او منګل پراته وو او ورو- ورو شیتکو کیوي او سوراني دا علاقه ونیوله. «انګل» قام هندوستان ته ولاړ او «منګل» د سپین غره په سویل کښې پر پوتل.

د دې نه پس شیتکو دغه علاقه د څپل پیر په صلاح او مشوره په څپل میځ کښې سره وېش کړه او داسې وېش یې وکړو: د کیوی مشر زوی د میری اولاد ته یې سویلي برخه ورکړه او د هغه بل ورو «ککی» نه یې مشرقي برخه ورکړه. دا علاقه په هغه وخت کښې بنه ودانه وه او د «سمي» اولاد ته یې چې د ککی دریم[۳] زوی ؤ

---

*(۱): او په شجرو کښې د شیتک د پلار نوم هم ککی ؤ او برهان خوګیانی او سلیمان مش ورونه دي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په منځ کښې برخه ورکړه او د سوراني برخه د قطب پلو ترتل پورې ورسېدله. دا علاقه هغه وخت ځنګلي، خواوس ښه ودانه ده.

## ۱٦: ګنداپور:

ویلی شي چې د ګنداپور مشر نیکه نوم ستوری یا ستوراني یا توراني (۱) و چې د ستوریاني پنځه زامن وو: ۱: شیخي ۲: میریري، — ۳: تری یا «ګنداپور» ۴: اسرار ۵: دهمړ. په دوی کښې د د همراولاد د پلار په نامه ستوریاني یادیږي او د نوروا ولادې ګنداپور کښې ګڼل کېږي، د ګنداپور مشهورې تپې دا دي: یعقوب زي، براهیم زي، حسین زي، عمران زي، خوبي زي او درې پلارې.

ګنداپور په اوله کښې پوونده او کوچیان وو، په ژمي کښې به دامان ته راتلل او په اوړي کښې به افغانستان ته ورتلل. د مغلي بادشاه شاه جهان په زمانه کښې د مروتو او دولت خېلو په مینځ کښې جنګ وشو چې مروت پکښې بریالی شول او دولت خېل د «ټانک»، نه په وتلو مجبور شول، د دولت خېلو لوی خان زمانخان د ګنداپورنه مرسته و- غوښتله، او ګنداپور ور سره کومک وکړو، او په مروتو یې په ګډه یرغل وکړو او مروت یې د خپلې علاقې نه وویستل. د کتې نه پس

---

(۱): ځینې وایي چې محمد ګیسو دراز اولاد دی، خو دا غلطه خبره ده، دا خلک پښتانه دي خو ګنداپور شیراني دی.

Kitaboona.BlogSpot.Com

د زمانخان په خواهش ګنډاپور هم د روړي به علاقه استوګن شو. د ګنډاپور د علاقې قطب ته د زړه خیل، سرین، میاخیل، قبلې ته کوه سلیمان او شمرخاته یې د ډیره اسمعیل خان دی.

د دوی مشهورکلي: لاچي، پنیاله، دومي، ... او ... کوټ ظفر او ... دي.

## ۱۷: بنګښ؛

بنګښ هم په کرلاڼو کښې نامتو طبقه ده. داخلک په خالص افغانه هم مشهور دي.

ویل کیږي چې د دوی د مشر بیکه اسمعیل نوم و. د هغه دوه زامن وو زکار او سمل، لومړی داخلک د زرمت په علاقه کښې په ګرد یز پراته ووا و د خپلو کورنیو جنګو نو له امله کمزوري شول.

دوی په خپلو کښې په دوو ګوندونو ویش دي: زکار او سمل، د زرمت د علاقې نه داخلک غلجو په شړلو مجبوره کړل او دوی کډې راوکړې او د سپین غره په سویل د کرمې، پیواړ او شلوزان په علاقه یې قبضه وکړه، خو د ورکزو او د دوی ترمنځ بدي پیدا شوه. بنګښو د خټګو په مرسته ورکزي د کواټ نه و شړل، خو د دوی ترمنځ د جنګونو دا لړه لا روانه وه، آخر یې سوله وکړه د قطب په لور غرنیزه علاقه د ورکزو ورسپده د بنګښو دره قبله په نمرخاته اوږده او د غرونو په منځ کښې ده، د دوی مشرقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنوبي او غربي پولې له خټکو سره لګېدلې دي او قطب ته يې-
اورکزي دي، د دوی څه مغربي او جنوبي برخه له وزيرو سره هم
لګېدلې ده.

بنګښ ډېر زړور او توريالي خلک دي، هنګو، درسمند، سترزي، توغ، توره وړي او نور د دوی د علاقې مشهور کلي دي.

د دې قام څنې خلک د ايران د مازندران په صوبه کښې هم شته دی او څنې په هند کښې هم مېشته دي، خصوصاً په فرخ آباد کښې. د فرخ آباد نوابان په خټه بنګښ دي.

بنګښ په پښتنو کښې ډېره اهمه قبيله ده او په دوی کښې د هنګو خانان د ښو اخلاقو له کبله ډېر ښه يادېږي.

## ۱۸- بابړ

بابړ په اصل کښې په شېراڼو ګډېږي، شجره يې داسې ده:

شرخبون

ارمړ — شېراني — بابړ — بړيڅ — ترين — ميانه

لکه چې د مخه مو وويل دوی په شېراڼو ګډېږي خو خانله پخپل نامه هم مشهور شوي دي. دوی د مياخېلو په سويل پراته دي او

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی د علاقې سویلي برخه سخته او غرنیزه ده. دوی له ټولو پښتنونه وروسته میداني علاقې ته راغلي دي او په چوړ هوان کښې یې اړولي دي.

داخلک اکثره تجارت کوي او ښه دولتمند دي. د بابړو ډېره برخه د سلیمان غره نه هاغه خوا په صحراکښې اوسیږي او پوله یې له شېرانو سره لګېدلې ده. دوی په دوړ او د ستور کښې د شېرانو په څنګ دي په مغربي افغانستان کښې او د مشرقي افغانستان په جلال آباد (ننګرهار) کښې هم بابړ شته دی او ښه د عزت خلک دي او ښه مشران پکښې تېر شوي دي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتونخوانه د باندې پښتانه (۱)

هغه پښتانه چې په پاکستان او هند کښې له پښتونخوا نه وتلي او سيږي په دې ډول دي :

لومړی وار پښتانه د محمود غزنوي او شهاب الدين غوري سره په لښکرو کښې برصغيرته ورغلي وو او هلته مېشته شوي دي ، بيا وروسته د نورو حکومتونو په وخت کښې هم پنجاب او مغربی هند ته نور پښتانه ورغلي دي ، خو د لودي او سوري حکومتونو په دوره کښې ډېر پښتانه هند ته ورغلي دي . په تېره د بهلول لودي او شېرشاه سوري په وخت کښې ډېر پښتانه هند ته تللي دي . په دې پښتنو کښې ډېر غلجي پښتانه وو او د هند په څو صوبو کښې مېشته

(۱) : دلفتننټ کرنل احسان الله خان د « پښتون قبائل » نومي کتاب نه .

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي وو. ( سوري او لودي ، اوغلځي (غلجي) ټول يو ځنې متوزي دي، ټولو وړ غلو پښتنو ته به په هند کښې روهيله ويل کېدل ، او دوی به فوځي نوکرۍ خوښولې او د وی زېږ وړ او زحمتکش پېژندل شوی وو.

څه وخت چې په ۱۵۲۶ع کال کښې بابر په هند حمله کوله د ده په لښکر کښې پښتانه ، چې ډېر پکښې يوسفزي وو ، شامل وو. د مُغلو په وخت کښې ډېر پښتانه د پنجاب نه ښيولي تر يوپي پورې رسيدلي او آباد شوي وو. د مُغلي حکومت په زمانه کښې پښتنو په هند کښې غټې عهدې هم لرلې او ځينې نوابان هم پکښې وو ، خو د مُغلو د حکومت په وروستي وخت کښې چې څه وخت افراتفري راغله او مرکزي حکومت کمزورې شوی ؤ ، نو پښتنو نوابانو هم ځېنو علاقه کښې د ځپل اقتدار نغارې وهلې.

د اتلسمې[18] پېړۍ په اوايلو کښې پښتانه د هماليه د لمنونه ښيولي تر اوده پورې خواره واره آباد شوي وو په ۱۷۷۴ع کال کښې چې څه وخت انګرېزان په هند کښې له پښتنو سره مخامخ شول ، نو پښتنو يې سخته مقابله وکړه حو په شاه جهانپور کښې يې ماتې وخوړه خو وروسته انګرېزانو د دوی يو مشر فيض الله خان د « رامپور » پنځه زره (۵۰۰۰) پښتنو کورونو د اوسېدانې اجازه وه او نور اتلس زره (۱۸۰۰۰) کورنۍ د وابه ، راجپوتانې او دکن ته په تللو مجبوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی شوې . لږ څه وخت وروسته امیرخان د ټونګ نواب مقرر شو، هغه هم په دغه پښتنو کښې ؤ.

د پښتنو هند ته د تللو مُهم عوامل د دوی کورنۍ دښمنۍ، خوارۍ او د حکومتونو بې نظمی وې . هند ته راغلو پښتنو هلته څو ریاستونه هم جوړ کړي وو، چې دوی به هغه ریاستونه اداره کول، لکه: ملیرکوټله ممدوټ، پالن پور، جوناګړ، سوانړ، بلاس نړ، محمدګړه، پاټوډي، رامپور، ټونک، بهوپال، بلاس پور، ګدی، دوجانه، پاونی، کړدی، مناداوړ، پتهاری، بنتهوا، کوړدانی او نور.

د ۱۹۴۰ع کال د احصایئې له مخې په برصغیر کښې په مختلفو ځایونو کښې لکه: پنجاب، راجپوتانه، کشمیر، بمبئي، بړوده، مدراس، میسور یوپی، سی پی، بهارا و بنګال، تهای لینډ، چین او انګلستان کښې – تقریباً پنځه لس (۱۵) لکه پښتانه آباد وو، لاندې د ۱۹۲۷ع کال نه څکښې د یادونې وړ دې ځایونو کښې پښتانه ودان وو:

په پنجاب کښې هغه درې نیم لکه پښتانه وو چې د مختلفو قومونو نه وو، چې ښکاره یکښې یوسفزي، لودي، ترین او کاکړ وو او مهمې ودانئې یې په ملتان، لاهور، میانوالي، سیالکوټ، لودیانه، جالندهر ګورداس پور، هوشیار پور او په اټک کښې وې، او په نورو – ځایونو کښې هم څه پښتانه وو لکه: ضلع هزاره او نورو علاقو کښې؛ د پنجاب په پښتنو کښې خو ښکی پښتانه چې د ځمند د ذیلې نه دي،

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاره حیثیت لري.

خوېشکي لومړی د افغانستان په غوربند دره کښې او سپېدل او د بابر په لښکر کښې هند ته راغلل، د پاني پت په جنګ کښې (۱۵۲٦ ع کال) چې بابر په ابراهیم لودي بری وموند، خوېشکي د بابر په لښکر کښې د سردار سلیم خان په کمان کښې وو، او قصور یې ورته په جاګیر کښې ورکړی ؤ او خوېشکو ته به خلکو قصوري پټهان ویل. وروسته یې بیا مغلو ته خراج هم نه ورکولو، او څو جګړې یې هم ورسره وشوې. د سیکانو سره یې هم په ۱۷۷۴ ع کال کښې جنګ وشو، او خوېشکو یې په مقابله کښې ښه مقاومت وکړو، خو چې په (۱۸۰۰ ع کال) کښې سیکانو لاهور ونیولو نو په (۱۸۰۱ ع کال) یې په قصور هم حمله وکړه او کامیاب شول او سوله وشوه، خو وروسته بد مرغه پښتانه پخپل منځ کښې د بې اتفاقۍ له امله فتح الدین خان رنجیت سنګه د حملې د پاره ولمساوه او سیکانو په ۱۸۰۷ ع کښې قصور لاندې کړ او خوېشکي لاړل د ستلج په نمرخاته علاقه کښې پر پوتل او وروسته ورته بیا د ممدوټ جاګیر ورکړی شو، او د ۱۹۴۷ ع کال پورې د دغه علاقې خوېشکي نوابان په اقتدار کښې وو.

په رهتک او سپېدونکي پښتانه یوسفزي وو او ګوریانه او ګوهانه چې د غلجو ذیلې سره تعلق لري هم په رهتک کښې اوسېدل او ځنې کاکړان هم د غلته وو او څوکلي یې لرل. د پاټودي حکرانه

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ هم د پښتنو وه. د سرهند او سپد ونکي پښتانه هم د پړنګي قبيلې لودي پښتانه وو، چې سلطان بهلول لودي هم له دغې کورنۍ نه ؤ، چې په هند کښې يې يو لوی سلطنت جوړ کړو.

او څينې نور پښتانه په لوديانه او پړاو په شمالي انباله کښې هم شته دی. د ماليرکوټلې د رياست باني هم د شېراني قبيلې يو پښتون بزرګ صدرالدين خان ؤ چې د دغه رياست بنسټ يې ايښی ؤ، دی په ۱۴۴۲ع کال کښې په سرهند کښې په يو ځای اِستوګن شو او د هغه ځای نوم يې ماليرکښېنود. په ۱۴۵۱ع کال ور ته سلطان بهلول لودی خپله لور تاج مرصع بېګم په نکاح ورکړه او غټ منصب او جاګير يې هم ورکړ او د خپلې قبيلې سردار مقرر کړی شو.

د اورنګ زېب په زمانه کښې د ماليرسره د کوټلې په څمکه د بايزيد خان په نوم يوه آبادي جوړه شوه چې وروسته د ماليرکوټلې په رياست مشهور شو.

په جلندهر کښې او سيدونکي پښتانه لوديان، سوړيان او اورمړ دی. او د کرنال اوسيدونکي پښتانه د قندهار نه راغلي خلک دي چې په ۱۷۲۹ع کال کښې هلته ورغلي دي. په پاني پت او ارهيانه کښې اوسيدونکي پښتانه اکثر شېراني دي، دا د محمود غزنوي سره راغلي خلک دی او بيا چې شاه شجاع ماتې وکړه نو په ۱۸۴۴ع کال کښې نور ډېر پښتانه هم دغه علاقې ته راغلل او په ارهيانه

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پاني پت کښې د ېره شول.

د جهانګیر (مغلي باد شاه) په وخت کښې ،ځینې اپریدي د روښاني تحریک په تړ ر فرار شوي ، هغوی هم د غې علاقې ته راوستل شوي دي.

په مسان ډبنې او سید ونګو پښتانه اکثر ابدالي (ترین) پښتانه دي ، چې د اورنګ زیب په وخت کښې د قند هار نه د غلته راغلي دي چې په دغه وخت خمند پښتانه د غلته بنه په زور کښې وو.

په ۱۷۹۴ع کال دُرانیانو نواب محمد خان سدوزی په دېروکښې ګورنر مقرر کړو ، نو د هغه سره نورې پښتني کورنۍ هم ملتان ته ورغلې ، داخلک علي زي ، اسمٰعیل زي ، خاکوراني او خوجکزي وو.

په پنجاب کښې ډېر د کاکي زي ، ماموند ، ترکاڼي قبیلې خلک دي چې په جلندهر ، ګوجرانواله ، بټاله او سیالکوټ کښې اوسیږي ، چې په باجوړ کښې د کاکي زي قبیلې نه پاتې مسعود خېل ، ایسپ خېل عمرخېل ، سلیمان خېل او بادین خېل دي.

**په یوپي کښې** : د ۱۹۳۱ع کال د سرشمېرنې (مردم شماره) مطابق په یوپي او د هغه متعلق ریاستونو کښې پنځه لکه او اتیا زره (۵۸۰۰۰۰) پښتانه .یوازې په مراد آباد کښې وو ، چې اکثر په کښې یوسفزي ، اپریدي ، بنګښ ، غوریا خېل ، کاکړ او لودي وو ، او په رامپور کښې پنځه زره اورکزي هم وو چې کرلاڼي پښتانه دي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په میرټهر د وېژن کښې څلوېښت زره پښتانه وو، چې زیات د سهارنپور په مشرق او د مظفرنگر په مغرب کښې استوګن وو او د سرد هنه غازي آباد او هاپوړ د دوی مُهم مرکزونه وو. او د اکبر او شاه جهان په وخت کښې بیا څنې شدانی پښتانه په علیګړ او بلندشهر کښې استوګن کړې شول.

په یرونسمه عیسوی پېړۍ کښې داود ه هم په څه ضلع کښې پښتانه او سیدل او په هر دوی کښې هم دعوی یاده ده کړ شته چې وائي موږ د علاؤالدین غوری په وخت کښې (۱۳۰۰ع) کال کښې دلته راغلي یو.

په (۱۶۵۰ع) کال، کښې د اپریدو د یوې کورنۍ په لکهوکښې مېشته شوي دي او څه وخت وروسته بیا قندهاري هم هلته تللي دي او آباد شوي دي او په اتلسمه پېړۍ کښې د یر پښتانه بهمرایچ او ګونډه ته تللي دي او کلي یې پکښې آباد کړې دي او په زیرین دوابه کښې فرخ آباد چې د بنګښو نوابانو پایتخت و، د یرو پښتنو قبیلو پکښې کورونه جوړ کړي او هلته استوګن وو، چې د بنګښو نه وروسته یوسفزي، غوریاخېل او اپریدی قبیلې پکښې هم وې.

بنګښو لومړی داورنګ زېب په وخت کښې په ۱۷۱۳ع کال د خپل مشر ملک حُسین خان په مشرۍ هغلته ورغلي وو، تر ۱۷۵۰ع کال پورې دوی بنه په زور کښې وو چې د هغوی مشرته د نواب خطاب

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ورکړی شوی ؤ. د ۱۸۵۷ ع کال د آزادۍ په جنګ کښې دوی له انګریزانو سره سخت جنګ وکړو، خو مات شول او نواب تفضل-حسین خان معزول شو او مکې معظمې ته لاړ. په ۱۹۳۱ ع کال په فرخ آباد کښې پښتني آبادي شل زره (۲۰۰۰۰)، ته وه او په همدغه کال ۱۹۳۱ ء په اوده کښې یو لک اتیا زره (۱۸۰۰۰۰) پښتانه وو. په دغه وخت کښې په یوپي کښې تقریباً (۲۷۰۰۰) اووه ویشت زره لودي پښتانه پل ته(۱) وو. دوی په پنځلسمه (۱۵) عیسوي پېړۍ کښې د ډيلي او یوپي ته راغلي وو او هلته مېشته شوي وو. وروسته یې بیا د ډېر طاقت وموند چې په نتیجه کښې یې لوی حکومتونه تشکیل کړل. د لودیانو او سوریانو په وخت کښې نور پښتانه هم هند ته راغلل او په سرهند، اګره، سیهسرام، بنارس، میرزا پور، غازي پور، بکسر چنار او نورو ځایونو کښې مېشته شول. په یوپي کښې کاکړ-ډېر دي، په بلند شهر کښې په (۹۶) ځایونو کښې د ولس ځایونه دوی نیولي دي، او په خورجه کښې یې اکثریت ملي شوی دی. په فتح-پور کښې د پښني "قبیلې څلور طائفې" د ریاخان، یوسف خان، مظفرخان او موسیٰ خان آباد دي.

---

(۱) پښني په اصل کښې د غورغشت زوی دی.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په بهار او بنګال کښې:

په ۱۹۴۰ع کال کښې دغلته له درېڅو لکو (۳۰۰۰۰۰) نه ډېر پښتانه اوسېدل، چې د مغوی اهم مرکزونه پټنه او بردوان او ډهاکه وو. او په کلکته کښې پنځلس زره (۱۵۰۰۰) پښتانه استوګن وو. په کلکته کښې اکثر پښتانه یوسفزی، اتمان خېل او پني وو.

## په راجپوتانه کښې:

په ۱۹۴۰ع کال کښې په راجپوتانه کښې یونیم لک پښتانه اوسېدل چې دغلته یې ریاست په ټونک کښې هم وو، چې نواب امیرخان یې باني ؤ، داخلک یوسفزی، سالارزی او الیاس زي وو، او د جهانګیر په امر څه اپریدی هم دغلته راغلي وو.

## منځنی (وسط) هند:

د غلته پښتانه هرچېرته آباد وو، خو اکثریت په ګوالیار، بهوپال او مالوه کښې وو. د بهوپال نواب حکمران فیروزخېل، د ولتزي او ورکزي وو.

د دغه سلطنت باني دوست محمد خان ؤ، چې څه وخت د اورنګزیب سره هم نوکر ؤ. په ۱۹۳۰ع کال کښې په ګوالیار کښې اته پنځوس زره (۵۸۰۰۰) او په بهوپال کښې څلور دېرش زره (۳۴۰۰۰) او په مالوه کښې لس زره (۱۰۰۰۰) پښتانه اوسېدل.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حیدرآباد ریاست:

د ۱۹۴۷ع کال نه مخکښې دغلته دوه لکه (۲۰۰۰۰۰) پښتانه پراته وو.
دکن ته لومړی وار په ۱۲۹۵ع کال کښې پښتانه د علاؤالدّین خلجي سره ورغلي وو، خو مېشته شوي نه وو، په ۱۳۱۱ع کال کښې خو وخت چې د دیوګړهه راجه ووهلي شو او دغه علاقه مسلمانانو و نیوله نو پښتانه هلته ورغلل او آباد شول او چې په ۱۳۴۷ع کال کښې د حسن ګنګو په قیادت کښې په دکن کښې انقلاب راغی او د بهمني[1] سلطنت بُنیاد کېښودی شو، نو د فوځ د پاره د پښتنو ضرورت ؤ. نور پښتانه هم ورغلل. دغه وخت په دکن کښې عرب، ایراني، حبشي او مُغل هم وو، خو پښتنو خپل انفرادیت پکښې ساتلی وو او د خپلو پښتنو نه پرته یې د بل چا سره رشته او خپلوي نه کوله. او په دکني فوځ کښې د پښتنو خامې د ستې وې او دامن او امان ساتل د دوی په غاړه وو، دا پښتانه قبایل، مسعود، یوسفزي، کاکړ او اپریدی وو. او نور هم لږ و ډېر پښتانه پکښې ورغلي وو.

## په بمبیئ او بړوده کښې:

ګجرات او مهاراشتهمر ته پښتانه په فوځ کښې او په سوداګرۍ ورغلي وو، وروسته په بمبیئي، احمدآباد او بړوده کښې د دوی خوځلي ودانۍ شوې. دغلته د دوی ریاستونه جوناګړ، منادا دو

---

[1] بهمني هم پښتانه دي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او جاوره وو.

د جوناګړ حکمرانه کورنۍ بابي خېل یوسفزي وو.

په ۱۹۳۱ع کال کښې په بمبئي کښې یولک شپږ ویشت زره (۱۲۶۰۰۰) پښتانه استوګن وو او په بړوده کښې شپاړس زره (۱۶۰۰۰) پښتانه استوګن وو.

## په مدراس کښې:

په مدراس کښې په ۱۹۳۱ع کال کښې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) پښتانه وو چې د تجارت او د قرضه کاروبار به یې کولو.

## د جیسور په ریاست کښې:

په جیسور کښې په ۱۹۳۱ع کال کښې یوولس زره (۱۱۰۰۰) پښتانه وو او د تجارت او کرکیلې کار یې کولو او په اسام کښې اووه زره (۷۰۰۰) پښتانه او سپدل چې اکثر په سهلټ کښې استوګن وو.

## د کشمیر په ریاست کښې:

په ۱۹۳۱ع کال کښې د غلته د نهه ویشت زره (۲۹۰۰۰) نه ډېر پښتانه استوګن وو. په دې کښې هغه اپریدي هم وو چې جهانګیر باچا هند ته فرار کړي وو.

په ځینو روایاتو کښې راغلي دي چې بجړی، تراه خېل، پلندري پونچه، اجره، او نورو کښې سدن قوم په اصل کښې سدوزی دی چې د احمدشاه بابا په وخت کښې د غلته راغلي او آباد شوي دي.

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په برما کښې:

په برما کښې پښتانه دکابلي په نوم یادیږي په ۱۹۳۱ع کال کښې دغلته د پښتنو آبادي څلورنیم زره (۴۵۰۰) تنه وه.

د پورتنۍ اندازې نه معلومیږي چې د پاکستان له جوړېدو نه مخکښې پښتانه له کشمیر نه نیولې تر راس کماري پورې خواره شوي وو او د دُنیا نورو ځایونو ته هم ورغلي وو.

د جنوب شرقي آسیا ځینو ملکونو، استرلیا او د امریکې کالفورنیا ته هم پښتانه تللي دي، او هلته ودان شوي دي.

په ایټالیا او نورو یورپي ملکونو کښې هم پښتانه استوګن شته دي، چې څوک ورته پیټهان، څوک ورته افغان او څوک ورته کابلي وائي.

د پاکستان له جوړېدو نه وروسته ډېر پښتانه د شرقي پنجاب او یوپي نه پاکستاني پنجاب او سندهـ ته د مهاجرو په توګه راغلي دي او ودان شوي دي، نورو ملکونو ته هم د خوارۍ، مزدورۍ د پاره د نورو پاکستانیانو په څېر پښتانه هم ورغلي دي او هلته آباد شوي هم دي. خلیجي ملکونو او منځني ختیځ (مشرق وسطی) ته پښتانه د مزدورۍ د پاره تللي او داچې هلته داوسېدانې امکان لږ دی نو آباد شوي نه دي.

دا هغه معلومات وو چې ماته په لاس راغلي وو نو دلته مې

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیکل، همدلته دا کتاب ختمیږي، او په ډېر ادب او احترام یې ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوم.

م، ج سیال مومند
نومبر، ۱۹۸۵ ع کال
عقرب، ۱۳٦۴ هـ.ش کال
"کوړاخېل، مومند"

Greater Afghan Library
@Greater_Afghan_Library93
@Greater_Afghan_Library_Group
Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library

This Book is Scan & PDF By:

KITABOONA BLOGSPOT.COM

Kitaboona.BlogSpot.Com

Visit Us For Books

Kitaboona.BlogSpot.Com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ دے مصنف چهاپ شوی آثار

## م. ج سیال تصنیفات

(۱) مومند بابا ؒ
(۲) د مومندو غزاګانے
(۳) د پښتنو قبیلو شجرې
(۴) افغانستان کښې مهمې تاریخي پېښې
(۵) په نولسمه پیړۍ کښې دافغانې تاریخ څۀ برخه

1, 2, 3, & 4 Books are available on:
Kitaboona.blogspot.com

Kitaboona.BlogSpot.Com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**